ياعيالي

٧ بيتهاك

٢٠ بيتنا

دپښتو ټولنې دخپرو نو پرله پسې لمبر : (۱۹۵)

دخوشحال

رباعیات

PROPERTY OF
ACKU
1677

پښتو ټولنه

دادبیاتو څانګه

زمږی ۱۳۴۹ ش دچاپ شمیر : (۱۵۰۰)

دتوری او قلم خاوند خوشحال خټک

بسم الله الرحمن الرحيم

(۱)

اولاد چه ښه شـــی راحت دزړه کـــا
او لاد چـــه بد شـــی ښه مورپلار پرې کا
او لاد چـــه بنـــه شـــی بد مور پلارښه کا
او لاد چـــه بد شـــی رنـــځور دي زړه کا

* * *

احمـــق چه و پوښتـــي خپل زړه زبا ن کا
په ویل گډ شی ویـــل شـــان شان کـــا
هرڅـــه په ز ړه کښـــي څه نیك وبدلری
هـــغـــه بـــه واړه درتـــه بیـــا ن کـــا

* * *

بي له بند گی د ي بند ه نور هیڅ نه کا
پـــه لږ په ډیر دي له څښتن پیچ نـــه کا
که يي و مـــر گك ته پـــه قهـــر کـــا ږی
بنده‌دي تړښته دڅښتن‌له قلپچ (۱) نه کا

* * *

پا ینښت يي لنډوی چه څوك لبا س کـــا
مخ به يـــي تور شـــی چه کوز او پاس کا
په شان شان خولي دی شان شا ن‌خبري
نا دان چه وایـــی هوښیار قیا س کـــا

---

(۱) قلپچ = توره .

پلـو کـه بنکلـي لـه مخه لیـر ي کـا
را تـــه پـه مهر خنـدا خبـر ي کـــا
مـابـــه تـوانـگر کـا د لـعلـــو درو
هـم به را تو يي پر خو لي شکر ي کـا

* * *

پـه باغ کښي خلك په مېو ه شخوند کا
په خوله کښـي هره مـېوه خپل‌خوندکا
ترخه هـم بنه دی په دا جـهـا ن کښي
د خو بو قـدر تر خـه څرګند کـا (۱)

* * *

په ګل چـه هو مـره مينـه بلبل کـــا
سيـل دبلبلـو باند ي غـلغـل کـــا
دنيـا يستـه ؤ عا شـقا ن وېـر د ی
عـا لـم بـه ولی احـداد دګـل کـــا

● ● ●

توره چـــه بيا مو می غـا زی غـزا کا
تـو ر ه چـه نـه و ی غـزا ته شـا کا
تو فيـق لـه تا نه تقـوا لـه مـا نـه
تـو فيـق چـه نه وی څوك به تقوا کـا

* * *

ته قهقـه خا نـد ه عا شـق که غم‌کـا
غـم کا بـي تا نـه تل تل ما تم کـــا
يوسف که هر څو څه بنه نوميـزی(۲)
به بـه يـي چېر ي نه تا عـا لم کـــا

---

(۱) دپښتو ټولنې‌په دواړو قلمی نسخوکښي دامصرع داسې‌راغلې‌ده:
دترخو قدر خوازه څرګند کا .
(۲) په دوهمه قلمی نسخه کښي (نومړشی) راغلی دی .

چه په ځوانۍ کښې پر هېز د کـك کا
کـه اد مـزاد و ی کـار د ملـك کـا
پر هـېز پيـر ی لـر ه پـه کـار د ی
تـش د ې پـه وخت د ځوانۍ زړه ډك کا

* * *

چه خاند ی نوارو و تـه کتـل کـا
ژا ړه خوشحا لـه دا خوی که تل کـا
ستړکـې يـې نه دی دواړه قصاب د ی
چـر ې په لاس کښـې واړه کو تل کـا

* * *

چه ډېر د خول کا يـا ډېـر خورا ك کا
چـه ډېر ويل کـا ځا ن به هـلا ك کـا
دخول ډېـر خر کا خورا ك ډېر ستورکا
په سړی‌هوښ کښې‌دې سړی خپل‌ژواك کا

* * *

چه طبيبا ن مـې در نـځ در مـا ن نه کا
ارنـځ مې که ډېر شی بيا دې ار مان‌نه‌کا
کفر که ګـورې فـر مـا ن دنفـس دی
مو من بـه هېچېر ی دنفـس فرمان‌نه‌کا

* * *

چه طبيب يـې د ز ړه پـه زور کـا
دا رو يـې درد شی ځـا ن دپېـغور کا
دور څه نور شـو کـه څه بـلا شـو ه
د شهـسوا ری لا پـی خر سـوار کـا

* * *

چه عا شقـی تـه هوا هو س کـا
خپل ځا ن دې ژا ړی خپل ځان دې‌خس‌کا
چه عشق مـې و ليـده پر ې‌خندا راشی
چـه عا شقـی تـه هوا هـر کس کا

چه کښېښـــی ستا نه د زلفـــو راز کـــا
هغـــه د ې فکـــــر دو رو درا ز کـــــــا
که هر څونا ز کړ ې ناز به دې زه وړم
دښکلیـــو دود دی پـــه عا شق ناز کـــا

* * *

چه (۱) لـــه حرا مه سړ ی نفر ت کـــا
خدایی به یې (۲) ارت حلال نعمت کـــا
هـــو مره بـــه لو یـــې مر تبـــې مو مـــی
چـــه دنیـــا نو ســـر ه صحبـــت کـــا

* * *

چه نو کری کـــا څو ك ډېر ګنده کـــا
ســـړ ی آزاد و ی خپل ځـــا ن بنده کا
تر آزاد ی نـــه بـــهتـــر هـــیڅ نشتـــه
چه څوك په‌کور کښې خپله(۳) دنده کا

* * *

ځان بـــه پـــه قدر هغـــه فر زند کـــــا
چه چـــار ې وا ړه د پـــلار پسنـــد کـــا
رو ش یـــې وا ړه د پـــلار رو ش و ی
خپـــل نو م تر پـــلا ره نیکه بلنـــد کـــا

* * *

ځینـــې په علـــــم ګـــر د ن د راز کـــــا
ځینې پـــه زهد پـــه شیخی نا ز کـــــا
ما سر نیو لی د عشـــق پـــــه کار د ی
ما دې پـــه دا کښـــې خدا ی سرفرازکا

---

(۱) په لومړی قلمی نسخه کښې (چو) راغلې ده چه خټك یې د(څـــو) پرځای وایی .
(۲) په دوهمه قلمی نسخه کښې د (یې) پر ځای (پرې) راغلې ده .
(۳) په دو همه قلمی نسخه کښې (ځان دهنده‌کا) راغلی دی .

څينې يوه کا څينـې دوې در ې کـــا
پـه انځو رو نـو کـښېد ې سرې کـا
ددنيـا خلـك يـار ى يـار ى کـړ ى
چـه سو د يـې نه وى ياړى يې‌پرې کا

* * *

څو دې زړه خاند ى خو له د ې خنـداکا
چـه زړه دې ژاړ ى سترګـې ژړا کـا
مدار د هر ې چـار ې پـــه ز ړه د ى
زړه دې مـفتـى دى هـره فتـوا کـــا

* * *

څوك چه بد ذات ته علم هنر و ر کـــا
خو نى ارهز ن تـه توره خنجر و رکـــا
دځـا ن غليم به دګرګ بچـړ ى سا تى
خپل به يې نه شى که خپل څيګر ورکا

* * *

څوك چـه له خلکـه شور و غو غـا کـا
نا دا ن حريص دى هغـه چـه دا کـــا
چه عا قـلان د ى چـه صا بـرا ن د ى
هغـه بـه کله جنجـا ل لـه چـــا کا

* * *

څيز چه کمياب شـــى عز ت پيـدا کـا
زنګـــى په هنـــد کښې قيمت پيـد ا کا
حلو ! چـه مو ړ خو رى لذ ت يـې نه‌وى
دوډى په و زى لـذ ت پيـــدا کـــا

* * *

خاص به له عا مـه اختـلا ط کـم کـــا
کـــه کا بد کـار کا پـه ځان ستم کا
پرانـګ چـه ګيد ړ و سر ه جار و زى
خپل ځان په خپله له ګيد ړ سـم کـــا

خو شحا ل چـــه تشه مينه په بل کـا
تر حلــق (۱) به پور ته خا لی ویل کا
خدای يې و ر پر پرده يو هسې يار لر ی
پـــه قهر راشی ور ته ښکنځـل کـــا

* * *

دا پند د ې هر څوك سره سند کـــــا
هوښيار به نه و ی چه څو ك حسد کـا
همراه چـه ښه و ی بـد ســړ ی ښه کا
همراه چه بدو ی ښـــه سړ ی بـد کـا

* * *

دباغ ګلو نه عجـب نـــما ی کـــــا
ځينې غو ړ پـرې ځينې آی آی کـــا
سوسن تـه ګـو ر ه پـه هر ه ژبـــه
بـې حر ف و صو ته ثـنا د خدا ی کـا

* * *

دا ور دتيغ سره دې سړی بازی نه کـا
له مار لړ م سره دې مهم سا زی نـه کا
چه نه تد بير لر ی(۲) نه جود نه تـوره
هغـه سړی بـه سر فراز ی نـــه کـا

* * *

ډير دی چه تا ته خپل ځا ن ملـك کـا
په ښو خبـر و ځان پـــه فلـك کـــا
نعو ذ با الله چـه ښه يـې ځير کـړ ې
شيطا ن تر ځـان پو ری لکه کود ك کا

---

(۱) په دو همه قلمی نسخه کښې دا مصرع داسی راغلې ده :(ترحلق په پورته چا ته ويل کا).
(۲) په دوهمه قلمه نسخه کښی (کوی) راغلی دی :

ډېر ډېر فکـرو نه چـه آدم زاد کـــا
عقـل يـې ولاړ شی جنو ن بنیاد کـا
چه ډېر درو غ وایـی فسق فساد کـــا
خپل ځان پـه خپله پـه بلا یاد کـــا

* * *

زر دی چه زېر مـه دننګ و شر م کـا
صحبت د هر چـا و بله ګر م کـــا
ډېر ګرا ن کا رو نه پـه زر اسا ن شی
زر پـه فو لاد کښېږد ه فولاد هم‌نرم‌کا

* * *

زر دی چه هر چا ته اعجاز معلو م کـــا
معدو م مو جود کا موجود معدو م کـــا
وینځه مـېر من کا خا دم مخدو م کـــا
زر په سندا ن‌کښېږ ده سندان‌هم موم‌کا

* * *

ژاړه خوشحا لـــــه که تل دا دو د کـا
چه پېچمې (۱) ستا په مینه منبو د کـا
چه را ښکاره شی په خوب و خیا ل‌کښې
(۲)خواشینی زړه مې په دا هم سود کا

* * *

ژوند ی که هر څو ژړا غـو غـــا کـــا
مړه کله بـېر ته را تلنه بیـا کـــــا
سکه لکـه دو د ژونـد یـو څـه د ی
دی دې په صبر کښـې کار ددنیـا کـا

---

(۱) پېچمې = تمسخر .
(۲)په اوله قلمی نسخه کښې «بځن» راغلی دی ، چه دغمجن‌معنی ورکوی .

سړ ی آزاد وی آز یې بنده کا
بنده لا پر پښ ده لا یې ګنده کا
هو مړه خوارپښ ی څو آز دز ړه لر ی
په څو څو رنګه یې بیا شر منده کا

* * *

سړ ی دنیکو عمل ار شد کا
دا یې ها له وی چه بخت مدد کا
چه بخت یې بنه و ی عمل هم بنه کا
چه بخت یې بد و ی عمل هم بد کا

* * *

سفله په خپله خپل ځا ن رسوا کا
چه د و لتمن شی غیر ي هوا کا
سفله قا ضی مه شه شراب دوا کا
سفله طبیب مه شه رنځ لا د وا کا

* * *

سپلا ب په څو څاڅکی غړ پرپیداکا
بنیاد یې نشته غړ پر په داکا
چه لوی وی نور یې صفت ثنا کا
د ریا ب چه لو ی و ی کله غو غا کا

* * *

شوده چه رغا ند ی ثنا ددو غ کا
هر څو ك پو هیږ ی چه دا درو غ کا
فر ق دو یلو خبر و ډپر د ی
و کیل چه بد و ی رو غ کارناروغ کا

* * *

شیخا ن چه هسې او ږ ده نمو نځو نه کا
پکښې با غو نه اسو نه جو نه کا
پکښې رنګین رنګین ګنډګین ورښمین سکنی
پکښې د سپینو دسرو ګنجو نه کا

شیخا ن چه هو مره بند ګی طا عت کـا
که اجر غـوا ړی څـه قـبا حت کـــا
هغـه بند ه بـه نـا بـو د بنـد ه و ی
چه به پـه طمـع دځښتن خد مت کـا

* * *

طمع بـلا ده اصیـل بنـد ه کـــا
بنده بنـه سړ ی و ی دا یـې ګند ه کـا
ما ډېر لید لـی د ی چـه تمه نه لـر ی
په باد شا ها نو پو ري خند ه کـــا

* * *

عاشق دې هېڅو ك مـلا مـت نـه کـا
زړه یـې خپل نه دی و یل دې څـه کا
او ر یـې د عقل پـه خو نـه ولـګـی
چه ددلبـر ې ستر ګـې تر زړه کـــا

* * *

غنی که هر څو د زر و وېـش کـــا
پـر وا پر ې نه لر ی صبر در وېش کا
دا صبر بنـه د ی د غنی تر ور کـړ و
صبـر به نور نور نعمـت در پـېښ کا

* * *

فلك کجرو د ی کـا رو نه کـج کـــا
دا نـا پـه غـم کښې کا نا (۱) فرج کا
دصا فـو میـو پـیا لـې درو څښو ی
بیا پکـښې هو مره خمار مز ج کـــا

قابل که تښتی دو لت تـه شـــا کـــا
دولت یـې مخی ونـه راتـله بیـا کـــا
بـدر هـلا ل شی هـلا ل شـی بـد ر
په کم و کا ست کښې کله پر وا کـــا

---

(۱) په دواړو چاپی نسخو کښې دکانا پرځای نادان لیکل شوی دی .

قا ضی چه او م وی بـې علمه کار کـــا
هــم خپل ځا ن خوار کا هم خلك‌خوارکا
غلط غلط لــولــی خــطا خطـــا وا یـــی
وسل لعنت ته خپل ځا ن تیــار کـــا

* * *

که بد خوا ها ن د ې بنبر ې غو غـــاکا
لا دې یې ډېرې په هــر سبــا کـــا
خوشحا لــه غــم د بنبــر و هېڅ مه‌کړه
ســل کــه بنبیــری کــا دوه سو د عا کــا

* * *

که څوك پیــدا شی چه عد ل و داد کـــا
غوږ د درد منــو په داد فر یــاد کـــا
چه مقر ب د ی عــر ض یــې لــګیــږ ی
عمر یــې ډېر شه خوشحا ل د ې یاد کا

* * *

که وا ړه خلك ثنــا د خــدا ی کـــــا
نور هرڅه پر پرږ دی‌خودا (۱) های های‌کا
ثنا یې ډېره ده تــر حــساب تــېر ه د ه
څو ك به یــې کو مه ثــنا په ځا ی کــا

* * *

که هر څو سعی کوښښ څو ك و کـــا
نه به بنبه بد کا نه بــه بــد بنبــه کـــا
وایی چه زوی مــی هو بنیار قابل شــی
چــه خدا ی یــې نه کا خوشحال به‌څه‌کا

---

(۱)په دې واړو چا پې نسخوکښې (دی) لیکل شوی دی .

ګل چه په باغ کښې جا مه رنګينـــه کـــا
څو چه تاز ه وی بلبل پر ې مينه کـــا
په ښه صورت سره په ښه نګهت ســـر ه
ګل د بلبلـــې ميـــنه مـــتيـــنه کـــــــا

* * *

ګنـــی بنـــد بـــند کا و تا شکر در کـــا
سر د صد ف پر پکړ ه وتا ګـــوهردرکا
بتـــر تر کا نـــی مه شـــه خوشحا لـــــه
کـــانـــی چـــه و سپز ی و تا تـــه زردرکا

* * *

لقمه حـــرا مه نـــطـــفه نا پـــا ك کـــــا
فرزنـــد چـــه وشی چا ړې بې با ك کـــا
تقو ی پـــه دوا ړه کو نه لـــوی کار لر ی
په هر هر کار کښـــې خو افر حنـــا ك کا

* * *

لو يی هغه ده چـــه يې لو ی خدای و رکا
لويی هغه نه ده چه يې کتخدا ی و رکـــا
لويی له خدا يه د ه نه لـــه هما يـــه د ه
دخدا ی په حکم سيو ری هما ی و رکـــا

* * *

لينده هغـــه څکوه چه مټ دې خوږ نه کا
بنـــځه هغه کوه چه زور دې لږ نه کـــــا
دهغې غوښې کباب پـــه خولـــه مـــه کړ ه
چه په سکرو يـــې قطره ځږ بږ نه کـــــا

* * *

ما ډيـــر ليد لی د ی چه نر دشطر نج کا
ځينې شطرنج کا ځينې صدرنج کـــــــا
ځيـــنـــې نتـــلـــی ددو ويـــك د ی
ځينې ذو قـــو نه پـــه شش و پنج کـــــا

ما وې نن شپه به را سره تېره کـــا
را تـه به شمع دمـخ بـر سـېر ه کـــا
سنګين مـې بخت ؤ چه در سته شپه يې
وعده دو صل له دلـــه هېره کـــا

* * *

مخ چه په پسو ل سره و تا ته زېب کـا
ګنډه يـو ټک و ی مکر و فرېـب کـــا
مخ هـم هغه ګنډه چه پسو ل يـې نه وی
تا خت دې په دين ؤ په دل شکېب کـا

* * *

مر دان نـن جنګ کـــا اشتـی سباکا
چه سره کښېـنی صلـح و صفـا کـــا
څو يـې ژړا و ی هو مر ه خنـــدا و ی
څو يـی جفا و ی هـــو مر ه و فـا کـا

* * *

مر د بـه د تـېر و چا رو ار ما ن نـه‌کا
رنځور چه و مر ی څو ك يې در مان‌نه‌کا
مردان هغـه دی چه شر م ننـګ لر ی
لاف دې د شـر م دا بـې شرمان نه کا

* * *

مغرو ر په چرخ مه شه که دې سلطا ن‌کا
زبو ن د چر خ مه شـه که دې‌چوپان کا
خوا ږه تر خـه يـې بقـــا هـېڅ‌نه‌لری
نوی نقـشو نه پـه هر زما ن کـــا

* * *

نا مرد هغـه د ی چـه و چا څه ور کـــا
منت د پـاسه و ربا ند ې ز بـر کـــا
په رنـځ کښې و مر ه هغه دارو مه‌خوړه
چه پـه منت يـې و تا څو ك در کـــا

نـوری نـو ری سـره موا فـقنت کـــا
ناری نار ی سره مـوا صلـت کـــا
توتـی تو تـی سره مـوا نست کـــا
زاغ د زا غـا نـو سـره الفـت کـــا

* * *

نه سر داری و رکانه زر دا ری(۱) ورکا
نه لوی ملکو نـه او بـه جار ی و رکـا
چه له از له خـدای څو ك نـمنځلی د ی
هغو سـړ یو تـه خدای هوښیاری ورکا

* * *

ورځ چه کږه شی خدا ی د ې امـا نکـا
دا هسې فضل مګـر (۲) سبحا ن کـا
چه لکه سمه وه بیا هسـې سمـه شی
فکر دې هر څو ك سره پـه څـا ن کـــا

* * *

وخت د قیا مت د ی حذر لـه هر چـــا
پـر پکړ ه خو شحا لـه با ورلـه هر چا
ورونـه که زو یـه د خپـل غر ض د ی
په کار کښې لـښی تټـر لـه هر چـــا

* * *

وګړی وا ړه کا رو نـــه خپـل کـــا
مر دا ن هغـه دی چـه کار د بل کـــا
څو ك چه آرا م گټـی دنیکـو نا م گټی
دخو ږو ز ړو نـو دا رو بـــه تـل کـا

---

(۱) دپښتور په دواړو چا پی نسخو کښې (زرکاری) راغلی دی.
(۲)په دو همه قلمی نسخه کښې (دافضل‌هسی) لیکل‌شوی‌دی.

هغه باز چه په عصفور (۱) غـوتـی کـا
که دی څـه باز د ی کار دبا ببی کـــا
دبزر ګـا نـو همـت بلنـد بـو یـه
کـار دی پـــه قـدر د مـرتبـی (۲) کـا

* * *

هندو دقندو و ز ن پـــه تلـــو کـــا
خو شحـا ل یـې ګو ره تر لب و تلـو کـا
شکر ې و خو ری مـز ه یـې و لاړه شی
خو زې خبـر ې لـذ ت تر تلو کـــا

* * *

هوښیار بـه هچـیر ې بې ځایه‌کار نه‌کا
هم به بې وخته دخولې ګفتار نه کـــا
په خوله په لاس به هیڅو ك آزار نه کـا
چه بد کر دار و ی هغـه به یار نـه کا

* * *

هوښیار به هیڅکلـه ویل بـاطل نه کـا
هـم هـر یو چا تـه درا ز و یـل نه کا
دژبې ځای به یـې ننه په زړه کښې و ی
دز ړه بې حکمه بـه خبـر ه تـل‌نه کـا

* * *

هوښیار به مینه په ور مو نو زیا ته کـا
ور مو نـه و ایم کـه څو ك مـخ راته کا
محتا ج دنـوارو نو رو نغـر یـو شـــی
سړ ی چه خپله کټو ه ما تـه کـــا

---

(۱) عصفور = چرچنه .
(۲) دپښتو ټولنې په دواړو قلمـی نسخو کښې دارباعی نشته .

هوښیار په خپله و رته ځا ن.پر کا
نا دا ن و رځی په قا ضی غړ پر کا
که دولتمن وی چه نا انصا ف و ی
په وړ ا ند ي ورو سته ځا ن دکپړ(۱)کا

* * *

یو چه ربښتیا کا دو یم (۲) درو غ کا
عجب که کار په د رو غو رو غ کا
ربښتیا غو ړی دی درو غ متیا ز ي د ی
څراغ په غو ړ و سر ه فروغ کا

* * *

یو مو تی خا وري زیبا صورت کا
ز ړه یي کښو ړ ه دمعر فت کا
ګویا یي ژبه په خپل صفت کا
بیا یي له خاو رو سره لت پت کا

(ت)

تیرا مي و غو ښت رسم مي و کو ت
رنځ می دواړو ځایو نو ولوت (۳)
یم دی که غم د ی په بر مو ل کښې
په ګرو ل مي پو ستکی و خو ت

* * *

ستا تر چشما نو خما ر دمل کښینا ست
ستا تر خبرو زغ دبلبل کښینا ست
چه دي رخسار ه و رته ښکاره کړ ه
ځکه په سپینو خولو کښې ګل کښینا ست

---

(۱)کپړ مات خاو رین لونبی .
(۲) په دو همه قلمی نسخه کښې د (دویم) پر ځای(بل چه)لیکل شوی دی .
(۳) دکامل په چاپی نسخه کښی د(ولوت) ترجمه (بیاموندنه لیکل شوي ده .

دهند له تخته شـــاه جهـا ن پر يـــو و ت
غم په هرلوری په درست جهـا نپريووت
دهند پەتخت چه عالمګير کښېښنا ســـت
په خلکو کانې دشنه اسمان پـــريوو ت

* * *

غم دی کـــه غر دی را با ندې پـــر يووت
که سرې لمبـــې دی زړه مې پرې کښېښوت
راباندې تل تـــل دغم تا ختـــو نـــه د ی
ز بو ن يـــې بيا موند م خـــورا پسې‌ووت

(ړ)

خواړه د مهـــر و ی خوا ړه د ز هـــــر
و ريـــځ در حـــم و ی و ريـــځ د قهـــر
ځينـــې و ريـــځـــې وا ور ې او بـــه و ی
ځينـــــې ب لـــی تنـــد ر د د هـــــر

* * *

دمار کـــــه نه و ی پـــه تن کښې ز هر
سر دار کـــه نه لـــر ی خنجـــر د قهـــر
دا دوا ړه تو کـــــه بـــــه ز ما په پو هـــه
نه ياد پـــــه کلی و ی نه يـــاد په بنسهر

* * *

دين دی کـــه دل کـــــه عقـــل ، صبـــــر
لـــه ما يـــې يو و ړل وا ړ ه پـــــه جبـــر
اوس را تـــــه پا تـــې دا يو نفـــس د ی
دا بـــه هـــــم يـــو ســـی بچـــی د ګبـــر

* * *

که قا يم اللـــيل يی کـــه صائـــم الد هر
غم به لا ړپـــر کړی د خـــــدا ی د قهـــر
دمخـــلصا نـــــو خطـــر لا ړ پـــــــر د ی
سړی شکـــر ې خو ری په‌کښې وی زهر

(۲)

پلار يـــې په بند ورور يـــې بند بند کړ
ځان يـــې هـــم شيخ کړ هـــم دانشمندکړ
اوس په غزا کښې خپل ځا ن غازی بولی
په څو څو رنـــګ يې خپل ځانځرګندکړ

* * *

ته ولاړيدرنګ ته خپلځای دېدرنګـــکړ
په درنګ دې ولې دا هومره درنګـــکړ
ستا په فرا ق کښې لکه نا رنـــج شو م
غم د ې هـــم چـــېر ې ز ما د رنګ کړ

* * *

چه کنګه (۱) پېغله شوې کبر دې ډېرکړ
خصلت دې واړه پـــه بل بـــل پېر کـــړ
چه سپينه خو له د ې و رتـــه نو مړې وه
هغـــه دې و لـــې لـــه دلـــه هـــېر کـــړ

* * *

خپل ځان يـــې روغ کړ يار يـــې بېمارکړ
يو څه بنـه يار دی خو شحالچه يار کړ
لايو نا تر س دی يا يـــې يار ی نـــه زده
يا يـــې په کار نه دی ترځان يېځار کړ

* * *

خوار ز ړهمېواخيست په تامې باندې کړ
تر ډېرو ډېرو اندېښنو مې لاندې کـــړ
ستر ګې دې باز دی ز ړه مې تنز ر ی دی
خلاصی يې نشتهاوس يېدوړاندې کـــړ

---

(۱) دنګه ، لوړه .

در خو هوښیار ه وځان یې نادان کړ
نو م یې بد اصل د آدم خا ن کړ
تل یې د مور او دپلا ر پېغور تا په
په زړه یې مینه کار یې دا شا ن کړ

* * *

زو یو مې خو ی دختېکو نو ر کړ
زما په نقش یې پو ري سورا ور کړ
وخت د ګټنې د نا م و ننګ ؤ
بدو زا منو را څخه خو ر کړ

* * *

غا فل خوږ عمر په ځا ن ګنده پر کړ
امید یې لږ شو حسرت یې ډېر کړ
نه یې څه ور کړ ل نه یې څه واخیستل
عمر یې هسې ا بته تېر کړ

* * *

ماچه دا هسې دز پسې ځا ن کړ
ددنیا کورمې د ر پسې ورا ن کړ
دز په په حا ل مې واړه پو هیږی
ډېره هو ښیاره یې ځا ن دې نادان کړ

* * *

مخ دې له وړا یه را ته عیا ن کړ
اور د ې را پو ري په خا نما ن کړ
نظر دې هو ري په بل بل شا ن کړ
اشنا مې نه ګنې ځا ن دې نادان کړ

* * *

نادان په خپله دځا ن غم ډېر کړ
نا بودې پو هې سره تېر بېر کړ
هغه چه هېر بو یه هغه یې یاد د ی
هغه چه یاد بو یه هغه یې هېر کړ

(ق)

وخدای ته خوار د ی بهتر د خلق
له ځا نه پر ې کړه با ور د خلق
که خپل دخدای یې په حقیقت کښې
مو من د خدا ی شه کا فر د خلق

(ل)

چه دلیل لو وو هغه مې و لیدل
چه د خو پرلو وو هغه مې وخو پل
اخر کله کو ري دا وا پ ه هیڅ د ی
لکه مې و و یل هسی مې و منل

* * *

خانان یې واړه تلاو ت خوان کړ ل
دهند هند وا ن یې دانشمندا ن کړل
وخت دا و رنګ د ی عمل هیڅ نشته
خوکتا بو نه یې په عا لم ګرا ن کړل

* * *

دځان مې ولیدل اخوان مې و لیدل
یا را ن مې ولیدل دو ستا ن مې ولیدل
چه ښه مې ځیر کړ ل واړه سړی نه د ی
سګا ن مې ولیدل ددا ن مې و لید ل

* * *

را شه که ګو ري اهل نا اهل
یو ابو بکر (رض) ؤ بل ابو جهل
په ابو بکر محمد (ص) لمر ؤ
په ابو جهل تر سها (۱) سهل

---

(۱) یو ډول کی مشوری دی .

که لوی مـلا شي په نوستل لو ستـــل
آد م کـه نه شي لوستل دی نو ستل (۱)
ځيني لوستل کاځيني نوستل کـــــا
په شان شا ن کـېږ ی سبـق اخيستل

* * *

يا ران مي و لاړ ل تر خاورولاند ي شول
مونږ ه يې پرېښوو ترمونږ دوړاندي شول
په کوريې ورشم سپاندي پر ي و و ينـم
مګر ز مو نږه د پا ره سپا ند ي شو ل

(م)

اوس ز ه په خپلـي چاري خور سند يـم
ما ل ملـك مـي نشته زا هـد څرګندیم
خو دا عا لم مـي و ر پسې نه پـر پږدی
لا ځنـي نـه شلېږ م پـه قسمت بندیم

* * *

او لا د مـي ډېر دی منت د خدا ی لـرم
دوا ړو مهـر پـه ز ړه کښې ځا ی لر م
يو څو بد بخت دی زوا ل يـي زر شـه
دد وی لـه بد ه خو يـه ها ی ها ی لرم

* * *

* * *

بـل تـه شړ لـی ، لیږ لی تـا يـم
بیا پـه دا کـار کښې کـږ لـی تا يـم
چـــه ستا په نه دید د ځنکنـدن شو م
که مي ته نه و ژنـي وژ لـی تـا يـــم

---

(۲) نوستل = پاشیدن ، مګر په قلمی نسخو کښې لوستل دی .

پر پشا ن پـه څا ن کښې په ډېر حیرت یم
څه و م ذا څـه شو م په څه حا لت یـم
چـه تل مې څـا ي شو ل غرو نه رغونه
زه دا پـه چـا پسـې مجنو ن صفت یم

* * *

په خو ب کښې هر کله بو ی د دنیا و ینم
جر ګـې جنګو نـه هو س هوا و ینـم
مـګـر یـك لختـه ددنیـا سر ی یـم
چـه نه یو شیـخ وینم نه یو ملا و ینـم

* * *

په زړه کښې ستا دکوڅـې غبار لـر م
په سر کښې ستا د پیا لـې خمار لـرم
پر پشا ن د زلفـو بیـما ر د ستـر ګویم
زه دا دو ه تو کـه له تا یاد ګـار لـرم

* * *

په سر داری چه پـو هـیـد لـی یـم
سر دار ي غم ده تر ي تـر هیـد لي یم
ورځنـې و تښتـم پـه غا ړې غـرو نه
لا یـې تـر او سـه په غـم نیو لی یم

* * *

پـه غـم دې سـو ی لو غړ ت ز ه یـم
سبا بیـګا پـه او ښو او بـه یـم
دعشیق سپا ر ه د ي پـه ما هرانڈ کړل
په رنګ ز پلـې سو ی پـه ز ړه یـم

* * *

په غـم غمجن و م په خوب کړ مـن و م
خلا ص لـه غمو نو ستا پـه دیدن و م
په خوب په هسې رنګـه او ده شـو م
چه خلـك و ینې و ی زه پـه خفتن و م

پیر ی په ما را غله زه پې تا راج کړ م
زه پې محتا جو و تـــه محتا ج کـــړ م
رنځ دپیـر ی د ي بتـر بتـر شـــی
فا پـده پې گو مه چه پـې علا ج کړم

* * *

پیری پـه ما را غله زه پـې خراب کړ م
په پـیچ و تاب پـې دهر اسباب کـړ م
هر هر اسباب پـې لـه ما نـــه یو و ړ
فـا یده گو مه چـه پـیچ و تاب کـړ م

* * *

ترعین (۱) تهر شوم دا هسې زه و ینم
احو ل یو دو ه وینی زه یوا ووه و ینـم
ترڅې(۲) که ورشم غقد(۳) سبز کال دی
او وه به شـل و ینم دا کار زه بنه وینم

* * *

توبه مې وکـړه لـــه میـو پیـر شو م
پسر لی چـه را غی په زړه دلگـیرشوم
دگل په مخ مـې باده را وا خیـستـــه
بیا د خواتـی و گار تـــه خیر شـو م

* * *

چه جـدا شو ی یا را ن تر ز ړه کـړ م
لیمـه پـه دپر و ژ ړ لـو سره کـړ م
گنبینـم بیا صبر د خدا ی په کړه گړم
چـه صبر نه کړ م وایـ ـه نور څه کړ م

* * *

---

(۱) ع = ۷۰
(۲) څ = ۸۰
(۳) غقد = ۱۰۸٤

PROPERTY OF
ACKU
1677

چه څان ته ګو رم خـا ن ګنهـګار لـرم
دنفس لـه لا سه فریاد چخـار لـر م
حال مې به څه وی که استغفـار نـه وی
شکـر چـه ژبـه د استـغفـار لـر م

* * *

چه څان ته ګو رم لا هسې زو ړ نـه یم
چه څینو څینو چا ړو تـه جوړ نـه یم
چه غا بن مسې پرېو تل فساد را وشـو
که هرڅو غوښې خو رم په غوښې موړ نه یم

* * *

چه خپل عمل یاد کړ م خا وړې په سرلړم
ډ ك لـه ګنا ه تما م د فتـر لـر م
وخت دحسا ب را غـی بلـه تکیه نشته
تکیه دخدای لـر م د پیغـمبر لـر م

* * *

چه سردې خوږ شی ار ما ن ارمان کړ م
وایم چه رنـځ دې واړه پـه څا ن کړ م
څو دا جهان د ی هـو مره دې تـه و ې
که نه اور یو ډې پـه درست جها ن کړم

* * *

خالـق زما یـې پـه د ا پـو هـېږ م
حـکم دې حـق دی منـم کـړو هـېږم
چـه دې ظلو م او جهـو ل پیـدا کړ م
پـه بـه مـې نیـسې دا انـدو هـېږ م

* * *

خبـر د دهـر پـه مـکر د ړ وه شوم
دا څـه چه بنا د شم یا په اندو ه شو م
نه یـې بنا دی شتـه نه یې اندو ه شته
دوا ړه فساد دی چه بنه پر ې پوه شوم

خلك هو ښيار دی ز ه لـهو نـی يـم
نـه او سنـی يم لا نـر غـو نـی يـم
هغـه اچـه لا پـې د هو ښيـا ر ی کا
تشـې در مـې دی پکښې کنـی يـم

* * *

دا از مېښت ګو ره پـه مـا چـه زو ړشوم
له نورو چا رو په زړه کښې سو ړ شوم
زا پا تـې مينـه د ښـو د لبـر و د ه
چه زو ړ شو م لا يـې په عشق جوړشوم

* * *

داته يې ياره که دا زه خواب وينـم (۱)
داته يـې ياره که په شپه آفتاب و ينم
چه ستا د زلفـو تکهـت مـې و ليـه
مه تور عنبر وينم مـه مشکناب و ينـم

* * *

دا ډير فکرونه چه صبـح و شا م لړ م
چه فکر و کـړم وا ړه يې خام لـر م
خلك په مخ کښې داختيار خبـر ې کـا
فهـم مـې و کړ دا ختيـا ر نـا م لړ م

* * *

دايم کـه زړه لـنـه دلـبر و ونيسـم
پسې ړ نـد بـر م زړه به په څه نيـسم
څو مـې ژو ندو ن شته په دا دنيـا کښې
زړه به له ښکليـه مخـه و نـه نيـسم

---

(۱) دغه رباعي په قلمي نسخو کښې نشته .

دچا چه نـه وی د ستـــر ګـو شـر م
در ته به نـه وی په پنـدو نـر م (۱)
ځنـي اما ن غـوا ړ ه کـه دي پسرو ی
پلار وا لـی پر پکړ ه له بې آز رم (۲)

* * *

دچرخ له څرخه و څرخ ته ساز شـو م
نیاز من د هـر هر ناکس دنا ز شـو م
لکه په لا س د بې شنا ختـو کښېږو ځی
هسې بـې قـدره پر ما تـی باز شو م

* * *

دښکار په کار کښې ز ړه د ځوانی لر م
غـم د پیـر ی او نـا تـوا نـی لـر م
سترګـې هغه نـه دی قو ت هغه نه دی
چه باز پـه لاس کـړ م څو حیرانی لرم

* * *

دښکار په کار کښې کـه هر څو ښه یم
چه باز مـې ځا ن دی هغه یو زه یـم
په باز کـه هر څو قا زو کلنـګ نیسم
زیره مـې سپینه شوه‌میرښکارلانـه یم

* * *

زه تا پیدا کـړ م پـه دا قا یل یـم
که بیا مـې و ژنې د لګیر پـه د ل یـم
وایـې چه بیا به دې بـل ژوندو نوی
هـر چـه تـه وایـې زه په منل یـم

---

(۱) په دو همه قلمی نسخه کښی داسی ده (ورته‌به نوی‌پندونه‌نرم)
(۲) ازرم = شرم ، حیا .

زه په خپل ملك كښې خودا دوه(۱) دم لرم
بنايسته پردی ، نصر ت قدم (۲) لـرم
يوه مـې تـو ره دو يـم مـې ډا ل د ی
په دا څـو تـو كـه عرب عجـم لـــر م

* * *

زه كه مـی خو ريـم يا شا هد با ز يـم
فـسق و فجـو ر كړ م كند ه بې نمازيم
اندو ه مـې نشتـه خبـــر پـه را ز يم
په ولا تقنطـوا كر م تـه سـا ز يـــم

* * *

زوړ كړ م غمـو نو دا شنـــا زو ړ كړ م
لـه كل هو سـه يـې ددنيـا سو ړكړم
څو څو تا وو نـه را باند ې تـپر شو ل
كومی مـې وچ كړ هجرا ن نچو ړ كړ م

* * *

زويه كه هسې و ی لكه چه ز ه لـــر م
كـه هر څو ډپـر د ی يو زو يـه نه لرم
يو يحيی خا ن نه شو يـوا كو ړی نه شو
چنجـو منجـو د ی پـټ به يـې څه لرم

* * *

سـخ خو زما دی چه هسې يار لـــر م
چه يـې له لاسه دا زړه خوارو زار لرم
كه را ته كښپـنې پـه تا ډپر كار لـر م
در به يـې پـر انيـز م دګيلو بار لـرم

---

(۱) دم ، سا ، وخت او حال ته وايی .
(۲) دكامل په ديوان كښی له بنايسته پر څخه باز او نصرت قدم څخه اس مراد شوی دی .

شهره په واړه عا لم مـدا م ښـه يـم
پر پرده په خوله کښې د خاص و عام ښه يم
شيخه ته شيخ يـې زه رند هـيڅ مه وايه
ته دې نيکنا م او سې زه خوبدنام ښه يم

* * *

قرآن دوړاند ې په لاس کښې جا م لر م
په ژ ن لون حـلا ل حـرا م لـر م
عمل مـې تريـخ د ی که خو ږ کلا م لرم
نه درست کا فر يم نه درست اسلام لرم

* * *

که ته جفـا کړ ې ز ه بـه وفـا کـړ م
که تـه ښـپر ې کـړ ې زه به دعـا کـړ م
څو دا جهـا ن د ی هو مره د ې تـه و ی
کـه ته مـې نه و ې نيا ز به په چـاکړم

* * *

که دا ګناه دی چه په تا چور چـوز يـم
سکه سر تـر پا يـه له ګـناه پو ريم
دتـو رو زلفـو پـه مار دې و خـو ړ م
ګونه مـې ز پړ ه په ز ړه رنـځـو ر يم

* * *

که دې له خو يـه چا ته فر ياد کـړ م
يـا هـيڅ د م نه و هـم صبر بنيـادکړم
پـه دوا ړه تو کـه ز ما پر وانه کړې
يـو څـه نا ترس يې څه به دی يادکړم

* * *

که نور په نورو چا رو جلـی ستـا يم
زه بـه د تورو پـه کار علـی ستا يم
ورور در سو ل د ی ور باند ې ښا يـی
کـه يـې له فر قـه بيا تر تلی ستا يم

که وینـــې ژا ړ م ګرېوا ن چاك چاك کړم
پـــه غو لی ګـــر ځم غو غـــا بلغـــا ك کړم
په دا بـــــه تللـــی یا را ن را نه شـــــی
سکـــه با ید ه دا دی چه ځان بې باك کړم

* * *

لکه ملنګ وې زه دې ملنګـــ کـــړ م
لکه بـــې ننګـــ وې زه دې بې ننګـــ کړم
څوك یې! خـــبر دې د ذا تـــه نـــه یـــم
پـــه څه حیلو (۱) دې دځان د څنګ کړم

* * *

له خپله بختـــــه و چا تـــه زار کـــړ م
زرمـــې اغیار شـــی چه زه یـــې یار کړم
نور مـــې تو به ده کـــه اکو ړ ی را شـــی
نه بـــه یې یار کـــړ م نه به یې پـــلار کړم

* * *

ماوې چـــه تا به دځا ن پـــه رنګ کړ م
لکه ملنـــګ وې زه دې ملنـــګـــ کړ م
ســـږ ددو هین (۲) شوم تر بله کا له
د ځا ن به لـــو یه مصلـــه لنـــــګ کړ م

* * *

مرګ دنـــــا اهل سبـــا بـــېګا غـــوا ړ م
د عـــا مـــــې داد ه الله الله غـــــوا ړ م
زما تو به د ه دبهـــرا م لـــــه خیـــــر ه
دده لـــــه شر ه امـــا ن پنـــــا ه غوا ړم

---

(۱) په دواړو چا پی نسخو کښی د (حیلو) په ځای (خپلوی)راغلی ده
(۲) دو هین ددوهی معنی ورکوی .

مړګ را نژ دي راغی پیر ی (۱)خبر کړم
غـا ښـونـــه لا ړ ل غـــم د بصر کـــړ م
وخـت دا را م ؤ د ز ړ د کـــــا م و
قـسمت په غا ړو په غرو نـو سر کړ م

* * *

مړګ را نــژ دي راغــی زه لا غا فــل یم
پــه شور و شــر کښــي ددنیــا تل یم
پــه تور وپــښته مــي سل ګـنا هو نه
په سپیــنه ږ یــر ه لا ډپــر خجل یـــم

* * *

مړګ رانــژ دي شو زه لا ار ما ن لــرم
که زوړ لیده شم اختیار د ځوان لــر م
ار مان مــي جو نه د ی د نام جنګو نه‌دی
مقصود مي ښکار دی غم دایــما ن لر م

* * *

مست یم په سر کښــي مستی دمــی لرم
چه په نشه یــي کی کی کی کی لـــــر م
رقص مــي په تار د هغــه ر بــاب د ی
چــه په نغــمه یي هــی هی هی‌هی لرم

* * *

نه زر په کور کښــي نه کښښت و کار لرم
وابست له ځا ن سره تر سل بسیار لر
رزاق دخلــك یــي په دا اقــرار لـــر م
څــه غــم چه تا غو ند ي پر ور دګارلرم

---

(۱) په چا پی نسخو کښي د (خبر) په ځای (کر) راغلی دی .

نـه مرد دکفر نـه مـــر دد يـن يـــم
نـه دګـما ن يـــم نـــه ديقيـن يـــم
په دوا ړه تـو کـه مـذ بذ بيـن يـــم
هـم په زړه تو ريم هم په زړه سپين يم

* * *

وايی جنـــت لر م حور او قـصور لـرم
بل دار تـر دا نـه په نعمت پو ر تـر م
چـه وايـی هســې د ی واړه منلـــــی
ما تـــه دا پـر پږ ده چه دا حضور لرم

* * *

هو مړه خطا لر م څـو چـه عا قـل يم
هو مر ه هوا لـــر م څو چه فاضل يم
تسپې په لاس کښې ړه په وسواس کښی
و لاړ پـه با طلـو ګا رونو تـــل يـــم

* * *

يار مـې ګا فر د ی زه مسلما ن يـــم
دده لـه بده خو يـه پـه ځـــا ن يـم
زړه يـې زما لـــه ګـو ګـل و کيـښ
ځنـې پـه و پر ه د خپـل ايما ن يـــم

(و)

باد شاه سنـــی دی خلك حيرا ن شـــو
درا فـضيـا نـــو دور ا وان شـــو
که څوك په ملك کښې يو شاه زلمی و ی
ټ وړه تر مـلا ګا و خت دافغـــا ن شو

* * *

پنـد مـې په ياد شو د حکيـــما نـــو
يا ر ی به نه مو مـې له غليـــما نـــو
ښه يـې په بنـــد کښی د کر يـما نـو
نه پـه بو ستا ن کښې د لئيـما نـــو

پوړې پـــه خو نـه دايمـل خـا ن شو
په سول د خونـې خان خـا نان شـــو
دا او ر کـه و نـــه مړ دا يم نا رې وهم
په وار ، وار پو رې په درست افغان‌شو
* * *
پـــه نظام پور کښې پـه سو سو سـو
قمر ی نار ې و هـی چـه کـوکو کـو
تل به د خو ړې په بـــن کښې نـه وو
وايـــی دا هســـې چـــه ځـوځـــوځـو
* * *
پير ی پر ې يستـم لـــه تا لا شو نو
هـا ی ښکلیو ستر ګـو ښکليو غـا ښو نو
هغه خو ړل نشتـه هغـه لپد ل نشتـه
ولا ړ م لـه نو رو ښـو معـا شـــو نـــو
* * *
پيغـمبـرا ن وو شا ها ن خا نـا ن وو
ډېر خو ش الحـا نه (۱) ښه ښه ځوانا نوو
له دې جها نـــه هســـې زړ ا ن شـو و
وايـــی چـــه کلـــه پـــه دا جها ن و و
* * *
تر سر تر پا يـه ککـړ پـــه غـو لـو
پـــه لا س نيو لـــې دسـته د ګـــلو
کښېنـی مستا نو تـه صفـت دميوکړی
نوم او ريـد لـــی چـــېر ې دملـــو

---

(۱) په دوا ړو چا پی نسخو کښې (ډېر خوښ له ځانه) راغلی‌دی.

توغـی حـج و کړ پـه رو م په شا م‌شو
کورتـــه چه راغی په احترام شـــو
شیطا ن ګمراه کړ کوڅی یـې ونیوه
پـه هو مره چار ې رسوا بـد نا م شو

* * *

تـه قهقـه خاند ې غـم تـم په بل‌شو
غم تـم په بـل شو مل چه تل تل شو
قا تلـــه ځلـه پـه کـا بو بـو یـــه
پـر ې باند ې پا څـه غر څه غا فل شو

* * *

جهان پـه کا م وی د و فـا کـېشـو
قصد یـې لـه چا دی لـه بد اندېشـو
عمل د بنو کانېء بـلا تر پښو کانـېء
ای بـد عملـــو پـه بـلا پـېشـو

* * *

چړګا ن نار ې و هـی سحر سبـا شو
یـار په ار مـان کښـې له ما جـدا شو
غم یـې هېـچېر ې پـه عشق‌کښې نشته
د عشـق پـــه کار کښـې رقیب بلاشو

* * *

چه په مړو ند یـې بـا هـو دخیـا ل ؤ
ګـــو تـــې د زړو غـمی یـې لا ل ؤ
وګور تـه و لا ړ ل هغـــه لا سو نـــه
چـه پـه حنـا بـه لا لـــه مـثـا ل ؤ

* * *

چه چا تـــه پـېښ شـی غم د خو ړ لو
یا غـم د ځښملـــو د ا غـــو ستلـــو
نور نور غمو نه وا ړه تـر شـــا شـی
که دسند رو و ی کـــه دبـــد لـــو

چه خو شې ز ړه مـې له تا اشنـــا شو
لـه وا ړه خلکـــه او س بـې پر وا شو
نه يـې خو ك ياد دی نه يې څوك هېردی
پـــه بوی دمـا ؤ پـــه خو ی دتـــا شـو

* * *

چـه دا دسـا څـښتـن هـــمه يـــو
کـــه فهـم و کـړ ې لکـه ز مـــه يـــو
مر ګ لکـه شر منښ را باند ې ځغلـی
د ر ب و فـضـــل و تـه پـه تـمه يـو

* * *

ځوانـی يـې و لا ړه ځنـې ما يو س‌شو
باز دی غـا لم تـه خوشحا ل ټپـوس شو

شا ه د شطر نـج د ی نژ د ې و ما ت‌ته
ور ته او س پا تـــې يو پيل منحوس شو

* * *

څښتن دمځکې يـې داسمـا نـو نـــو
دعـر ش و فـر ش او دجـها نـــو نـــو

هاتی که ماشی کړې ماشی هاتی کړ ې
تـوا نېز ې ر ب يـې دد يو تـوا نـو نـو

* * *

خاند م پـه ز هـــد د فـا سقـا نـــو
خـانـــد م پـــه بـذل د ا حـمقـا نـــو
چه نه يـې د ين شو نـه يـې دنيا شوه
چـا رې به يـې نه وی د لا يقـــا نـــو

دا کـا ر سړ یو ز ده نه زده د دا نـــو
نـظر چـــه کا ند ی پـــه فر قدا نو (۱)
عشا چـــه و د ری پـــه ســر د قطـب
جـو زا نوار تـیر شی ا ی بخـر دا نـــو

* * *

دخپلـي خـو نـــي نغـن دخمـچـــو
نه چـــه غنمینـه د بـــل پـه کـــو چو
نه او ر د خپـــل نغر ی د لمـدو پـچو
نـه او ر د بل نـغـر ی دد ړ و و چـــو

* * *

دخپلي ګپـډ ي په خد مـت خـم یـــو
پـــه نو رو نو رو فکـرو نو کـــم یو
سبا شـــی و خورو بیـګا ه شی و خورو
آدم صـــور ت یـــو د وا ب شکـــم یـــو

* * *

ډپـرو لیـد لـی د لیـــلا ر خـــت ؤ
بنو یـــه پر صو ف ؤ نا دید ه وخت ؤ
زه یـار مشفق لرم ، ده یار بد خوی درله
زه بختـو ر یـم مجنـو ن بـد بخت ؤ

* * *

را پا تي یو نه شو دو لس مي ترو نه وو
ولا ړ ل فنـا شو ل چه او لسو نه و و
څه بادشاهان ولاړل، څه څه خانال ولاړل
چه په در بار یـي و لاړ زرګو نـــه وو

---

(۱) فر قدا ن یا فر قد ین دشـما لی قطب پـه خوا کښې دد وو ستورو نوم دی چه له ما نبامه ، تر سهاره نښکاری (دکامل دیوان)

ژبه عـا دت کـړ ه پـــه بنبـو و يلـــو
چـــه دې عا دت شـــی هغـه تر تلو

که يـې عا دت کړ ې پـــه بد ګو يـی
مـخ به دې تور کا تر پـر دو خپلـــو
* * *
ستا تر لبا نو خوند د شکـر ورك شمو
ستا تـر دندا نو نرخ دګوهر و رك شو

ستا تر چشمانو دملـو خمرو ر ك شـو
ستا تر مژګا نو تـير ه خنجر ورك شو
* * *
سواری د جو نو ده کـــه دا سو نـــو
لا مـې تر ې رسـی تـوا ن د لا سو نو

بنکار د ټو پك نشته که بنکار دباز نشته
دا هم پير ی کړ ی پـه و سوا سو نـو
* * *
سوګند مـې ستا نه په سترګـو تو رو
پـه ز ړه د ستا يـم په خو له د نـورو

پر پږ ده لـه هر چـا سره يو مخ و ړم
لـه ما بـه څه وړ ی پـه کيسوسپورو
* * *
شکر پـه دا چـه لـه نيسته هست‌شوو
عقـــل يـې را کړ خدا ی پر ست شوو
رتبـه به ګـا ند ه په عمـل موند شـی
عمـل کړ ی‌ء و لـې په همت پست‌شوو

شکر چه ز ړو نــه په غم کښې ښاد لړو
دغــم څــه غــم دی چه پیرا ستا د لړو

وایی چــه ځان سا ته له غمه غم‌راغی(۱)
مو نږ څو غمو نه دا هسې یاد لـــــړو

* * *

ښکلی د لبړه د څــوار ټس کـــا لـــو
خو لــه یــې خو شرنــګه حقه د لا لـــو
را غلـــه زړو لا ړ ه زما ز ړ ګـی یـې
یو وړ پــه دوا ړو ستړ ګـو مــلا لـــو

* * *

ښه ښه یا را ن وو ښه اشنا یا ن و و
چه په دو لــت کښې راسره ځـا ن وو
دو لت چــه و لا ړ شو را ته یې شاکړه
جـــدا لــه ما نــه پــه یــوه نـا ن و و

* * *

ښـــه و صیــت د ی د بخــر دا نــو
یار ددا نـــو شــه نـــه د بدا نـــو
بدا ن د ې ځا ن و ړی هم دې ایمان وړی
ایــما ن خــو خلاص کړه خپل له ددانو

* * *

فــلــك پــه قصد د ی د بــې در دا نو
ولـــی و کـــا ږ ی دد ل ســـر دا نو

دمور پــه نس کښی مــرد لا علقـــه‌وی
تل پر ې پپر ې وی د ښـــو مر دا نـــو

---

(۱) په دو همه قلمی نسخه کښې (راشی) راغلی دی .

کلـی مـې و لیـــد ل دنا کسا نـــو
واړه په خوی کښې د ګر ګسـا نـــو
ګو تـی پـه هیڅا پسې دو ړو نـه د ی
خپـل ګـذ را ن بو یـــه همنفسا نو

* * *

که په دید ن ده دیـد ن هم ډېرو شـــو
که پـــه خور د ن ده خور دن هم‌ډېروشو
خوشحا لـه بس کړه و خت د عمـل‌دی
لو ستن هم ډډ رو شو ګفتن هم‌ډېروشو

* * *

کـــه چېر ی وار راغی ، بیا به خبری‌کړو
خلك به ویر کا ، مو نږ به‌سندرې کړو
دا ډېر زنګو نه چه پراته پـــه ز ړه د ی
تمه امید لر و ګوند ې یـې لېر ې کړو

* * *

که شور غـو غـــا کا سړ ی تـــر تلو
پاز ه (۱) به نـه ځی سره د خپلـــــو

بد ی د ځپلـو د بـل تر ښـو ښـه ده
که څو ك پـو هـې وزی پـه دا و یلـــو

* * *

که مو نږ ه وا یو وا ړه هـــیڅ نه یـو
یو مو تی خا و ری ، یو چونګ او بـه یو
که دامجا ز وی تحقیـق بـه بـل و ی
سکـه ز ړه به ښه کړ و هرګوره ښه یو

---

(۱) په دوا ړو قلمی نسخو کښې (پاژه) راغلی دی .

که یار د ې سپیـــن د ی و تا تـــه تورشو
که دصفت د ی هم د پیـــغـــور شـــــو
نـــیك بد بـــه وا ړه پـــه دا پـــو هیـــږی
که تـــه هغه یـــې‌خو ی د ې اوس‌نورشو

* * *

مونږه بـــه و مـــرو هســـې پـــــو هیږ و
یا را ن مو ړ لا ړ ل لانه کـــرو هـــږ و
خا ند و خو ښی کړ و هـــوا هو س کړو
نه مـــو ژ ړا شتـــه نـــه انـــدو هـــیږ و

* * *

مونږه مـــیږ ی یو پـــــه مځکـــــه ګر ځو
دنس لـــه غـــمـــه و بلـــه غـــور ځـــو
ښه وو په مځکـــه بـــلا را سا زه شـــــی
چه پر پیـــدا کړ و اسما ن تـــه و ړځـــو

* * *

مین مـــې را غی ، ملنـــګ په څیرشـــو
خبر پر ې نه شو م را باند ې تـــیر شو
چـــه سره نـــــه شو و غـــــا ړه غـــړ ی
افسو س افسوس دی ار ما ن مې‌ډیرشو

* * *

نخښـــې خـــو در ې د ی د عا شقا نـــو
خـــو ب کـــا پـــه مـــثل د غریـــقا نـــو
ویـــل پـــــه مـــثـــل دو یـــــر ژ لیـــــو
خـــورا ك پـــــه مـــثل د ر نـــځو را نـــــو

* * *

ننښتـــز که لو ی د ی لـــه نور و و نـــــو
چینار که پلن دی پـــــه پانـــو پـــلنـــــــو
لکه کما ل لـــــر ی هسې ز وا ل لـــر ی
نـــظر پر ې کـــانې‌ء د کـــمـــا ل څښتنو

نوم مـې دبد و په خلـك خور شـــــو
که صاف ، صوفی یم وایی می خو ر شو
احـداد دما شـی دهغـــه نه شـــــی
چه له مستی هـړ اند پـه خور شو(۱)

* * *

واو ړې چـه او ړی پـه سپـږو خا و رو
خـا و ړې سپین زر شی په سپینوواورو
په منـځ دد لـــو په منـځ تېر ی کښې
سـمه غر سپین شو په سپینو واو رو

* * *

وخت د بهار را غـی خزا ن او س کم‌شو
مطـر ب په زېر مه د زیـر و بـم شـو
شرا ب لـه خمه را غلـــه بنـپښو لره
کوزې کاسې را وړه خوشحال ډك خم‌شو

* * *

یابد تر پښو کړ ه د پر دو خپـــــلو
یا غم تـه و ا خله تـو بنـه تر تلـــو
ددوا ړ و تو کو سو د و زیا ن خپل‌کورم
حا جـت هـیڅ نشـتـه نـور دو یلـو

* * *

یـا ری بنـې و ی د بنـو بخـر دو (۲)
چـــه پکښـې نشتـــه و هـــم دبدو
دنـا کسا نـــو یا ر ی د ، دد و د ی
سـو د منـــې نه وی یـــا ری‌د ، ددو

---

(۱) په‌دو همه قلمی نسخه کښې (دماشی) په ځای (زماشی) دی او هړاند ، اړاند لیکل شوی دی .
(۲) بخرد = هوښیار .

یو څـه فرا ق د ی چـه را بر سپرشو
ارمـــا ن افـسو س‌د ی دا یوڅه‌پیرشو
بیا به یـي دور د ځـوانی را نه شـــی
وار د دلبـــر ي د زلفـو تـپر شـــو

(ه)

احمق په کلـی کښي پیدا خـدا ی‌مه‌کړه
که د ي په کور کښي پیدا شی زده‌کړه
لا یـي په لـبر ي ملـکو نـو و شـړ ه
یا یي له تو رو خـا ورو ســر ه کـړ ه

* * *

اخیست چه نـه شی په غـا ړي غرو نه
وری د عشـق د ی مو نږه یـي وړو نه
مست‌مست بارو نه به مست‌مست‌اوښان‌وړی
غرض پـر ي څه لر ی غوایه یـا خـر و نـه

* * *

ارمـا ن دی د ریـغه د ایو څـو کـا ره
تل تل بـه نـه و ي تـا زه بهـــا ر ه
تل تل بـه وار د ځـوا نـی نـــه و ی
تل تل بـه نه مـو مـي مهر لـه یا ره

* * *

ارمـا ن د ی د ریـغه ز مـــا ګـلزار ه
غنـچه ریـژ پـږ ی او س لـه‌شاخساره
مځکي! «طا هر» مـي د ر لر ه در غـــی
بـل رنـګ یـي مه کړه دخدای د پاره

* * *

اسمـا ن پـبر ي لـر ی ز مـــا پسر ه
مـه ډپـر غا فل شه مه ډپـر بـي‌سره
په غم کښي تمه د بنـاد مـا نـــی کړه
په بنـاد ما نـــی کښي له غمه و یـره

اسمان که نه کا خست د پاسیه
لکونه را شی د خوشحال ترلاسه
چه تار په تاري په خلك نه کا
ته دا خیره له زړه و باسه

* * *

اند پښتني مه کړه دپرې د ړ وښه
دنیا په نه مړو مي تن قسمت پښه

شکر غټی لړه صبر در و پش لړه
که کا هم دا دي کا هر چه‌شی‌پښه

* * *

اوس بې وفا شو ل دا یا را ن وا ړه
د پلار په را ی نه ځی فرزندان‌واړه

که نېك که بد دی په دا دستمور د ی
سره خپلو ی نه کا اقربا ن وا ړه

* * *

ای چه دي نو ل د ی ز ما له مخه
در قیبتا نو په بده ر خه

په عشق‌کښې‌مرد او سه پر ځا يې‌مه‌کړه
زه به د ي‌نه کړم د چا په سخه

* * *

ای چه سړ ی يې په یو ه ساه
که دي دا سا ه نه وی نا گاه

هسې به پرو ت و ي لکه من دا ر ه
په ځیان خبر شه دځا ن ګمرا ه

بار ك(١) ميـن د ى پـه دا دو ه تو كه
پـه سپينـه واز ده پـه سپينـه رو كه
بو لاق (٢) دو ينځي په خوى خصلتدى
ور لـيـر ه بـو يـه لو ړ ه(٣) مترو كه

* * *

با غـوا نچه كښېږ دى په باغ كښې ونه
تپا ك پر ې څو كا تـل پـه سا تنـه
كه بر يـې ښه شى ز ړه يې پرې ښه شى
كـه بد شـى نه كـا با ند ې و تـنـه

* * *

بلبلـې څـه غوا ړ ى لـه ګلستا نـه
ګـل به بيـا نـه مو مـې بې له خزانه
لكه خـو ښـى د ګـل دو صـل و ى
غـم به يـې هـو مره وى بياله هجرانه

* * *

بل تر خپل دست لره دچا تر دست مه شه
شرم پرست او سه شهوت پرست مه شه
چه كار دد ين ددنيـا خراب پرې دې
هسې بـې څو ده د ميـو ست مـه شـه

* * *

بل دې يو څا ن غونـد ې را ته پيدا كړه
ها لـه لـه ما څـه و ما تـه شا كـړه
ګنهـه دا كـو مـه يا ړ ى خپلـو ى د ه
ما غـم تـه پر پرې ده ته څا ن جـدا كړه

---

(١) دترى ختكو يوه څانګه ده .
(٢) ترى اوبو لاق دختكو دوې لو يې څانګې دى .
(٣) په دو همه قلمه نسخه كښى (لويه) راغلى دى .

بلـــه لمبـــه د ي د وصـــل ژ مـــنه ده
بلـــه مـــي عينـــي د ز ړه د ننـــه د ه
که دا دد خـــو لـــي د ی که نور دا دو نه
چـــه ښکليو نـــه زده کو مه نمنځنـــه ده

• • •

بي عيبه يار نشته پـــه ملك هـــو ښيار ه
پـــه عيـــب مه کړ ه زړه بد لـــه يا ړه
که ګـــر خـــي وا ړه با غو نه و ګـــو ري
ګـــل بـــه بيـــا نه مو مي خا لـــی له خاړه

• • •

يا ری لـــه بد ه بـــد خـــو يه يـــا ړه
شلـــو لـــي ښه د ه پـــه خو اعتبـــا ر ه
که ښا يستـــه و ی جو ړ و جـــفا يې وړه
ګلو نه کلـــه و ی د با غ بـــي خـــا ړه

• • •

پر ده پـــو ښـــي کو ه لکـــه پړو نی شه
اوا ز ه کړ و نـــی شه د هرچاوړونی شه
دحلم خو ی وا خله لـــه بار دا ر ي وني
چه خـــو ك دي وو لی مړو ه ورکړونی شه

• • •

پر هار پـــر ي باندي که دسۀزن نشتـــه
عا شق شهيد د ی په داکښي ظن نشته
د شهيـــدا نـــو جنـــا ز ه بـــو يـــه
دشهيـــدا نـــو غسل کفـــن نشتـــه

• • •

پنـــد د ي سو د منـــد د ی واوره تورزنه
آســـا نـــه نـــه د ه د سر ښنـــد نـــه
مصلحـــت مـــه پـــر پر د ه له خپلهلاسه
هـــم به خپل دا ز لـــر ي د ز ړه د ننـــه

پنـد دی کـه او ری زمـا پـسره
پکښنـي فا يـده و ينـم زه سرا سـره
څو دي شرا ب شـته په قرا به(۱) کښتي
څښتـه يـي څښوه يـي کار کړه ترسره

* * *

پور که دمړی د ی تښتـه لـه پـو ژه
اور کـه لو ګی دی تښته لـه او ره
دښمن کـه سهل ز حـمت کـه لږ دی
بي غـم تـر ي مـه اوسه ای زما ورروره

* * *

په باغ په راغ کـښي ګـلو نـه وا ړه
يـو ګـل به نـه وی بيـا تر اهـا ړه
هستـی دا هسـي نيستـی دا هسـي
ژا ړه حيـرا نـي بـلبلـي ژا ړه

* * *

پـه با غ کـښي ګـو ره لا لـه ګلونه
يا قنـو ت پيـا لـي دی غوا ړی ملو نـه
ساقـی را پا څـه تـر داد پـا سه
بـي مينـو نشتـه تحمـلـو نـه

* * *

په تـا کـه راشی حـا د ثنه لـو يـه
تـپښته تسليـم و صبـر تـه بو يه
نه بـه يـي د فع پـه حـذ ووکړ ي(۲)
نـه پـه لښکرو پـه ز ر او زو يه

---

(۱) دشرابو بنيښه (کامل) .
(۲) دپښتور په چاپي نسخو کښې دا مصرع داسي راغلي ده: ته به يي دفع په صبر وکړي .

په تاکـه را شی ډپـــر محنـتو نـــه
یا را حتـو نـــه فر ا غـتـــو نـــه
ته يـې په نور چـــا حوا له مه کـړه
چـــه از لـی د ی دا قسمتو نـــــه

* * *

پـه چا چـه و شی د هما ی سیـو ره
دو لت و ر درو مـــی لـه هر ه لور ه
مهر د خا صـو دهـما ی سیـو ره د ه
پـــه چا به و شـــی دا سیـو ره ګوره

* * *

په چپرته ولاړې دلـو بـــو و ختـــــه
تـــه چا تا لا کړ ې د ځـوانی ر ختـه
پر ې خبـــر نـــه و م یو او وه غلـه‌وو
را تـه پـه خـو ؤ و شپه ورځ یك‌لختته

* * *

پـه خـو غا فل يـې غفلـت نـتليـــه
لـه کار ه تـو لـــه امـــل ايستلـيه
هيڅ دې لـــه مرګـه اند پښښـه نه شی
کـــه جنا زې و ځـی لـه هره کليـــه

* * *

په حـق و لاړ او سـه ای نـا صبو زه
صبر کړه صبـر ، ده صبـر تـــو زه
چه څوك پـه لاس کـا ما امتحـا نوکړ
فتح دا يـــم ده و ر تـــه حضـو ر ه

پـــه خو لـه خبر ې لـــه کر د کـــاره
پـــه ز ړه خبر ې لـه کښت و کـــاره
فریاد فـــر یاد د ی په هسې زیست کښې
تو به تـــو بـــه د ه لـــه هسې کـــاره

* * *

په درست جها ن کښې مې آشنا بیا نه موند ه
څوك به یې څه غواړی چه مابیانه موند ه
عمر مـې تـــېر شو پـــه آشنا یـــی کښې
لـــه چا مـــې بوی دو فا بیـــا نه مو نـــد ه

* * *

په در ست وجود کښې بنه دی دو ه څیزه
یـــو ز ړه بیـــا ژ بـــه ز ما عز یـــزه
ز ړه بنـــه همت لره بنه خوی خصلت لره
ژ بـــه فـــصیحـــه ر بنتینـــې نیـــز ه

* * *

پـــه ز ړه دوا ړو خلکو نېکـــخوا ه اوسه
هدایت کړ و نـــی د هـــر گمراه اوسه
تمه له چامه کړ ه سخـــا پـــه هر چا کړه
بـــې تخت و تـــا جـــه لکه بادشاه اوسه

* * *

په سفا هت د سفیـــه آزار مـــه شـــه
و مکـــا فـــا ت تـــه دده تیـــار مـــه شه
سپـــی و مز ر یـــو و تـــه غـــپیږ ی
کم تر مز ر ی ته پـــه خپل وقار مه شه

* * *

په شر م ننـــګ کښې ددنیـــا ولاړ اوسه
ددیـــن پـــه کار کښې ددنیـــا ژ لاړ اوسه
په خپلـــو با غ شـــه رود رو د بـــار شه
و بېګـــا نه ژ و تـــه لکـــه کا ړ او ســـه

په شیخ رحمکار مې تا زه تو به و کړه
هغې نګا ر ې را ته ښه ښه و کړه
زړه مې هر ګو ډه په اند پښتو شو
تو به مې بد ه ده که تو به مې‌ښه‌وکړه

* * *

په طور طور پیدا یو مو ز ه
مښک یو عنبر یو ، بصل یو ، هوډه
شهد شکر یو ز هر ز قو م یو
روئین یو ،نیل یو ، نسپا ل‌یو،سوډه

* * *

په عدل و داد کښې په هر چا سم او سه
وقار هم دا دی تر نورو کم او سه
که ته په کبر د ځان لو یی غواړې
ګید ی(۱) دو ډ لو یې یو مار لږ م‌اوسه

* * *

په عطرو ډو به هغه خو ش رو یه
را غله نا ګاه له یوه سو یه
تما مه شپه یې را سره تیره کړه
سپین مې مې ډکې دی ددې له‌بو یه

* * *

په غم کښې شو خه بنی آ دمه !
در باندې در شی خو خو ما ته
شیر ین یا را ن د ې په مرګ جدا شی
سخت یې چه نه چو ې له ډېره غمه

* * *

په فتنو پو ره تو ر ه آسما نه
لا به دې کله شی دا خو نه‌ورانه
چه بل یو نوی جها ن پیدا شی
ګوند ې خلك بیا مو می خلاصی‌له تانه

---

(۱) خر، احمق .

په قد چه نوم لرې سر و څو لکه
په مخ چه نو م لر ی تمام اوږمکه(۱)
خوله دې حقه ده د سر و یا قو تو
په سپینو د رو ګو هرو ډ که

* * *

په ما څه کار لر ې درو مه هو ببیار ه
زه لیو نی یم مینه شو د یاره
نه څو ك ادیب لرم نه څو ك طبیب لرم
درد مې له یا ره دی دا رو له یا ره

* * *

په نیلی سپور یې قر قره لکه
دعوا د کبر په ز ړه کښې کلکه
که فهم و کړ ې چینجی د غو لو یې
هو مره لو یی کړ ې د غو لو ډ که

* * *

په وا ك چه نه لر ی په کام کښې ژبه
که ګو نګ شی ښه د ی په لویه تیه
په بده ژبه ځان ځی جهان (۲) ځی
ایما ن لا هم ځی واوره طا لبه

* * *

پیر ی را نیو ل له ما څو کا ره
و لا ړم د غشی ټو پك له ښکاره
چه مهر مینه یا ر ی تر ې غوا ړ م
را پور ې خاند ی ځوانه نګا ره

---

(۱) هلال .
(۲) دپښتو ټولنې په دوهمه قلمې نسخه کښې (پیمان) راغلې دی .

تا تـه چـه شمار کـــا د چـــا عیبو نه
چاته بـه شمار کـا دستا عیبو نـــه
دســخن چینـو مخـو نـه تو ر شـــه
پـــه مخ ثـنا کـا تر شـا عیبو نـــه

* * *

تا چه پیـدا کړ ل هـو مره اقوا مـه
حـکمت د ې څـه د ی یـا ذ وا لاکرامه
تا چه پیـدا کړ ل حکمت یـې تا ز ده
مـونږ ه هـیڅ نه ز ده پـه دا تما مه

* * *

تـا چـــه پیـدا کړ ل هـو مر ه ملکونه
ربـــه پـــه تـا شـی دا قـدر تو نـه
کـه تـا پر ې نه کړا ی دا با را نو نه
وا ړه بـه هـیڅ وو داسمـې غـرو نه

* * *

تـا ز ه خبـر ې تـــا زه بهـار ګـنـه
چه پـر ې مین دی هغـه هـزا ړګنـه
رنګـــ رنګـــ خبرې‌دی‌رنګـــ رنګـــګلونه
ګل د ګلا بـــو زما اشعـــار ګنـــه

* * *

تـخم ضـا یـع کـــا بدا صله مځکـــه
ښـې پـــی خـو سـا کا بد ه غـړ که
هغـه چـه کر کـا یا پـــی شار بی
هغـه د ې نه کـا دا پو هـه و ر کـــه

* * *

تر باز کـه لاند ې کړ ې د کارګه هویه
باز به را نـــه و ړی کار ګـه تړې بو یه
کـــه دمز ری سره یار ی آغـا زه کـا
کو م خـو ی به وا خلی مزری نه‌سویه

تر سر تر پا يـــه بنكلـى مخو نـــه
دا يـــو ، يو سف ؤ د پـلا ر په خونه
پر مخ چه وو ينې زړه دې پرې‌خوښ‌شى
مـــخ هـــم هغه ګڼه کړ ه پرې سخو نـــه

* * *

تر سر تـــر پـــا يـــه ليـــلا بنا غلـــې ده
سيـــنه يـــې ځکـــه د مجنـــو ن د ا غلـــــې ده
مينـــه څـــه هـــسې اسا نـــه ، نـــــه ده
چـــه دا بـــې ځايـــه پـــه چا راغلـــې د ه

* * *

تر وړې په مکـــر مز ر ى په زور ز ده
غـــاز ى پـــه توره وښبه(۱) په لور ز ده
مـــلا خبر ې پـــه سپين پـــه تور ز ده
د ګـــنـــګو ژبـــه د ګـــو نګ دمور زده

* * *

تل دکمز و ر ى وى دا يـــو څو کـــا ره
مکـــر د زاو غ کـــا په څو ا نکـــــکا ره
بنډځـــه کمز و زې ده ځـــــکه انکـــار کا
پـــــه دا سبب د ه هـــو مـــــر ه مکا ره

* * *

تل سى سا لـــه وا ى د خدا ى د پـــاره
ګـــل ولا لـــه وا ى د خدا ى د پـــــا ره
دښـــو بنبو جو نو جما ل تل تل ليدا ى
پـــــــه لاس پيا لـــه واى د خدا ى د پاره

* * *

تـــــل کـــړ ه بنـــپګـــړ ه له آ د م زاده
نـــه بنبـــه که وګړ ې څـــه کم و زيـــاده
در تـــه بـــــه خير شســـى پـــه سل بدى
هـــيڅ بـــه د ې نـــه کا بنپګړ ه يـــا ده

---

(۱) وښبـــه = وانښه کوونکى .

تـل يـې خبـر ې له ښـه خورا کـه
ذکر مذکور يـې له ښه پـو شـا کـه
خـپل کسب هـېڅ نه ، واړه لـه ظلمه
هـی تو بـه ، تو بـه له هسـې ژواکه

* * *

تـن د ې پـه مـثل د روح قبـا ده
لکـه ا غـو ستـې چـه قبـا تـا ده
دا دوا ړه تو کـه فـنـا پـذ يـر د ی
فنـا يـې نشتـه د روح بقـا د ه

* * *

تـن يـو غلاف د ی ز ړه په کښې توره
د تـو ر د سپين نه ده و ينـا منـظوره
مـدار پـه تو ره دی ، پـه غلاف نـه دی
چـار يـې پـه هر چا ده مشهـو ره

* * *

تـه دا وينـا کـړ ه له ما نـه يـا ده
بـهره اخلـه د بـهار لـه بـا ده
لکـه دا بـا د يـې په وا ړ و و نو کـا
هسـې بـه ستـا کا د رو نـه ښاده

* * *

ته معشو قـه يـې پر وا د ې کو مـه ده
زار د عاشق د ی چـه چار يې شومه ده
بـې تا کيا ب وی پـه اور ور يتـې ږی
چـار دې د هجـر دا ور معلـو مـه ده

* * *

تـه يـو طلسـم يـې بـې اعـتبا ره
لـه خا کـه با ده لـه آ بـه ناره
اول هـم هېڅ و ې بيـا بـه هم هېڅ شی
پـه څـا ن خبـر شه د خدا ی د پـا ره

تـير ا مـې و ليـد ه را غلـم تـرسواته
پښتو ن مـې و لـيد دا لوی‌لوی ذا تـه
عقل همت مـې د چـا و نـــه لـيـد ه
پـه بـيرتـه را غلم نا ست يم ملا ما ته

* * *

ثنا صفـت کـا عا لم لـــه ميـوره (۱)
نقـش و نـگار لر ی په خوخو طـوره
نظر چـه وکـا و خپلـــو پښـو تـــه
ز ړه يـې اختـه شـی په ډير ډيرځوره

* * *

جفـا د خلکو هر ګـو ره ډير ه شـو ه
که څو ك ښکنځله وکا و رته د عـاوکړه
که آد م زاد يـې خـو ی د آدم را و په
غـمجن چـه و ويـنـې باند ې ژړا وکړه

* * *

جفـا د خلکو هر ګوره ډ پـر شـو ه
وفـا د هر چـا له د له هـير ه شـو ه
وخت د قيا مـت شـــو که نور آفت‌دی
يـو ه بـلا ده چه را بـر سپره شـو ه

* * *

جن پـه حـجا ب کښې د مور له څنـګه
مـګر ځا ن ژغو ری دمور لـــه چنـګه
که په صحرا ګر ځی که کوڅه ګرده‌شی
شنـد ه بـه وکـا پـــه خپلـــه ننـګه

---

(۱) ميوره = مور ، تا ووس .

جـن هـو مره ښـه ده چه مهر داره‌ده
د پـلا ر پـه کور کښې نا سته قراره‌ده
چه دجن وا لی د فتـر يـې تـبرشو(۱)
کـه صا حبـی کا بيـا خدمت کاره ده

* * *

چا ته به راز وا يم چه مې راز دار نشته
غـم به مې څو ك اخلی چه غم‌گسار نشته
کيميـا به بيـا مو مې و فا به نه مومې
هـزار يا را ن لر م يو وفا دار نـشته

* * *

چـار دځـوا نی د فسـق فجـو ره
لـه لا سـه و لا ړه لکـه ښه تـلو ره
اوس مـې دا ز هد چـه د پيـر ی د ی
کـشکـی يـې چار وی هو ړې منظوره

* * *

چـار د مـر ګـو تـی معـا ينـه د ه
ښـه تر ژوندو ن نـه هر آ ئينـه ده
پـښې تبی ما تـه کـا آئينـه سازه‌کا
چـه تـر تبـی نـه ښـه آ ئيـنه‌ده

* * *

چار يـې پـه هر چا باند ې ښکاره ده
د ګـل يـا بـو ی د ی يـا نـنـداره ده
چه نـه يې بو ی وی نه يې ښه رنګ‌وی
ګـل به يـې نه بو لم د چار پای‌چاره‌ده

* * *

چر تـه غر ه و لا ړ يې پـه باد مغرو ړه
حبـاب تـه ګـو ړه بـلا د ې دو ړ ه
نيستـی هستـې يـې فنـا کيدل د ی
وا ړه ستـا چـا ر ده در ته حـضوړه

---

(۱) په دريمه قلمی نسخه کښې د(تبر)په ځای (خور) راغلی دی .

چو ز با ز چـــه و وینی د جا ل کوتره
پـــروایـــې‌نه وی لـــه خپلـــه ســـره
لـــکۍ کـــه هـــر څو غـــو ته تپره لری
نـــه برا بـــر ه بیـــا لـــر ه بـــر ه

* * *

چـــه با د شا هـــا ن دی خانان دی ورووره
نور څـــه یـــې مه کـــنـــه بې بـــله او ره
کـــه سوار مز ر ی یې که تور ها تی یې
خـــپل ځا ن له بلـــه او ره نه ژ غور ه

* * *

چـــه باز د ي و لاړ شـــی چېر ی له دسته
پـــه غر ه په سمه کړ ي ور پسې‌مرسته
هنـــر هـــم هسې یو یا غـــی باز د ی
طلب یـــې نه کړ ي په هـــمت پستـــه

* * *

چه بخیـــل کېږ ي هســـې ساتل مه‌کړه
چـــه مسر فېږی دا هســـې تل‌مه‌کړه
خپل خوان په هرچا خوره‌منت په‌چامه‌کړه
دبل وخوان ته خا لی کتل مـــه کـــړ ه

* * *

چه بد ي چـــا ري نبیـــی و چـــا تـــه
هغـــه ســـا ز پـــر ی بـــد ي بـــلا تـــه
چـــه کار د کـــړ لو و ي پـــکښې کاهل‌شی
تـــر دا بد خو ی نشتـــه د و یم‌وماته

* * *

چه بد یې ژ وا ك و ی بد یې رنـــګو نه
نـــه مصلحت لر ی نه آ هنـــګو نـــه
نـــه ډېر دو لـــت لری نه ډېر عز ت لری
لـــه هغـــو څـــه غـــوا ړې شر م ننګونه

چه بل خبـــر کړ ي د ز ړه لـــه را يـــه
هښيار پـــه څـــه يـــې و ما تـــه وا يـــه
هر چـــه هو ښيار و ی هنـــر يـــې دا دی
خبـــر ه نه کـــا چا تـــه بـــې ځـــا يـــه

* * *

چه پـــا ك ز وو لـــی- دی له مو ره پـــلاره
نا پـــا ك يـــې مه کړ ي پر وړ د ګـــاره
دين و دنيـــا لـــر ه پا کـــی په کار د ه
نا پـــا ك بـــه خوار وی پـــــه دوا ړه‌داره

* * *

چه پـــه قر آن کښې د ي منلـــی وا ړه
مـــشکو ت مصبـــا ح تـــه نيـــو لې غاړه
نفس د ي پـــه دا کښې کـــه فضو لی کا
شيطـــا ن خوار کړ ی بـــد بختـــه ژا ړه

* * *

چه پکښې لو ی شـــی بـــې مصلحتـــــه
خـــو نـــه خا لـــی شـــی لـــــه بر کتـــه
تر بد بخـــت زو يـــه نيکبخته لورښه ده
فر زند دې نـــــه وی بې سعا د تـــــه

* * *

چه په وار وار يـــې له ما نـــه بو تـــــه
زما خـــو بی يـــې په چېر ته بو(۱) تـــه
پير ی و کـــړ ي را بانـــد ي چـــا ر ي
فـــو لا د ی تو ره يـــم خوړلې پـــرو تـــه

* * *

چـــه تجلـــی وو هغـــه مخـــو نـــــه
سپېر ي اير ي شو ل د ګـــور په خونه
دصورت و نـــــه نا بـــوده و نـــــه د ه
هـــم يـــې ښا خو نه ځی هم يې‌وبخونه

---

(۱) دپښتو ټولنې په دوو قلمی نسخوکښې (توته) ليکل شوې ده .

چه ته یې و وینې په ستر ګو وا ړه
بقا یې نشته باند ې مه و یاړه
هغه چه تا و ینی هغه باقی د ی
فا نی به څه کړې با قی و غوا ړه

• • •

چه خبر دار شو م له د ې جها نه
څه مسخر ې کا په هر چا جا نه
هوښیار لا هو مړه په ځان خوښ نه‌وی
لکه نا دا ن کا خو ښی له ځا نه

• • •

چه را ښکاره شی په څو څو طوره
څو څو فتنې لر ی څو هو مړه زو ره
بل فکر مه کړه بل ګو ما ن مه و ړه
فر یاد مې واړه د ی دیار له جو ره

• • •

چه د شیخیه نمط لر ینه
شیخی دې کا ند ی په زیر ه سپینه
ځوا نی به و لې ابته ځینه
ښه مخ دې ګو ری شراب دې‌څښینه

• • •

چه د رسره کښ مینی یو څو شیطا نه
یا را ن به لپر ې کړې له خپله ځا نه
سود به دې نه و ی بیا به ار ما ن‌کړې
ار ما ن به یوسی تر ګو رستا نه

• • •

چه دې په ز ړه دی هغه په خو له لره
چه دې په خو له وی هغه په زړه لره
دا دوا ړ ه تو که لکه مر ی
په یو ه تار یې پېیلې ته له لر ه

چه ډېر و يـــل کـا په ډېـره ژ بـــه
څو يـي چه ژ بـه هو مره يـي تبـــه
دبا غ بلـبلـــو و تـــــه نـظر کـــا
پـه خپلـــه ژ به د قـفس طـا لبـــــه
* * *
چه ز ډه ژوند ی لری د عـشق په مينه
هغـه که و مر ی ګنهـه نـه مـر ينـــه
فر هـا د که مړ دی مجنـو ن که مړدی
نـو م به يـي هر کله په جهان و ينـــه
* * *
چه زړه فا رغ لری لـه مکړه ريبـــه
هغـله بـه مو می نصر ت لـــه غيـبـــه
دبل پـــه عيـب نـــظر ها لـــه لره
کـه ځـا ن د ي خلاص و ی له هره‌عيبه
* * *
چه زړه مي ويني پـه طـناز ی شـــه
پـــه څو څو رنـګه په عشقبا زی شـه
چه‌ته مي‌غو ره‌کړي‌په هو مره بنکليوکښي
رحمت زمـا پـه نظـر بـا زی شـــه
* * *
چه زه يـي ورو ستـم نيز دي وګورته
بيا يـي چه زا وستـم ددنيـا کور تـه
له سخته رنـځه يـي تند رستی راکړه
ګـو ره سا تی مـي بيا کوم‌شر(۱)شورته
* * *
چـه ستا په دين نه و ی معدو م يې‌وګنه
چـه څه تر ي زده کړي مخدو م يې‌وګنه
حرص شو مـــی لری څوك‌چه څرص‌کا
حضرت ويلـی د ی محرو م يـي و ګنه

---

(۱) په دو همه نسخه کښي (سرتور) راغلی دی .

چه سل په ژه لر ی یـو ه په ژ بـه
هغـه دې پـر ېو څـی پـه لو یـه تبه
چه ژ ړه او ژ به سره یکر نـک لر ی
هغـه بـه خـلاص شی لـه معـا یـبه

* * *

چه بنه زو ولـی و ی له هو ره پـلاره
بنـه تنسته لـر ی سپینـه چو تاره
کـه با ند ې خیر ی یا تـکی پر ېوځی
پـا کـیـز گـی ده و رتـه تیـا ر ه

* * *

چـه عا شقـی کړ ې پېغـو ر قبول کړ ه
دوا ړو خلکو شر شـور قبـو ل کـړ ه
کـه څو ك دې اچو ی و سرو لمبو تـه
دیار د پا ړه سو ر او ر قبـو ل کړ ه

* * *

چه عا شقا نـو دحـق دیـدار لیـد ه
مو سی پـه و نه منصور پـه دار لیده
جلو ه یـې وکړ ه پـه با یز یـد کښې
د تـبر ې تو ري پـه مخ عطار لیـد ه

* * *

چـه عا شقی کا پر پز دی ننـګو نـه
قبـو ل کـا تو ري تو بر ی جنـګو نـه
خپـل ژ ړه خا لی کا دیار و مینـې ته
لـه ژ ړه نه و اخلـی نور نور رنګونه

* * *

چه علـم وکـړ ې عـز یـز ه زو یـه
فهـم پـه علـم په عمل بـو یـه
کمکیـه و نـه بـار دا ړه بنـه د ه
نـه پلنـه و نه بـې بـا ر ه لو یـه

چـه غـم يې نه و ی له نا حقـه خو نه
او ر بـه يې ولګی پـه در سـتـه خو نه
نېسټ نا بو د بـه شـی په دا دنيا کښې
هـو ری بـه پا څـی تور تور مخو نـه

* * *

چه کار يـې بيا يـی فلك پـه کښتـه
چـا ر ې بـه کاند ی بـې مصلحتـه
کجيـر کـه څيـر د ی چـه بې تد ېيردی
پـه خز ه بنـد شـی لـه دې شا متـه

* * *

چـه ګـل د با غ کا خنـدا بنيـا ده
بـلبلـې ژا ړ ی پـه ډېـر فـر ياد ه
څو ك پـه خنـدا کړ ې څوك په ژړاکړې
دا چـا ر ې سـتـا د ی دسبـا بـا ده

* * *

چـه لال اسا دی پـه دوا ړه لـب دې وه
چه سمن سا دی پـه سپين غبغبدې وه
وخت دسبـا شو پـه بور جل زر را څه
زما پـه هو مـره يا رب يا رب د ې وه

* * *

چه لېر ې بـا سـی تـا لـه دا دا ر ه
نـفس دی شيطـا ن دی دنيـا ده يا ره
دوسـتـی د خلـکو د ه څـلـور مـه
د ځـا ن بلا دی وا ړه هـو بنـيا ره

* * *

چـه مستغنـی شی لـه شا ه و مير ه
کـه در تـه بد وا يی که بنه پـه څيره
که هـېڅ پر وا د ې و ربا ند ې نه وی
مرد يـې رحمت د ې په وللـې ژ يـر ه

چه مستغنی و ی له نصیحته
هغه به نه وی بې قبا حته
یا به احمق و ی یا به بد ذا ت و ی
یا به محرو م وی له بنه دو لته

* * *

چه و رته گر ځی په یو ډه ډو ډه
با غکه و ر شی ا خر تر کو ډه(۱)
لو ی په مکا ن د هو ډې ځان بیا یی
خو شحا له ما و ړه له خپله هوډه

* * *

چه هر زما ن مې په ز ړه میشته ده
هغه مهرو یه د ز ړه دمه د ه
خدا ی خو د ې صبر له دې رانه کا
د صبر بخر ه که هر څو بنه د ه

* * *

چه یې کا سه کړ ه دمجنو ن ما ته
مینه یې لا شو ه په لیلا ز یا ته
جور د بنکلیو په معنی مهر د ی
بنکنځل یې بنه دی ډېر تر نبا ته (۲)

* * *

چه یې لر زه و ه په ملك له جیشه
ز ړه یې شا د کا م ؤ له هره حیشه
گو ره په گور کښې هغه شا هان د ی
چه ز غ یې نه شی دمرګ له طیشه

* * *

---

(۱) دا رباعی په دوا ړو قلمي نسخو کښې نشته .
(۲) په دریمه قلمی نسخه کښې (ترښه نبا ته) راغلی دی .

چه يې مخمور ې وې سترګې بې مله
سنبل يې هېڅ وو تر نېه کا کله
وګور ته و لاړ ل هغه مخونه
چهه نيا يسته و و د باغ تر ګله

* * *

ځار شم بلهار شم د يار تر نامه
ديار تر خط تر نبه پيغامه
باد چه را وا لو ځي د يار له لوريه
ورسره وا و ړی خو نبی تامه

* * *

ځنګل ته اور را و په حکم ته زور راوړه
لنبمکر خو ډېر لرې لا هومره نوررراوړه
دا دودهش کړه غريب نواز او شه
چه مفسدان دی پر ې شرو شوررراوړه

* * *

ځوا نمر د که نه يې له مانه فن زده کړه
بخښنل د جر م خورول دنغن زده کړه
چه را غله را غله چه ولاړه ولاړه
خوی د ينلاده منو ، نه دغمجن زده کړه

* * *

ځوا نی دې را کړه له کا مرانی سره
پيو ی د ې را کړ ه له پرېشا نی سره
بيا به مې څه کړ ې په دا خير نه يم
چه مې ژوند ی سا تې له حيرانی سره

* * *

ځوانی که کوږې لکه سره زر ده
تر سر تر پنا يه واړه هنر ده
که هر خو ښه يې عيبو نه نه لرې
(پټول ی د) ولا ړ و عيبلو نو هنر ده

خـوا نی کـه هر خـو یـو نو بهار د ه
چـه دزو مـی تله کا بیـا خه په کارده
پـه اور کښې و سبز ه دګـلابو ګل شه
چه بوی دې پا تې شی دا چارپه‌چار ده

خوا نی مـې و لا ړه پـه غفلتو نـــه
پـه عشر تـو نه (۱) په شد تو نـــه
لولی چه زا له شی(۲) تسبې‌په لاس‌واخلی
هسـې مـې اوس د ی دا طا عتو نه

خو تجر پـه نه کړ ي خپل زړ په ورونه
هـو ښ ه دد یـو په کار مه مـونه (۳)
زو پـه جفـه د ی چه څان څر ګند کـا
ګـنـه بهتر د ی له زو یـه لـــو نـه

خو چه توا نـېږ ي خـو خا مو شی کوه
عیب جـو یی مه کړ ه پر ده پوشی کوه
په زړه زا هد او صه تنهـا عابد اوسه
فتـوا مـې وا خلـه پا ده نو شی کو ه

خو چـه توا نـېږ ي له هیڅا بدمه کړه
څوك چه بنه کېږی باند ې حسد مه کړه
که یې او په و ړی که یې لـمـې سو زی
زړه سو ی په مار پـه لړ م‌په ددمه کړه

---

(۱) په دوارد چا یی نسخو کښې (عسر تو نه) راغلی دی .
(۲)- په دو هـه قلمی نسخه کښې (زړه شی) راغلی دی .
(۳) مونل = ویاړل ، فخر کول (ظفر اللغات) .

خو چه تـوا نهبن ي هو مره نا فع اوسه
تـل تـل دتبکو د خصلت وا ضع اوسه
سو د يـن تر جود تر کرم د پا سـه د ی
دخـدا ی د پاره مشوا ضع او سـه

• • •

خو خو فکرو نـه خو خو اشـو بـه
زړه مـې په غم کښې ستر گې بې خوبه
داخـل مـې و شو ه په مغ کښې سو بـه
نور تـو به تو بـه لـه مين تـو بـه

• • •

خو د ي پـه مغ دی تسلسلـو نـه
سـا ز و نا سا ز د ی وا په گـلـو نـه
دعا شقـا نو تر مرگ پـتـه د ی
د مهـو شـا نـسـو تغـا فلسو نـه

• • •

خو د ي دو لت شتـه هـو مره عزت شته
خو دي صحت شته هو مر ه را حـتشته
چـه پير ی را شی دوا ړه په مغ و ړی
کـه د ي دو لت شته که دي صحت شته

• • •

خو ك دی چـه وا و ړی لـه بد ه کاره
خو يـې وانه ړ و ي پـر ور د گـا ړه
تو به ها لـه نبـه ده لـه تو به گاره
چه تـه يـې تينگ کړ ي پر وردگاره

• • •

خوك چه توانگـر شی په قنا عت سره
افـلا س يـې نشتـه پـه روايت سره
حر ص دبـرشـو م د ی حريص محروم دی
نظر کـه وکړ ي په حد يث آ يت سـره

څوك چه خبر شی د خط لـه خونده
قلم به ړنه ږ دی په حرف بې بنده
شما ره د نورو حرفو څو څخه کټ م
چه یو الف د ی په در ې پیو نده

* * *

څو ك چه قا نع دی مخدو م یې وګنه
څو ك چه حریص دی محروم یې وګنه
که و رورکه زو یه که خپښ که دوصیت دی
چنه ستا په رای نه وی معدوم یې وګنه

* * *

څو ك چه مر دو د شی لـه پیړ ه میړ ه
خا لـی به نه و ی لـه غـمه و یـر ه
ز ړو نـه چه ز ړونه دی لکه ما رانډی
زهر مهره لـر ی پـه ځـا ن خبـیر ه

* * *

څو مر ه د ې خوا ده وها ته ډ کـه
چه تشتو ې یې پـه مـا فلکـه
هـم د ې پیر ې کړ ه پـه ما تعیینـه
هغم دې میـر څـی کړ ه دمغل را لکه

* * *

څو مـې له تانـه در نـه سینـه ډ ه
هغو مره مـې دې سره ډ پره کـینه د ه
چه و رته وګو رې فتنـې په لاس واخلی
چه تـه یـې مسته کړ ې ستا آ ینه ده

* * *

څو نعمتو نـه تر سر تـر پـا یـه
چه تا موند لی د ی له یو ه خـدا یـه
په هـر ه سـا ه یـی شکـر وکـړ ه
کـښه غـا فل نـه یـې ثنـا یې وا یـه

څه ښــه مــې ییا مو ند ه معنی له جاهه
کــه جا ه با لــه شی بد دی تر چا هــه
پــه چا ه بــه هیڅو ك غلطــی نــه کــا
بــې له احــمقه بــې لــه ګــمرا هــه
* * *
څه ښــه باد شا ه و ې شاه جهاں نــه
هــم غــور رسـه هــم قدر دا نــه
چه ته یــې بند کړ ې زو یــه دې نه دی
یــو ه بــلا د ه پیــدا لــه تــا نــه
* * *
حــق دخپلو ی د ځپل په ز ړه کــړ ه
کــه هر څــو بد کا ور سره ښــه کړه
په هر سلو ك چــه پر دی خپلپز ی
سلو ك هــم هســې ور ســره وکــړ ه
* * *
حیرا ن یــم پا کــه پر ور د ګــا ر ه
تا چــه پیــدا کــړ ل داد وا ړ ه دا ره
محتا ج هــیڅ نه‌یــې د څــه د پــا ره
دا هــو مر ه نقــش هو مره نــګــا ره
* * *
خبر چــه نه وی د عشــق لــه کــا ره
په هغــه کس و ی یــا ری د شــوا ر ه
بــې یــار ه عمــر څــه عــمر نــه د ی
زر دې پــه ګــور شی سړ ی بې یار ه
* * *
خبر هــیڅ نه و م چــه دا افعا ل شتــه
د پــ لار له زو یــو سره دا حال شتــه
لکــه عا بد و کړ ه یا بد فر جا م وکړه
داحال په هرچا دی که په خوشحال‌شته

خبر هیڅ نه وم چه و رڅ و ه ټـو مـــه
چـه ز و وم سعـد و ه کـه نحسه‌شومه
غمـه په چـېر ته غلط غلط د رو مـــې
غـر ض په ما لر ې د لـې را د رو مـه

* * *

خبـر هیڅ نـــه یم له خپلـه حا لـه
حا ل مـې به څه کړې یا ذوا لجلا لـه
تکیـه مـې ستا ده ستـا د کـر م د ه
دایم در تلـو نی شو م ډ ك لـه و باله

* * *

خپل خپل فعلو نه د سـ ړی ر هبر ګـنه
په خپله پو هه‌کښې قا بل یو هرګنه
چه خیر غوا ړ ې خیر به بیا مـو مـــې
چـه شر طلب و ی بخر ه یې شر ګنه

* * *

خپلـــه خبـــر ه د ه مـــر غلـــر ه
بـې فکـر ه مه و ا یـه خپلـــه خبر ه
پنـد مې په یاد لر ه که مې نیکخواه‌ګنې
څو چـه تو ا نـېږ ې خـبر ه نـغر ه

* * *

خدای پـه خدا یی بنا یی چه هو مره مینه
دد و ؤ پـه منځ کښې هسی کېږ دینـه
پـه هسې شا ن یـې وبلـه مین کـــا
چـه ځبلـــه ځـا ن و جها ن بنند ینه

* * *

خداې دې اضغاث (۱) کاداوران خو بو نه
چه او س یـې و ینـم په آ شو بو نـه
درو م لښکـر ې په هند و ستان راغلې
نسکـور دشا ه دخیـمې چو بـــو نـــه

---

(۱) غلط او ګډوډ خو بو نه .

خـدا يـه دا کـا ر مـې تر انجا م راو له
تللـی ميـن مـې تر مقـا م را و لـــه
نيولـی باز مـې لـه دا مه (۱) و وت
بيـا يـې پـه بپر ته تر دام را و لـــه

* * *

خدايه در د مـن کړې بـې در دان واړه
چـــه وا ړه ژاړ ی دما پـه غـــا ړه
خوشحـا لـه ملـك دبـې دردو ړ ك شو
در د مـــن په نو رو ملکو نـو غواړه

* * *

خزا ن بد با د دې حـد ر تر ې بو يـه
پـانې د هـر ې ونـــې کـا تـو يـــه
بهـــر ه اخلـــه د بهـار لـه بـا ده
تـا به د ونـې په رنـگ کا زو يـــه

* * *

خـــزا ن و هليـه د لـه نـــا بنـا ده
غـا فلـــــه مه شه لـه دې ار شا د ه
وخت دبـهار شو بيـا به ار مان کړ ې
بهـر ه نـن و اخله د بهار لـــه بـا ده

* * *

خسيس دې پر پـن دی په دوه پشيز ه
هلك د ې پر پن دې په دوه مـو يـز ه
که ته دانايـې زړه به پرې نـه تـړ ې
يـار ی ددوا ړو ګنهـه نـا خـيـــز ه

---

(۱) په دوهمه قلمی نسخه کښې (له جاله) راغلې ده .

خلك په ما کا کينه هم رخه
که خدا ی مې نه کا دچا په سخه
بېل شو م له يا ره ژوند ی لا پا يم
څو ډېر شر مېږ م د يار له مخه

* * *

خوا ره حيرا نه بنی آ دمه
په هېڅ غمجنه په هېڅ بې غمه
خاند ې وژا ړ ې وژاړې خاند ې
دا چار د ې تل ده له عمره سمه

* * *

خوا ره حيرا نه بنی آ د مه !
چه د ې خمير د ی خاورې له غمه
يو دم که و خاند ی په دا دنيا کښې
بيا د ې ژړا و ی په څو څو دمه

* * *

حوبی دعمر تر چل و پنج د ه
که غا نبس که عشق وی تر شسته کنج ده
که غابنس دې نه و ی سترګې دې تتې شی
نور مره که نه مرې پير ی دې رنج ده

* * *

خو بی دعمر تر څلو پښت کا له ده
چه په ځوانی کښې ما له ما له ده
حواس که درست لر ې شکرو کا ړ ه
څو دې و دا نه د عمر ځا له د ه

* * *

خورا ك پو بنا ك دسړ ی دا دوا ړ ه
خو بنی يې کوبنې خپل ځان ته غواړه
بنه بنه ځا يو نه بنه بنه با غو نه
په دا چه و شی شر يك دی وا ړ ه

خو ږه مړ ی ده کـه خو ږ ه ژ بـــه
چـه څو ك پرې خپل کړې زما صاحبـه
هنر هـم دا دی کـــه دا هنـــر لر ې
چار بـه د ې تل و ی تر سیا ل غا لبـه

* * *

خوشحا ل ته مه ګوره ګـو ګل یې ګوره
ډ ك دی د بلـــو لمبـــو دا و ر ه
که شین مزر ی یـې که مست ها تی یې
خپـل ځـا ن له بلو لمبـو نـه ژ غوره

* * *

خوشحا له چا تـه ، وایـې پنـدو نه ؟
خلك خوشحال دی په خپل سندو نه (۱)
کـه زړه د ې وار کا ژ بـه قرا ر کـړه
مات د ی دپنـد دې بار ی (۲) بندو نـه

* * *

خوشحا له زو ړ شوې نوره ځوانی مه کړه
بـې زړ او زو ره حکمرانی مـــه کـړ ه
چـــه در ســره دی دام او ددا ن د ی
لـه دا م او دده زنـدګا نی مـه کـړ ه

* * *

خوشحا لـه مخ کړ ه و ښو کسا نو ته
شـا کړ ه نا اهلـو بو الهو سا نو تـــه
شکر ې تو یـې کړه وشنو توتیا نو ته
مـر دا ر ه وا چـو ه وګرګسا نو تـــه

---

(۱) سند = اتفاق .
(۲) په در یمه قلمی نسخه کښې (باړی) دی .

خوشحا له مـه کـړ ه ددنیـا ځلـه
څـه در تـه وا یم پـه څو څـو ځلـــه
نه به زیـا تـیږ ی نـ به کمیـږ ی
هـر چا موند لی و پـش لـه از لـــه

* * *

خوشحا لـه مه کړ ه ما نـه له چا نـه
فکر پـه ز ړ ه کښې و کړه ای جا نـه
پـه تا چـه کـیږ ی دا هومر ه چا ري
بـلا د ي وا ړ و ه لـــه خپله ځـا نـــه

* * *

خوشحا لـه مه یـي په زو ی وا لی ویاړه
هـم ځنـي مـهر و فا مـه غـــوا ړ ه
هر چه ز و ولی دی دتو تیا(۳)له نسه(٤)
د پـدر کشو پـــه بـــوی د ی وا ړ ه

* * *

خوی دخوشحال‌راوړه په‌زړه خوشحاله اوسه
پـه زړه حلا ل اوسه په‌خوله حلال‌اوسه
مین پـه شرم دښمـن دمـا ل او ســه
دنور چا مـه شه د ذوا لجلا ل او ســه

* * *

خو ی یـي د ښـو شو بی‌بی زاهده شوه
تل په تسبیح په او دس ساجده شو ه
دلاس پـه وللو من ك د تهلیـل شـــو
دمـخ پـه و للو پیشو عا بـده شـــو ه

* * *

---

(۳) توتیا دخان دمشري ښځی نوم دی .
(٤) په دوو قلمی نسخو کښې (نفس) راغلی دی .

دا اکـرا مـو نـه دا انعـا مـو نـــه
دچـا پـه یاد د ی هسې کـا مـو نـــه
په بـو ی د میـو مست شـم صوفی یم
سا قـی را سر کړ ل ډ ك ډك جا مو نه

* * *

دا چـار تـر نـمره لا مشهـو ر ه د ه
نور څـه یـې مه ګو ره دمرد چه تو ره‌ده
دمرد تر تـو ري دا ښـځـه ښـه د ه
کـه ستر پو ښـه پا که مستو ره د ه

* * *

دا چار څر ګنـــد ه پـه هـر د یا ر د ه
بـــد ی ښپګـړ ه د یـار د یـــار د ه
دز ړه د یار مـې خا لی لـه غیـر د ی
پکـښې د لبر ه د یـــا ر د یـــار د ه

* * *

دا خا و ري نه دی چه مو نږ پرې ځو نه
د خیا ل زلمی د ی ګـل ګونې جـو نه
ګو ره‌لـه کو مو خا و زو بـه ګډ شو و
پـه هر زما ن د ی دمرګ پېچو نـــه

* * *

داسحـر ګر ه دنیـا مـکـــا ر ه
زو یـــه و ږز ار کا لـه مو ره پـلا ره
چه یـې لـه مو ره پـلا ره وږزار کـــا
هسـې دا هـــم شی ځنـې و پـزا ر ه

* * *

دا سـبز ګـلو نه ګو ره خو شحا لـــه
ګـو ره چـه څـه شی تر بلـه کـا له
لکـه چه ګـل دی هسې سنتا عمر د ی
زا شـــه خبـر شـه لـــه دې مـــثا له

دا فـا نـې چـار ې فا نـی د ی وا ړ ه
یـو ه با قـــی ده با قـی و غـــوا ړ ه
مو لا پـه یاد لر ه زړه پـه دا ښاد لړه
پـــه دا ښـا دی کښې همېشه ژا ړه

* * *

دا منصبـو نـه دا انعـا مـــو نـــه
وا ړه زنـد ی د ی وا ړه دا مـو نـــه
پښتون مغل به سره دو ستا ن نه شی
خو شحا ل یـې مه و ینه دا اکرا مو نه

* * *

دا یـم ز ه تـېر شو م ترا و یا کا لـــه
تـه را خبر یـې یـا ذ وا لجـلا لـــه
دا غـم مـې نه د ی له اعدا(۱) لید لـی
لکـــه یـې و ینـــم لـــه خپله آ لـه

* * *

د با بـا زو یـه ! دبابـا پـلا ره !
پـه زلفـو لیلـــه پـه مخ نـها ره !
یو سف که هر څو بنـا یستـه روغ ؤ
یـو یا سمـن ؤ ستا لـــه ګـلزا ر ه

* * *

دبـــاد شـا ها نـــو نمنځـلی وا ړ ه
تر هر چا هسکه کـا خـپلـه غـــا ړه
که اصل نـــه لر ی اصل پیـدا کـــا
کـه عقـل نه لر ی عقـل تر ې غوا ړه

* * *

دپا سه نه شـوه داچـه د لانـد ې د ه
بـل ګل به نه کېد ه چه دا دسپا ند ې ده
مه تر ې حیـا غوا ړه مه تر ې وفا غوا ړه
هغـه لنـډ ی ده لکـه دوړانـد ې د ه

---

(۱) اعدا = دښمن .

دچا پـه مر ګـځ شـی خو نـه میرا ته
زما بـې مر ګـه شو ه لا ته پـا ته (۱)
بنـه چه دا هسې شو ه زه هم‌پرې‌خوښ‌یم
چـه لا را نـه شو ه دا بـلا ز یا تـه

* * *

دچا چـه ډ ك وی زړ ګـی لـه را ز ه
کـه پـه و یل یـې نه کا خوله وا ز ه
یا یـې له خو لـې نه څه بو ی روان‌شی
یا بـه یـې رنګ وی دمـخ غـما ز ه

* * *

دچا نا حقه لـه پـیر ی و پـر ه د ه
پیـر ی ایـما ن ده ځوا نی کا فره د ه
شکر و کا ز ه څو لا ځـوا نی لـر ی
که در تـه نا سته نو ې د لبر ه د ه

* * *

دچا نا حقـه لـه مر ګـه و پـر ه د ه
دا چـا ر کـه ګو رې هر ګوره غوره ده
زر ګـر وښی مات کا او بی ساز ه کـا
لا تر و ښـی نه او ب ی بهـتر ه د ه

* * *

ه‌چـا و خوا ن ته خا لـی کتل مه کړ ه
که تل د ې‌خوا ن خوری‌منت په‌بل‌مه‌کړه
چه پر ې با ور ځـی هسی و یل مه‌کړه
چـه ما ل د بل شی هسی ساتل مه‌کړه

* * *

د خپل بـد خوا ه سره پـه تیغ باز ی‌کوه
نه چـه بنکنـځل یا غـما ز ی کـو ه
ژ بـه خو ند ی لر ه د بـد ګـو یـی
پـه حـق راضی اوسه سر فرازی کوه

---

(۱) ګډه و ډه یعنی لته پته .

دخپـــل پـــدر سر ه د خپل پسر سر ه
دپيـــر استـــاد سر ه ديوه هـــر سر ه
خپلو ی کـــه مينـــه کـــه محبت کـــړ ي
په سو د نـــظر لر ي نه د ضرر سر ه

* * *

دخپـــل غليم ســـر ه په تـــو ره جنګ کړه
نه چـــه ښکنـــځلـــي د ښځـــو رنګ کړه
پر هار پـــه ز ړو نـــو د ژبـــي مه ز ده
دنـــا مرد ی لـــه کا ر ه ننـــګ کـــړ ه

* * *

دخلکو ځکـــه د پيـــر ی و پـــر ه د ه
پير ی تر مر ګـــه په ژو ندو ن تير ه ده
درد چه په ځان را شی ها له پر ي پوه شی
په درد مـــي خپله سيـــنه خبـــر ه د ه

* * *

ددنيـــا مينـــي ، يـــا ر ی وا ړ ه
بقـــا هيڅ نه لر ی باند ي مه و يـــا ړه
چه بـــه يـــي ژا ړ ي پـــه جـــدا يـــی
جـــدا چـــه نـــه دی وا ړ ه و ژا ړ ه

* * *

در پســـي و لو ښتم مه کړ ه پـــو ښتنه
هســـي به نه و ی د چا لو ښتنـــه (۱)
بار خو د ي ګـــل د ی و ما يـــي را کړه
مذ مو مـــه نه ده ډګـــل غـــو ښتنـــه

* * *

در ته بـــه څه وا يم کار د خليل ګوره
پـــه سو ويـــي و سا ته دا ور دليل ګوره
سبطی يي پو ري ويست قبطي يي ډوب کړ
دا عقـــل پو هـــه د رو د نيـــل ګو ره

---

(۱) لوښتنه = کوچيدنه او ليږ ديد نه .

درته بـه وا يـم دا دو ه ر مـــو ز ه
کـه پو ه پر ي نه شي لېمـه د ي و و زه
څو چه دي خپل و ی خپل به دي تل وی(۱)
تر سيـا ل به نه و ړي خبـر ه کو زه

* * *

در ته به وايم خپـل حا ل پـه ځـــيره
دا زاد ه ؤ پـــه حا ل خبـير ه
په تو ره ږ يره مـي که څـه پـه کار ؤ
پـه تـېر مـي او نيو ه په سپينـه ږيره

* * *

در تـه وايـ ـم د بنـــکار را زو نـــه
چـه سر ه ونښلی د بنکـــا ر بازونه
تر منځ به خلا صـــه شی د بنکار هيليه
آسما ن تـه د رو می په پر واز و نـه

* * *

در تـه پښتو و ا يـم صا فه سليسـه
بهـر ه کـه واخلـي له د ي حـد يثـه
ذات يي خبيث دی هندکی هرګزمه کړه (۲)
چه تر ي پيدا نه شی يو څـو خبيثـه

* * *

در پـېښه مه شـه د بخـت کـــږ و ه
خـو نی مز ر ی کا پـــه تا بږ و ه (۳)
دباز شـــړ لـي زر کـه مـي و ليـــد ه
دبـاد خـو ر کو بـا ند ي ز و ږ و ه

---

(۱) په چاپی نسخو کښې (خپل به دی بل وی) راغلی دی .
(۲) دپښتو ټولنی په اوله قلمی نسخه کښې دغه مسره داسی ده :
وخت د فساد دی ښځه هرګزمه کړه .
(۳) هغه ګيدړه چه دشپې ناری وهی .

در قیبا نـو پـــه ډپـــر ه ر خـــــه
دا یـم جدا شـــو م دیار له مخـــه
شو خ یم چه پا یم پـه دا ډپر غم کښې
یـو جدا یـی شـو ه دو یـمه سخـــه

* * *

درود پـه غا ړه کښښـه نـــظر کړ ه
غـا فل که نه یـې په دا با و ر کـړ ه
لکـه روا نـې او بـه چـه د رو مـــی
رخصت خپـل عمر ته هم هسې ورکړه

* * *

درو غ په ځان باند ې خـو ن خنزیر کړه
کـه ډار دې کښ ی روایت ځیـــر کړه
طبیب چه وایی هسی تـد بیر کـــړ ه
دا رو د و ینـــو سر ه خمیـر کـړ ه

* * *

درو غ که ا ړ و ی بـلا لـه تـا نـــــه
درو غ خـو ی مـه کړ ه اې زما ځـا نه
راستی پر ې مه ږ ده لـه خپـله لا سه
خـدا ی به پـــه تا کا ګرا نه آسا نه

* * *

در پغـه خـو شحا ل خـتکه د ر پغـــه
چه پر ها رونه شی په تا بـې تـپغـه
په ځا ن د ې وا ړ ه په خـپلـه و کړ ې
نـیـز ه د تـــا ده و تـا تـــه نـپغه

* * *

در پـغه بنه زو یه د ر پـغه بنه و رونه
چا ر یـې تر لعلـو تر درو چـــو نـه
چـه دوا ړ ه تو که لا یق قا بل لـــر ی
هغـه تـه وا یـه کـه مو نـې مو نـه

دښمن چــه وایی در تــه دا مــه کــړ ه
کــه ته هو ښیار یــې وا ړه هغــه کړه
شیطا ن د ې نه پرېږ د ی د خدای طاعت ته
څو ډ پــر بهبود د ی پکښې دازده کړه

* * *

دښمو خبــر ه د ه پــه هره چا فر ضــه
در تــه به و کړ م پو ره دو ه عر ضه
دبد خواه و منـــه د ښځــو مه منـــه
لــه مر ګــه مه تښتــه تښته له قر ضه

* * *

دصاحبا نو حکــم پــه ځا ی لــر ه
نظــر د دو یــو پــه حکم را ی لــر ه
که یې لــه حکمه خلا ف عدو ل کــړ ې
زېر مــه د ګور کړ ه یــا ځا ن ګدا ی لزه

* * *

دعــار فــا نــو لـــه ز ړ، مــرد و د ه
و لاړ ې د د یــن ؤ د نیا لــه شــو د ه
کــه هر څــو ګــر ځــې تر شر قه غربه
سعــی د ې وا ړ ه و یــنم نــا بــو د ه

* * *

دعقـــل بخــر ه عنـــا یــتــی د ه
لا لـــه میــشا قـــه هــدا یــتی د ه
قا بل بــه هیڅېر ې کم عقــله نــه وی
زمـــا خــبـــر ه دا ایــتــی د ه

* * *

دغره(۱)په کانیو کښې که چاکښیا مو ند ه
در تــه به وا یم با ور کړ ه ما مو ند ه
په نو نس توکه ښا یستــه رو غـــه
لکه مــې غو ښته هغه مې ښیا مو نــد ه

---

(۱) په دوهمه قلمی نسخه کښې (زنده) راغلی دی .

دکړيـړي ونـه ترخـــه ز يـږ ه د ه
مـيو ه يـي و لـي پستـــه خو ږه د ه
اثـر دا صل هـر څيـ ز پيـدا کـــا
پـه خو لـه خو ږه ده په ز ړه کږ ه ده

* * *

دکوب و چـو ب د ی دا څو اقوا مـــه
اول عو ر تـه وا و ره ای خـــا مـــه
آ سو نـه خرو نه مر يو نـه و و ړ کـی
بل رعيت د ی پـه دا تـــمـا مـــه

* * *

دلبر ي ساز ي د ی سحر ساز ی ته
لـه خود را يـی و بـي نيا زی تـــه
که زور که زر لر ي توان دشور شرلري
ها لـه هـو س کړ ه شا هد با ز ی ته

* * *

دلور عفـت غـوا ړه دزو يه تـــو ره
هـغه چـــه دالـر ی بـــلا يـي دو ره
چه دا يـي نه و ی مرګ يـي مبلمـه‌شه
مور د ي دو خته شی پـه دوا ړ وبوره

* * *

دليـلا ستر ګـه يو ه ګـل دا ره و ه
مجنـو ن ته پا کـه له عيب وعـاره و ه
چه پر ي ميـن و ی عيـب يي نه و ينی
مينه لـه ځا يـه مـکـر مکـــا ر ه و ه

* * *

دمرد پيـغور ده جـا مه و ږينښمينـــه
نه د ي مهيـنه و ی نه لار نـکينـــه
دا کسو تـو نـه د ښځـو بـــو يـــه
ښـځو ه دمر د د ه په جا مه سپـينـــه

دمرد چـه نه و ی لـمن خیـر نـــه
پـا ك و ی په ژ بـه پا ك وی‌په (۱)ژمنه
که زر بـلا وی اند وه د ي نـــه کـا
فـر بنبتـي به وا ړ و ی بـلالـــه ده نه

* * *

دمـرد چـه نـه و ی وینـا محکـــمه
پـه د ه به نـه شی در غلـــه سمـــه
چه یـو یـي ز ړ ه و ی یـواه خبـر ه
خلا ص و ی لـه همه خلاص و ی له غمه

* * *

دمرد دعلـم د هنـر لـــه حا لـــه
زر خبـر دار شـي له قیل و قـا لـه
دنفس لـه حا له یـي ها له خبـر شي
چـه ور سره وي پـه یو خـو کـا لـه

* * *

دمـرد دعمـر خـو بـی تـر چـل د ه
تـر شپـپتـه پو ري لا د و ر بـل ده
تر دا دپـا سـه و خت د پـیر ی شی
کـه یـي د عـمر بقـا تـــر سل د ه

* * *

دمردو قـار ګـوره دهر د تمکین ګـو ره
مهر لـه دو ستـه له اعـدا کین ګوره
بیا یـي لـه پسه دین و آ ئیـن ګـو ره
هغـه چـه دا لر ی بخت یي قرین ګوره

* * *

دملو کـا نـــو په را ز خبـر مـه شـه
کـه پر ي خبر شـي د ځا ن خطر مه‌شه
راز یـي د ز ړه په صندوق کښي وساته
پـه بنکا رو ل یـي چا ته لربر مه شه

---

(۱) ژمنه = وعده ـ قول. په دریمه قلمی نسخه‌کښي (زمنه) دی .

دملـو کا نـو د قـر ب بـــا مو نـــه
لو ړ د ی پر ي مــه خپز ه پەړپرکا مونه
کــه ناکــها نـــه و رځنــي و رغـــړي
رو غ بــه بيا نه مو مــي خپل اندا مونه

* * *

دمور په نس کښـــي فر بنتـــي، يـــا ر ه
دسړ ی و کښـــي دا يـــو څو کـــا ره
رز ق ، فعلونه عمـــر ، بنـــه بد بخـــت
دا و سو ســـي د ی د څـــه د پـــا ره

* * *

دمـــهو شـــا نـــو مينـــه مشکـــله ده
غـــم يـــي د يار و ی بنا دی يـــي خپلەده
څو ور تـــه نيا ز کړ ي در باند ي ناز کا
د جـــدا يـــی بـــلا يـــي بلـــــه د ه

* * *

دميو مستـــــه هغـــه محبـــو بـــــه
در ستـــــه په مشکـــو په ګلا بو ډوبه
سر تـــو ره را غله خورې يـــي زلفـــي
بـــو ســـه يـــي را کړ ه تر قندو خوبه

* * *

دنـــو دولتـــو دنيـــا کـــه ډيـــره د ه
د جود و ينا يـــي لـــه دلـــه هيـــر ه د ه
څو ك د ي يـــي ګـــر م او مـــلا مت نه کا
يـــو ه بـــلا يـــي تر تنـــد ی‌تـــير ه د ه

* * *

دنيـــا بو ډ ی د ه د کا لو ډ يـــر ه
تـــر سلـــــو ز رو مـــړ و نو تـــير ه
د ډيـــر و مـــړ و نو ما غـــز ه يې وخوړل
لا بـــه يـــي خور ينـــه پر ي نه ده‌سيره

دنیـاکـه دا ده چـه را ښکـا ره شوه
ښـه چـه دو ختـــه لا ا وا ره شو ه
خوارزه خپل زوی وو خوارزه خپل ورونـه
زما لـــه دو یـو نـه سینه پار ه شوه

* * *

دنیا مر دا ره د ه ـ ګند ه بـد بـو یـــه
چـه پر ي .تـو لیږ ی لـه هره سو یه
واړه سګـا ن د ی ګـر ګا ن ددا ن دی
با نـد ي غـو غـا کا دنفس لـه خویه

* * *

دنیا مـي و لید ه ددنیـــا کا رو نـــه
ښا دی یـي غم د ی ګل یـي خا رو نه
څو درتـه پـر پو ځـی پـه انبا رو نه
په زړه دي پـر یو ځـی هو مره با رونه

* * *

دنیـا نـا څیـز ده بـــي دنیـا ژ و ه
دنیـــا کـه څیز وا ی دنا دا ن به نه وه
اهـــل بـه نه مـو مـي نا اهل وپر دی
لـه خلکـو ګر ځـه جـدا پـــه یـو ه

* * *

دنیا یا پـا لـه ده یا سپینـــه تو ر ه ده
نـیکـی بد ی یـي و رته حضو ره د ه
چه د ي ر ضا د ه هغـه په لاس وا خله
په هـر ه چار کښي راستی منظوره ده

* * *

دنـیك خوا هـا نو تـر بیتـو نـــه
دبـد خوا ها نـــو سیـا ستـو نـــه
چـه دا یـي نه و ی ملـو ك یي مه بوله
کـه هر څـو ښـه وی پـه خصلتو نه

دوستنـــا ن د ې ژو ه بد خوا ه د ې و مره
زه بر لـــه تا و خو رم تـــه بر له عمـــر د
چه هـــو مره مهر ته په اغيار و کـــړ ې
يار بـــله د ې پا يـــى له هسې عمـــــر د

* * *

دولت چـــه ستا وى مود يـــې و ګنهـــه
چـــه دنور چا و ى نا بود يې و ګـــنهـــه
حسد په ما ل مـــه کړه حرص دمال مه کړه
هغه چـــه دا کامـــر دود يـــې و ګـــنهـــه

* * *

دو لت چـــه مو مـــې د چا لـــه لا ســـــه
نکبـــت هـــم مـــو مـــې له هغـــه نا سه
دى دې پـــه مثل پر ور د ګا ر شـــــو
بد کړې که نه يـــې تر ې بى هـــرا سه

* * *

دو لت خيـــمه د ه زو يـــــه مـــيخو نـــه
بنيـــه زو يـــه ز پـــږ ى د پـــلار په خو نه
غـــم دمور پـــلا ر ددو لت نا تـــار وى
تور شـــه دبد و زو يـــــو مخـــو نـــــه

* * *

ديـــا ر وفـــــا ګـــو ره را ستى دا دوا ړ ه
هغـــله چـــه دالر ى و ر با ند ې ويا ړ ه
کـــه بنيا يستـــه و ى اد ب هنـــر لر ى
يـــار د ې هـــم دا دى بل يار مـــه غواړه

* * *

ديـــن چه خا لـــــى شى لـــه بنيـــه يقيـــنه
کفـــر بهتـــــر د ى تـــر هغـــــه د ينـــه
چـــا دا خبـــــر ه څـــه بنه ويلـــې د ه
ما تـــــه ليـنـــه ه د ه نـــا قصـــه مـــينه

ډو ډی غنمینـــه و ی که او ر بشینـــه
پـــه وخت د لو ړی خـــو ړه لـــګینـــه
مـــو ږ دنبـــا تـــو حلـــوا تـــه نه ګو ری
هو ښیـــا ر به پـــو ه شی په دا را زو نه

* * *

را تـــه ښـــکا ره شـــو وګـــړ ی وا ړه
دو ه بـــه نـــه و ینـــی پـــه یو ه غا ړه
وفا بـــه نـــه مـــو مـــې لـــه آدم زا ده
لـــه تـــا چه وز ږ ی باند ې مه ویا ړه

* * *

را شـــه ښېګـــنه دو نـــې ګـــو ره
خپل ځـــا ن پـــه نمر کا بل کا ترسیوره
په سنګ یې وو لـــه میو ه دروا چـــو ی
خصلـــت له و نـــې واخله ا ی و رو ره

* * *

ربـــه چـــه ما ت کړ ې دا صور تو نـــه
بیا بـــه یـــې ساز کړ ې په حکمتو نـــه
دنور چـــا نه دی دا صنعـــتو نـــــه
ر بـــه تـــا ښا یـــی دا قـــدر تو نـــــه

* * *

ربـــه در د منـــد کړ ه بـــې در دان وا ړ ه
چـــه وا ړه ژا ړی زمـــا پـــه غـــا ړ ه
خوشحا لـــه ملـــك له بـــې در دو ړ ك شو
در د منـــد پـــه نو رو ملکو نـــوغواړه

* * *

رنـــځ یـــې په غا ړ ې په غرو نو کښېږ ده
ګـــو هر ګو هر د ی خدا ی یې راپرېږده
سعـــا تمند شـــــه د پـــلا ر پـــه خو نه
مینـد ې دا هســـې زو یـــــه تل بلـــېږده

ژا غ او ز غـنو خـا لـی غلـغـل ز ده
دګـلو قـــد ر شیـدا بلـبـــل ز د ه

هغــه چه نــه لــر ی مستـی دمیـــو
هغــه مـې کلـــه پــه ګـل ومل ز ده

* * *

زر دې و رنه شـــی دنا دا ن تر ګو ره
پــه زر دو لت د ې عز ت د ی ګـو ره

چــه بــد يې خر څ کـا قدر يـــې نه لری
کـا سه يې زر شی په ډا ګ نسکـو ره

* * *

زر غور زوو نی شه ځوانان‌ساتو نی شه
ځوانا ن سا تو نی شه زر غور زوونی‌شه

د هر چا و ړو نی شه سر داری‌کړونی‌شه
سر دا ری کړ و نی شه دهرچاوړونی‌شه

* * *

زړه مې دې رو غ کړ د لبر ې واه وا ه
کــه زر يــې را کړې په غــيږ کښې‌آه آه

وخت دګلونــو شــو تــا زه بــهار د ی
بنبــه مخ تل تل ګــو ره با ده هم‌ګاه‌ګاه

* * *

زما تــو بــه ده لــه نــا دا ن يــا ر ه
چــه يــې يا ر ی د ه مــېر څی تيا ر ه

دی به دې بنــه غوا ړی تا ته به بد شی
غــم بــه پيدا شــی دده لــه پيا (۱) ره

---

(۱) پيار هندی لفظ دی يعنی مينه او محبت .

زما دا يـمه خـدا يـــه مـو جـو ده !
و جـو د د هـر چا د ى د تا لـه جوده
معبـو د بل نـه لر م معبـو د مـې‌ته يې
معبـو د مـې بل مـه کړ ه زما معبـوده

* * *

زمـا دا يـمه قـا يمـه خـــدا يـــه
په خپل صنعت کښې قد ر ت نـما يـه

تـا مسلما ن کړ م تـا زه کا مرا ن‌کړ م
عـز يز د ې را وستم عـز يز مې بيا يه

* * *

زما لـــه د لـــه د بدو خواست بيا يه
و بنـو کا رو نـو ته‌يې په زغاست‌بيايه

ظلـو م جهو ل يـم پـه کښ و لا رو ځم
الـله تـه مـې په راه راست بيـا يـــه

* * *

زما نه او ر د ه اې نـــا نغتـا نـــد ه
تـــه وچ لـر ګـی يـې نه لښتـه تانده

دا اور به تا و ته پـه منـد ه درشی (۱)
کـه ژا ړ ې ژا ړه کـه خاندې خا نـده

* * *

زما نه او ر ده تـــه لکـه سپـا ند ه
کـه نـن ونه سو ې په اور کښې ګانده

هـم به لو ګـی شې هم به اير ې شې
کـــه ژا ړې ژا ړه که خاند ې خا ند ه

---

(۱) په دو همه قلمی نسخه کښې دا مصرع داسی را غلې د ه :اخر به دا اور وتا ته در شی .

زویـه بد بخـت شی په دا دو ه کا ره
عا صـی لـه خـدا یه عا صی لـه پلاره

بد بخـت چه کښېنی پـه ګلستا ن کښې
ګـل به یـې نه شی نصیب بې خا ر ه

* * *

زو یـه چه وو ت د پـلا ر لـه را یـه
تـو بـه د ې و کا کـم بخت تـه وا یه

تو بـه کـه نـه کا سز ا بـه مو می
پـه دوا ړ ه کـو نه له یوه خـدا یـه

* * *

زو یـه که ووځـې د پـلا ر له را یـه
ز و یـه د چا یـې کم بخت ته وا یـه

تر پیل که لاند ې شی اندو ه یې مه کړه
په پیل که پا س کښېنې هم یې مه ستا یه

* * *

زو یه مـې د پر د ی وا ړه عز یز او سه
په هر ه چا ر ه کښې صا حب تمیزاوسه

خو یو بهرا م دی په خوی نا څیز د ی
لکـه نا څیز د ی هسې نا څیز او سـه

* * *

زه تا پیـدا کـړ م له مـا ؤ طیـنه (۲)
بر خه د ې را کـړ ه دد یـن مـتیـنـه

دین مـې منلـی د پا ك رسـو ل د ی
زما تـو به د ه لـه غـیـر ه د ینـه

---

(۲) اوبه او خاورې .

زه دې کبـا ب کړ م خدای دې کباب کړه
غـلیم خو نه یـم څـه خو حساب کـړ ه

نه دې و فـا شتـه نه دې جفـــا شتـه
نا کســه در ومه خـدا ی دې خراب کړه

* * *

زه چـه پیدا یم و هغـه کار تـــه
چار مـې ښکا ره د ه وکرد ګـــار تـه

یا ننـګ یـا تو ره یـــا د ل آر امـې
یـا ز ړه تـل تللـی و هر هـر ښکارته

* * *

زه ډېر میـن یـم پـــه ښـه خبـر ه
نـــه ښه خبـر ه نـــه مر غـلـر ه

چـه ښـه خبر ه لـه چـا نـه وا ور م
وا یـــم چـه ځـار کړ م مهرا نځو زره

* * *

زه هـیڅ خبر نـه یم له خپلـه حـا له
هغـه جنین (۱)یم بې قیل وقـــا لـــه

وز ی شـم و ژا ړ م مـو ړ شم خندا کړم
هـو مر ه پـوهـیږ م په څـو اشکاله

* * *

زه یـې خبر یـم لـه ز یا نـه سو ده
حسد مـذ مو م د ی غـبطه محـمو ده

حسـد د چـا دی دنـــا مـــر دا نـو
غبـطـه را پـا څـی د مر د لـه جوده

---

(۱) جنین = هغه بچی چه دمور په نس کښې وی .

ژا ړ ه غـا فلـه پـه بـار بـار ژا ړ ه
د ځـا ن بـلا شو ې پـه خپلـه دا ړه
کـه دا جـهـا ن دی که بل جـهـا ن د ی
در ځـخه و لا ړ ل پـه غضلـت دوا ړ ه

* * *

ژبـه په تـن کښې څـه عجـا یبـه ده
صحـت هم ژ به د ه ژ به هـم تبـه ده

چه بنـه مـې ځیرکړ بنه پر ې خبر شوم
جنـت‌هـم ژبه د ه د و زخ هم‌ژبه ده

* * *

ژبـه مـې نـه دری لـه نصیحـتـه
وایـم د عـمـر لـه حـلا و تـه

اول ځوانـی د ه بیـا تـند رستـی ده
بیـا یـې خـو بـی د ه لـه بنه دو لته

* * *

زیره دې سپینـه شوه ځوانی دې ولاړه
و ګـوره تـه لاړ ل ، همـزو لـی وا ړ ه

اوس د ې د غمه سره ژوندو ن د ی (۱)
ژا ړ ه خـو شحـا لـه خـتکه ژ ا ړ ه

* * *

سا قـی بیا مهـر کړ ه دمیـو مهر شه
دمنـځ د تلـې مقـا م د مهـر شه(۲)

پکښې به ډبر ې ډبر ې خو بنـی و ی
بیـا را بر سـپر ه د فلـک مهـر شـه

---

(۱) په دو همه قلمی نسخه کښې دا مصرع داسې راغلې ده (اوس‌دې ژوندون دی دګورپه غاړه) .
(۲)تله ، دمیزان میا شت .

ساقـی تحویل دی وکړه وتـه (۱)
پاڅـه را وا خلـه هغـه تـته
چه ما بـه تا سره پـه یا دو وخـښه
هغـه زه زه یـم هـغـه تـه تـه ؟

* * *

ساقـی را پـا څـه پـه وزی را شـه
د تـا د ستـر ګـو بـلا پـه ما شـه

یـو څـو لبر پـزې پیما نـې را کـړه
دا وړی مـړ یـم تـه مـې عیسی شـه

* * *

ساقـی را پاڅـه د یو ټ (۲) هوا ده
دغـه رضا یـې لا تـر جـو زا د ه

څـو لا یو ګل شته په باغ و را غ کښې
ایـا غ را نو شـه ز مـا ر ضا (۳) ده

* * *

ساقـی و ما ته ډ کـې پیا لـې را کړ ه
شرا ب په خـم کښې ددنیا لـې راکړه

بل بـه زما غوند ې میخـور پیـدانه‌شی
کو زې په سای‌کښې دسنهیا لې راکړه

* * *

سحر مـې‌خوب لیده اندو ه مې زیاته‌شوه
می مې چه وڅښل پیا له مې ما ته شوه

سمند مـې پـا سه په بام جولا ن کـړ
لـه بامه پـر پو وت شا یې غبرا ته‌شوه

---

(۱) (وته) وتل او باور .
(۲) دختګو په علاقه کښې د یو ځای نوم دی (کامل) .
(۳) په دریمه قلمی نسخه کښې داسی ده : تلوارپه دورکړه‌زما رضاده.

سخـا پـه هر چا په خپلو لا ښـه ده
پـــه ښـو و يلـو ژبه ګـو يا ښـه ده
دښـود لبـــرو سره خنـدا ښـــه ده
خو شحا ل ختك ته دنيـا پـه دانښه‌ده

* * *

سر په زانو کښيږ ده‌دا چار حاشا ښه‌ده
تـر بـا غه را غـه دا تـما شـا ښه ده
څو کـام تر ې مو مـې په غم کښې‌درومې
دنيـا کـه دا ده دنيـا تـه شـا ښه ده

* * *

سر په زا نو کښـــيږ ده‌خوشحا له راشه
قدرت يـې‌ګـو ره پـه تـما شـا شـــه
لعـل پيـدا کـا لـــه سخـته کـا نـی
خليـل پيـدا کا لـه بت تـرا شـــه

* * *

سر دار تـه بو يـه دا يـو څـو څـيز ه
چـــه مـړ نـی و ی زمـا عـز يـز ه
دا دو د هـش لر ی د ين و دانش لر ی
نه بـې را ستـی و ی نه بـې تـميز ه

* * *

سړ ی خا لی شو ل لـه سړ ی تو بـــه
دچـاچـه ګـو رم فتنـې اشو بـــه
په بل‌کښې‌شل دی په خپل کښې سل‌دی
بـل وی که خپل وی تر ې توبه تـو به

* * *

سړی که تور دی که سپين پـه دامه شه
دمرد پـه کار کښې عقل خطـا مـه شه
تن يو غـلاف د ی ز ړه پکښې تـو ره
مدار پـه توره دی غـلا ف نما مـه شه

شپـــه د برات وه يو خـــو ب مـــي و ليده
کال يې غصه (۱) دی هرګوز مې‌ښه ليده

دوه توري ما تـــي شوې يوه‌مې روغه شوه
دو هـــمه توره مـــي پـــه رغېد ه لـــيد ه

* * *

شراب خو ښې لر ی پـــه ځنبل بسيا ره
خـــو ښې يـــې نه و ی بيـــا بې خما ره

هرچه دو اـــت لری نکښت دې ياد لر ی
غره دې نه شـــی پـــه ځـــان يکـــبـــا ره

* * *

شرم يـــو سف دی ار زا ن يې مه پلو ره
غـــټه پـــه کار ده و ړو ته مـــه ګـــو ره

نر ی و نه پـــه نـــر ی با د ښـــو ری
کـــه لو يه و نه يـــې په لږ باد مه ښوره

* * *

ښځـــه خوشـــحۍ يـــه غوا ږه خوش‌رويه
که نه بـــد رو يـــه ښه ده خوشحو يـــه

مينـــه يـــې ډېر ه تر رنګ په بو ی شـــی
څو ك چـــه خبـــر د ی د ګـــل له بو يـــه

* * *

ښځـــه چـــه پا که و ی او پا کدا منـــه
دد ې په نور و ی خـــو نـــه رو شنـــه
پـــل د نا پـــا کـــې لکه اوږ ، بـــل و ی
پـــه خو نه بـــل شی ددې لـــه تنـــه

---

(۱) غصه دا بجد په حساب (۱۰۹۵) کيږی‌اوپه دوهمه قلمـــی نسخـــه کښې (غفج) راغلی دی چه (۱۰۸۳)کيږی ۰

بنځـه چـه ځوانه د ه هـو مره صحت‌ده
څـو چـه ز ړه ده هـو مره زحمـت ده
او لاد چـه بـد را و ړ ی مېر من‌ومه ويني
او لاد چـه بنه را و ړی وينځه نعمت ده

* * *

بنـځه چه خلاصه و ی له هـره عيبـه
زړه يـې خا لـی وی لـه مکره ر يبـه
پـه مصلحـت بـه يې چېر ته بيا مو مې
مـګر پيـدا شـی چېر تـه له غـيـبـه

* * *

بنځـه چه ورشی تـر چـل و پنجـه
خـو بـی‌يـې ولاړه ما رده بـې ګنـجه
که ځان تري مو مې تر ې پستنه او سه
خلاص يې د رنـځ شه خلاص يې له کنجه

* * *

بنځه کـه هـر څو په مخ ز يـبـا د ه
پـه هر هنـر کښې پسنـد لـې دا ده
ظا هر يـې مه ګـو ره با طن يې ګو ره
ها لـه يـې ستا يـه کـه دا پار ساده

* * *

بنکار د ټـو پك نشته نه بنکار د باز شته
که مې په زړه کښې ددوا ړو راز شتـه
کتا ب قلـم لر م اوس پر ې وپرېـز م
دا د پـير ی نـا ز او نـيا ز شـ ـتـه

* * *

بنکلـی ځوانا ن د ی کـه بنکلې جو نه
پر ې می سلام دی مونږه بـه ځو نـه
سـخ دهغـو د ې چـه لمن پا ك و ی
قـضا يـې نه و ی زه ژ ې لمو نځو نـه

صبر دز ړه را و ړه را ستی دا دوا ړه
هـمت پـه کار کښې له خدا یه غواړه
که کام دفتح وظفر بـیا نـه مـو مـې
تـا وا ن دې واړه ز مـا پـــه غـا ړه

* * *

صحـت چه نه‌وی لـه بنه احبـاب سره
عمـر تـیر ېږ ی لـه ډېر عـذاب سره
هو بنیار هېڅېر ې بې غلطی نـه و ی
خـطا تر لې ده ا هل صوا ب ســر ه

* * *

صوفی دا هومره له ما نـه ز ده کـړ ه
نور چـه پو هـې بزی وا ړه هغـه کړ ه
مستا نو مستـې پیا لې نو شلـې د ی
هـر څـه چه وایی غرض پر ې مه کړه

* * *

طـا لـع کـه ډ ك لر م لـه هر ه عیبـه
یو کـار یـې بنه د ی بـې شك و ریبه
چه څـو ك مـې پـا څـی پـه غلیـمی
ور با ند ې پـر یو څـی بـلا له غـیبـــه

* * *

تبـا خ چـه ووځـی تر یو څو لا سه
ورځـنې و خو ری د پا سه پـا ســـه
پا تـې خوراك یې خوراك دسپـیو د ی
یـه دا خبـر شـه سخـن شنـا سه

* * *

عا شـق و بزار دی لـه موړه پـلا ر ه
پـر وایـ ـې نه شی لـه نوړه نـــا ړه
و دیـن تـه شا کا تر ایما ن تـېر شـی
کفـر قبـو ل کـا دیـا ر د پـــا ړه

عثما ن د ي وو ا ژ ه خو نـی آ سما نـه
علـی د ي هم کړ پـه تـېغ بې ځا نـه

حسن حسین دي دوا ړه شهیدا ن کړ ل
اوس بـه ته وا ړ و ي توره لـه چا نه

• • •

عجـب سنو دا د ه د کا (۱) بیـن غو ته
چـه ښه و ی ښه شی و بله بو (۲) تـه

فرزند چه ښه را و ړی سود يې‌بې‌شماره
که نه دد رو سـو دا شو ه ترو ته (۳)

* * *

عشـق د ځـوانـی وښکلـي تـو ره
ځـار يـې تـر فسقـه هـم ترفجوره

چه مـي نیو لـی د پیر ی په دو ر دی
اوس مـي دا زهـد د ی‌لـه ضرو ره

* * *

عـطا دخدا ی د ه دا یـو څـو څـېز ه
تر دا بـه نشتـه نور څـه عـز یز ه
یـو ښـه جما ل دی یـو ښه خصال‌دی
چار د قـو ت ده ورسـره نیـز ه

* * *

غر ق پـه نعمت‌کښې‌یم تر سر تر پا یه
ز ه دا نعمت لر م لـه خپله خـدا یـه

شـکر سپا س به يې په څو په ځای‌کړم
چـه پیـدا شو ی یم ضعیف له ځا یـه

---

(۱) مهر ، دکابین غو ته ، و اده .
(۲) ناراضه ، خفه (۳) فضوله ، نقصانی

غریب یم بو لم د غر بت بد لـــه
رنځور شو و درا ږه د بابا دله
نا بو د بو لاق د ی کـه بـر وړ ی د ی
را غلي مه وا ی تـر بـر مو لـه
* * *
غضب ملـو ك لـر ه درو غ مـلا لـر ه
بخـل غـنی لر ه فحش نـسا لـــر ه
دا څلـور تـو کـه هـر ګوره بـد دی
فکر چـه را غـی پـه ز ړه کښې مالره
* * *
غلیـم مـې زر دی پـه دا دو ه رنـګه
لکـه چـه را شی ځی مـې لـه چنګـه
بل پـه اسا نه را لـــر ه نـــه را ځی
بـې سپینې تو ري بې ډبـره جنـګـه
* * *
غـم و غلیـم تـه لـه د لـه دو ره کړ ه
خاند ه هو س کړ ه بنا دی سر ور کړه
کـه مخ دې زړ و ی په دلګیر ی کښې
تـه یـې په دوا ړو څـپړ وسوړ کـړه
* * *
فر زند چـه وو ځـی د پـلا ر لـه رایه
بنـا دی یـې کومه ده بد بخت ته وایه
دانـه کـه ووځـی دپـلار لـه حکـمه
خر وار بـه مو مـی بد ی لـه خدا یـه
* * *
فر ښتـه کـه کښېنـی چـې ري له د یوه
څـه به زده نـه کا بـې مکـرو ز یـو ه
چـه سره ګډ شي خوند به یې نورنه‌شی
کـه مړ غـو نی کښېږ د ی له سپـو ه(۱)

---

(۱) سپب ـ منه .

فـولادي تـوزه وی کـه لړ به تبـه
تر دا لا بـده بـد ګـویه ژبـه

دېـرې بـلا بـه در څخـه واوړی
ژبـه که بند کـړي دپنـد طـا لبـه

* * *

قاضـی مجنـون یـم عمر دې دېر شـه
او عشق ته ګـوره تـر عقـل تـېز شه

خولـه د لیلا ده د عـشق پـه شرع
په مو زی ګیو ز هر ګنـه پـر شـه

* * *

قدر د ګـل و د مـل مستـا نـوزده
نه تیره د لو نـه تنګـد ستا نـوزده

هغه چه نه خوړی په می څـه کار لړی
راز مـې د میو می پـر ستا نـوزده

* * *

قران چـه لو ست شی پـه هغـه خونه
ځنـې به دیو کـا خـېمه بـېر و نـه

څـو چـه بنادی ددوا ړ و کـو نو د ی
پرې به دده شـی خونه مشحونه (۱)

* * *

کار چـه خپـه شـی پـه افـکا رو نه
وا ړه انبار شـی هغـه کـا رو نـه

ځینـې کا رو نـه نـن لـکه ګـل د ی
ګـانده (۲) هغه شی لکه خا رو نـه

---

(۱) وکه .
(۲) مستقبل .

کار د بېچو ن او دبېچکو ن ګوره
دمځکې مر ګ ګو ره بیا یې‌ژ‌ندون‌ګوره
په سر دپا سه دا شیې سیحو ن ګو ره
پکښې دستو روما هیو یو ن ګو ره

* * *

کا مل چه و ګو ری و کا ینات ته
نظر یې و شی و هر ذ را ت ته
په هر ذرا ت کښې هستی د حق و ینی
دلیل یې ور ولی دحق وذات ته

* * *

کله دخا صو نصیحتو نه
کله د عا مو ملا متو نه
لا د او له په عشق کښې دا دی
بیا پسې نو ر نو ر فضیلتو نه

* * *

که باد شا هی د ه که و زیر ی د ه
که خوا جګی ده که ا میر ی د ه
زوال دوا ړو و تا ته وا یم
څر خ د فلك د ی مر ګ دی پیری‌ده

* * *

که باوری شی د بنکا ربا ز ونه
بیا یې نظر و ی په پر وا زو نه
بنځې هم هسې د بنکار با زو نه د ی
هو بنیا ر به پو ه شی په دا را زونه

* * *

که پند زما منې نمك حرا م مه شه
تر ډ‌پر و پا تې جو ته طعام مه شه
جو ته طعا م مې خورا ك دسپیو د ی
غصه په ز ‌ړه کښې په دا کلام‌مه شه

کــه پندمې نغو ږ ې مه کړه دوه تو که
خوا ست د خسړ ی لــه خپلەروکه (۱)

درو غ خبــر ه پــــه خو لـــه رامه وړه
پــه کا رو با ر کښــې له واړ ه تــو کــه

* * *

کــه تا زی ژ بــه هرګــو ره بنــه د ه
فــار سی هــم ډېر ه په خونــد خوږ ده

چا یــې پلــو د جما ل وانـــه خیست
پښتـــو لا هســې بــکړه پــر تـــه د ه

* * *

که تــل به پا یــې غم دجها ن خــو ره
دجها ن غم مه خو ره غم د خپل ځان‌خوره

دانقــد پــه لاس کښې ابتــه مه کړ ه
دضا یــع شو ی عمــر ار مــا ن خــوره

* * *

کــه‌تـــه‌آ دم یــې کــار د آ دم کـــړه
کږ ې‌بــه څــو کړ ې کارو نــه سم کــړ ه

ددنیــا خلــك سپــی د ی ددا ن د ی
صحبت لــه سپیــو ددا نــو کــم کــړ ه

* * *

که تـــه باد شا ه یــې دتخت دپا سه
خدا ی تــه ګدای شه خبر شنـــا سه

عار ف د ځان شــه دوست دسبحا ن‌شه
غــیر فکرو نـــه له ز ړه و بـــا ســه

---

(۱) بنایی له روکه څخه مطلب روکی = اړوروی .

که ته خبر شي له دې ر موز ه
سپی چه لنګه شی له ګرګه یو زه
نتا یج یې وا ړه نا بو د پیدا شی
وحشی صفت وی مر تبه کو زه

* * *

که ته رنځور یې طبیب طلب کړ ه
ورته زا ری ژ ړا شغب کړ ه
که رو غ یې واه واه خو ښی طر ب کړه
چه تل تندرست اوسې هسې سبب کړه

* * *

که ته لو یی غواړې ز ما پسر ه
لو یی به نه مومې بې درد سر ه
صرفه په زړ مه کړ ه وپر ه د سرمه کړه
مګر په دا کړ ې لو یی تر سره

* * *

که ته و فا غوا ړې له ما نه جا نه
و فا به نه مو مې له د ې جها نه
وفا به بیا مو مې په بل جهان کښې
چه غرضونه و وځی له میا نه

* * *

که جود په ما و کړ ې بهتر د ی تالره
که جو د په ما نه کړ ې بهتر دی مالره
دجود په کړ ه به منت په ما بار کړ ې
منت چه نه وی ښه دی دا نا لر ه

* * *

که چا ته و کړ ې د ز ړه خبر ه
تا کید پر ې و کړ ې چه ویې نغر ه

که دې خپل زو ی وی ګومان پرې مه کړه
چه به یې نه کا چا ته ظا هر ه

کـه چار د عـقـل لـــر ې بسیـار ه
چـار پـا ی به نه کړ ې ګـویا هوښیاره
تـه خا مو شـی ز ده کړ ه له چارپایانو
چـه خا مو شـی لر ې فا یـده تیـا ره

* * *

کـه چېر ې و وینـې عیب لـه یـاره
بښکـا ره یـې مه کړه دخدای دپـا ره
عیب پوشی بنه ده که عیب‌جو یې‌بنه ده
فکـر دد وا ړ و و کـړ ه هـو بنیا ره

* * *

کـه خبر دار یې بې شکره نا ن مه‌خوره
د تـېر ې چار ې په ز ړه ارمان مه خوره
پیوند دعـمر په ویښتـو ټر لـی د ی
غـم‌دخپل ځا ن خو ره غم دجهان‌مه خوره

* * *

که خپل خدای پېژ نـې را ته و وا یـه
در تـه بـه وایـم اې ر هنـما یـه
خدا ی‌مې هغه دی‌چه نیست‌وم‌هست‌یې‌کړم
زما تـو بـه ده لـه بـله خـدایـه

* * *

کـه دا خـو ، دا ده ، بـید بـید یا ده
چـه دا زمـا ده کلـه ز مـا ده
کـه دافـنـاد ه بلـه بقـا د ه

عـجب غـو غـا ده عجـب سو داده

* * *

کـه دګلا بـو دګل خا رو نـه شتـه
بیا یـې په ګل کښې دېر دېر کارونه شته

اول یې رو ی ګوره بیا یې بنه بوی‌ګوره
بیایـې په سو لو کښې څه‌کوپا رونه شته

که دې په تن کښې دنس هـوا شتـــه
با لـغ لانه يـې نه دې صفا شتـــه
که کار پــه حکم د رو ح اغا ز کړ ې
فېرو ز مند ی د ې په دين دنيا شـــتـه

* * *

که دې پــه غو لی و لا ړه و نــه د ه
هــو مره پر ې و يا ړه‌خولويــه پلنــه د ه
يا بــه مــېو ه لری يا به سايــه لــر ی
جــو ړه پــه و نه باونــد ې ستا ينــه د ه

* * *

که دين دنيــا غــوا ړې پر ده پو شی‌کړه
فتــنې له خولې پاځی خوخاموشی کړه
که نه خا موش يې نه پر ده پو ش يــې
بــېخو ده پر پــوځــه باده نوشی کړ ه

* * *

کــه ډېر اغز ی لرې په څنــګ کښې‌کله
اغــز ی دې نــه وينــی شيــدا بــلبــــه
چه پر ې مين وی عيب يــې نه وينـــــی
هــر څــه يــې اخلی بــې تـــا ملـــــه

* * *

کــه ډېر بنکا رو نه وو که ډېربا ز ونه
وا ړه مــې و ليد ل نور نور را زو نـــه
چــه خبر دار شوم پــه انجــا م د چا ر ې
يــا ز غ د ټو ر ې دی يــا نما زونـــــه

* * *

که ډېــر ما ړه وی د بنکار با زو نـــه
پــه ز ړه د زر کو ، لر ی را زو نـــــه

نــاز يــې دوړو دی او ربانده بنا يــې
کـــه بنا يــسته کــا هو مره نا زو نه

که ډېـر هو ښيار يـې خپسر نا دا ن کړه
لـه ښو لـه بد و سلو ك يکسا ن کـړ ه
هر څو ك پـوره د ی دخپلې چـا ړې
خـو شحا لـه ځان، غم دخپل ځان کړه

* * *

که ډېر ې ښکلـی په صورت بزر ګـې شته
لکـــه مهرو ده د کو مـې پرګې شتـه
هرچـا چـه و لید ه ز ړه يې پرې با يلو
خوشحال وپر پز ی دده هم ستر ګې شته

* * *

که راته غو ږ کړ ې ښـه د لسو ز ی د ه
کـه مـرګ قبو ل کړ ې فتـح رو زی ده
مټ کړ ه زخمو نه خو ره ظـفر که مومې
که نه ستا تيښتـه هـم فيـرو زی د ه

* * *

که را ست ګويی لر ی پا که عفيفـه د ه
که زر خريـده ده پـه ذات شريـفه ده
که لـور د پيـر ده که دا يـې نه و ی
بـده کثيفـه ده ګـنـد ه خفـيفـه د ه

* * *

کـه زړه دې خلاص وی د شك لـه ز نـګه
انـدو ه به نه کړ ې د غـليم له جنـګه
بړ ستن د خو ب ده کـه صف دجنګ دی
دا دوا ړ ه تو کـه نـه دی دو ه رنـګه

* * *

که زوی دپـلا رېې د پـلار هنر واخلـه
نه چـه يې مال و ملـك ويا زر وا خلـه

بهـرا م که زو ی د خو شحا ل ختـك ؤ
هـنر يـې نه ؤ ځـنې خبـر وا خلـه

کـه سبـرو نـــه پـه قـــد درا ز ه د ه
نـه چـه تر تا نه هـم سر فـرازه د ه
زمـا حـذر شـی د تا لـه ستـــر ګـو
کـه دکو تـر ي و پر ه لـــه بـازه ده

* * *

که سر و ری غوا ړ ي اوا ړ ه کړو نی‌شه
پـاره دو ز ی‌کو ه نه پاره‌کړو نی شـه
چه بد لـه تا و کا په څرخ يـي وسپا ره
تـه يـي و کـار تـه ننـداره‌کړونی‌شه

* * *

کـه‌سـر داری غـوا ړی بـلا دي دو ره
عقل همت را و ړه بیا جـود بـیا تـو ره
لکه اسما ن و تـه ختنـه ګـرا نه د ه
سـر داری لا ده ګـرانـــه منـظـو ر ه

* * *

که سر دا ری غوا ړي خپل زړه د شپر راوړه
صرفه په څان مه‌کړه حمله په ډپر راوړه
ضرب المـثل دی د هو ښیـا را نـــو
ملك ته شمشپر راوړه ښځي‌ته‌کپرراوړه

* * *

که سرو ری غواړ ي د هر چا وړو نی‌شه
پـر ده پو شـی کو ه لکـه پـړونی شه
که بد ګـفتار د ی که بد کر دا ر د ی
چـه عـذر خواه شی اواره‌کړونی شـه

* * *

کـه ښا یسته يـي په مـخ تـر ګـله
پوی‌ه جفـا څـی ستـا تر کا کلـــه

ګـل کـه ز پـبـا دی چه
ه مځکـنه‌فر یـاد کـا څنـي بـلبلـــه

کـــه بنسکلی تو لې شـــی سر ه لـــکو نه
رابا ند ې پر پـــو ځـــی دا فلـــکو نـــــه
خپل یار بـــه هیـــچیرې پکښې غلط نه‌کړم
کـــه دا مـــې سترګې وی داکو لکو نـــه

* * *

که بنـــې بنې جو نه که لبا سو نه د ی
کـــه بنه با زو نه کـــه بنه اسو نه د ی
خوشحا له زوړ شوې اوس دا هوس‌مه‌کړه
د بنـــو ځوانا نو دا هـــو سو نـــــه د ی

* * *

کـــه عقل و رك شی له د ې جهـا نـــــه
هـــیڅ پا تـــې نه شی ا ی زمـــا جـــا نـــه
هیڅو ك به نـــه وا یی چه زه نادان یـــم
هر یـــو به بنـــه ګڼـــی ځان له لقما نه

* * *

کـــه غو ږ کـــه سترګـــې که خوله که پوزه
هر یـــو خپـــل کار لر ی‌تر بل یې بوزه
کار چه دسمع دی بصر یې کلـــه کـــا
دخـــو لې په کار نه ده پو زه فـــیروزه

* * *

که کار پـــه ږیر ه دی یا پـــــه غـــا بنو نه
له مانه پا تې شوې ګلرنګـــې جو نـــــه
کـــه کار په نور څه د ی خوا جه خـــضریم
لا به د جـــو نـــو ګـــــو رم مخـــو نـــــه

* * * *

که کـــا نـــه نه و ی د چـــا مخـــو ږو نه
هـــلا لا یه لـــتمه یـــځ لـــفبه هورنـــږ ه به و وې د سو د پنـــد و نه

کـــه ږند ې نه و ی د خلکـــو ځولې بستر ګې
هـــلـــبلـــ بـــځ لـــ ځلـــ یه هونـــږه به وښـــیـــل ورته ملـــکو نـــــه

که مرد یې مه پر پر ده مر دی له دسته
مرد دی دپاسه بنځه د ه پسته
مرد چه تر بنځې پورې ز بون شی
مرد ی یې نیست شو ه بنځه شوه هسته

* * *

که مهتری غواړ ې د هر چا وړو نی‌شه
اواره کړو نی شه اواره کړ و نی شه
دز ړه په کور کښې ځای در حمان وکړه
دز ړه له کو ره شیطا ن شړونی شه

* * *

که می په سر شې دمینې تا جه
نوربه مې خلاص کړې دغم له با جه
بېدر د ، د تا د قدر خبر نه د ی
ما ته را درو مه د عشق تا را جه

* * *

که نور څه نه وی دا هو مره زده کړ ه
می دې په صو ت د چنګ ونی خـو ری

* * *

---

(۱) مشتاق.
(۲) داس زغره دغه کلمه په قلمی نسخوکښې برګستان راغلی ده .

پسرلـی چـه راشی یـا پشکا ل شـــی
د ختك ځینی شیخـا ن خوشحال شی
شکرانـي اخلی دبا را ن وعد ي لـــی
په درو غـجنو او عدو نـهـا ل شـــی

* * *

پښتانه وا ړ ه لکـه مـا رو نـه د ی
مغل دم کړ ی په خپل کارو نه د ی
چه په ما زو نـو کښـي‌لوی مار پیداشی
پسي یـي غوا ړی که په غا رو نه دی

* * *

پـلار د خپل زو یـه په کار ډیر ویا ړی
پـه هر ه چا ر یـي بهتر ی غـوا ړ ی
چه خوی یي بد شی نصیحـت نه منی
دده لـه خو یـه پـه او بنـو ژا ړ ی

* * *

پـلار مور که هر څو نیـکو فر جا م وی
په بـد فر زند پو ري خجـل بد نام‌وی
فر زنـد که نه و ی خدا ی یـي‌کا مران‌لره
دبد فر زنـد د ي ز هـر په کام وی

* * *

پنځه دي ګـو تي د ی که یوه نه و ی
دنورو ګـو تو چار به دي څـــه و ی
دلا س خو بی د ه پـــه پنـځـه ګـو تي
چه سره جوړي وی کـار به دي بنه‌وی

* * *

پنـد دنـیکخوا ه دی خدای دي‌یي‌بنه‌لری
ورمون (۱) دنیـکو نیکـا ن‌په زړه‌لری
هو بنیـــار لازم د ی خطـا یـی و لي کړه
نادا ن معذو ر د ی چـه عقل نـه لری

---

(۱) تدبیر ، مصلحت ، نصیحت .

پنـــد د ې سود مند د ی که څوك يې ونغوږی
وخـــت د فساد د ی لـــه تاچه و زېږ ی
زو ی يـــې مه بو له حـــذر تر ې بو يـــه
چـــه دې له حکمه له زايه و غږ يـــږ ی

* * *

پو نېه (۱) په اور کښې ګونه ګونه شـــی
کانـــی په اور کښې ګـــچ يا چونه شـــی
عادت بـــه هيڅهر ې دنا کس نورنه شی
کـــه اور يـــې پو ری په درو نه شـــی

* * *

په باغ په را غ کښـــې کرل هرڅه شی
په خپـــل خپل اصل بياوړه و شـــی
کـــه لويول يـــې په شو دو پـــی و ی
مولی موالی ده نـــور څـــه به نـــه شـــی

* * *

په باغ چـــه ګـــډ شی چه ترې وتو نی وی
کـــه لو ن لون مـــبو ې خو ړو نی وی
که هر څـــوو خو ری ګـــلو نه بو ی کړی
خو عا قبـــت بـــه ور څنـــې تلو نی وی

* * *

په باغ کښې دېر ې ونـــې و لاړ ې و ی
چه ښې يې ځير کړ ې په څو څوغاړې وی
پلنـــی، نـــری ګوړې، ناګو ړې
ځينـــې په پور ته ښا يسته و لاړ ې وی
په‌تار د غـــنمی (۲) ذباب (۳) بند کېږ ی
نه پـــه دا لو مـــه عقـــا ب بـــندکېږی
پنـــدو عا شـــق ته بند د خسړ يـــو د ی
پـــه دا بـــه کلـــه سپـــلا ب بند کېږی

---

(۱) په‌دريمه قلمی نسخه کښې (پنډه) ليکل شوی دی
(۲) جولا ګی. (۳) مچ.

په چا چـه عـد ل يـا ستـم کـېږ ی
هر څا ی‌چـه بېـش و يا څـه‌کم‌کېږی
بې څايه هېـڅ نه دی وا ړ ه په‌څای دی
دا يواز مېښت دی پـه عـالـم کېـږی

• • •

پـه څـا ن مـې لږ ډېـر څا يو نه‌منلی‌دی
چوڼ چوڼ مـې ښکلـې ښکلې‌کتلې دی
ستا تر ښا يستـه چه نـا ښا غـلی د ی
دبلـخ ښکلـې کشمېر ی ښکلـې د ی

• • •

په خپلـه پو هـه که ذو فـنو ن و ی
ويل چه نه منـی پکښـې جنو ن وی
دو لت ته ورسـی ټينګ يې ونه نيسی
قا بل يې مـه ګنـه‌چه په رای‌زبون وی

• • •

په دا به پو ه شـی هغـه چه کس و ی
ډېر ې رمـې لره يو شرمښـی بس و ی
چه يـو بـخر ی دا و ړ پـيدا شـی
په مـخ يـې و ړ ی انبار د خس و ی

• • •

په دا جهـا ن کښې چه څو غمو نـه‌دی
څو څو خـوار ی ښـو قسمتونـه د ی
واړه پـه بخـره دعـا شقا نـو شو ل
بـخر ې له څـا يه پـه قلمو نـه د ی

• • •

په دا جهـا ن کښې چـه خرا بـی ښـ د ی
يا نا حقـی ښ بې حـجا بـی ښ (۱) د ی
يوه بـه نـه و ی د هـو بنيار له لاسه
د نـادا نا نـو دشتـا بـی ښ د ی

---

(۱) په‌اوله‌قلمی نسخه کښې دبې‌حجا بی ښ په څای (بې‌حسابی)دی.

په دا خبـــر ه هـــر څـــو ك خبـــر د ی
تـــر او زيد لـــو ليـــد ل بهـــتر د ی

تا غوند ي كلـــه هـــو سی دمښكو د ی
مښك د ي د زلفـــو كـــه بـــرا بـــر د ی

* * *

په رنګ په خو ی كښې سر ه پر خی وی
پـــه مر تبـــو كښې ســـر ه تـــير ی وی

يو سينـــد تر بل پو ري لكـــه لښتـــی وی
يو غر تر بل پو ري لكـــه غونډ ی وی

* * *

په رنـــګ متيـــا ز ي لكـــه او به د ی

په خونـــد پـــه بو ی كښې داو بو نه دی
لكـــه چـــه مخ وينی څو ك پـــه او بـــو كښی
هســـې په د ي كښـــې د مخ لـــيد ه دی

* * *

په زړه كښې څړيكه د ښكا ری و لا ړ ه شی
هی هی نا ړ ي وهـــی بوزه يې(۱) غاړه شی

چه سره و ننبلـــی د ښكار با زو نـــه
زر كـــه ددوا ړ و لـــه منګو لو ولاړه شی

* * *

په سپين و ښښتـــه مې په ز ړه سرور راشی
زيره چه سپينه شی په مخ كښې نوررا شی

غـــم د زړو وا لـــې په ز ړه ها له بو يه
چه پـــه غا ښو نو ،لېموفـــتور را شـــی

بوزه غاړه چه له ډيرو چيغو يې آواز كينی .

په سرطا ن کښې پــه مز ری په وږ ی
مرد بــه خپل ځان ژغوری زما که نغو ږی
لینده ور غو مــی صحبت هم زیان لر ی
پــه دا منزل د ې په بهار کــو ږ ی(۱)

* * *

پــه سړ یتو ب کښې وا ړه یکســا ن دی
کــه مؤ منــا ن دی که کــا فــرا ن د ی
ایما ن د چــا د ی د مؤ منا نو د ی
ایما ن یــې نشتــه چــه کا فرا ن د ی

* * *

په شپــه آرا م شی په و رځ هر کام شی
پــه ما دا کلــه په صبح و شا م شــی
په شپــه په و رځ دی د عشق غمو نه
آه وژا ړ ا مــې ســره مــدا م شــی

* * *

په شمار مــې زو یه تر شپیته زیات دی
نیمــګی به مړه و ی نیمګــی حیات دی
چــه را څر ګند شــو ل په کا رو بارکښې
تر دې ژونــد یــو بهتر اموات دی

* * *

پــه بنــا یستــه ؤ چــه مــبتــلا و ی
بــې فکــره کلــه خــلا مــلا و ی
بې ی مینــې مه شــې مین هم مه شې
دادوا ړ ه تــو کــه الا بــلا وی

* * *

پــه عا شقــا نــو څــوځــو خبر ې شی
ور ته لښکرې شی تورې شی زغرې شی
چه عا شقــا ن د ی چــه صادقا ن د ی
عــشق به یــې کلــه له د لــه لپر ې شی

---

(۱) کوږل = لاس او پښې خوځول اوزیار ویستل .

په‌کار دعلم عالمان مو نی
شیخان په کار دشیخی ځان چونی
دا وا ړه هیڅ د ی زما په پوهه
ګوره څوك ور شی په‌مخ مخ‌رو نی

* * *

په کار هیڅ نه ده خالی مستی
څو لا په ز ړه لر ي د غم هستی
هستي تما مه په مستی کښې وبازه
له ما نه ز ده کړه می پرستی

* * *

په کاغذ و کښې خوا نا یې ولولی
چه کښلی نه و ی هغه څو ك څه‌لولی
هسې مر دان شته په دا دنیا کښې
تختي دو چو لی تختي د ز ړه لولی

* * *

په لار چه د رو مم په مخ دلبر راشی
یا بنه څه بیا مو مم یا بنه خبرراشی
هسې دښکلیو په دید ن خو بن یم
لکه په خوا رو باند ي ا ختر را شی

* * *

په مخ که هر څو صا حب جما ل و ی
ننه په زړه کښې افعی افعا ل و ی
که زر تسبیح لو لی با ور پر ي‌مه‌کړه
بنڅي مې وا ړه د مکر جا ل و ی

* * *

په ننګ خبر نه د ی بې ننګه کلی‌دی
وفا یې نشته له عقله پلی د ی

که لمو نڅ او دس کا په پنڅه وخته
هم بې صلو ة هم مخ نا و الی د ی

په هر چا کو ته غمو نه خپل د ی
څو ك د ی چه نن مې په غم دبل د ی
دور دچادی د عا لمګیر د ی
لا س به په غو ږ و لر ی چه څوك عاقل دی

* * *

په هره چار چه همت بسته شی
تپر ه خا رو نه هم ګلد سته شی
کم همتی چه يې په لاس وا خيسته
دهغو بخر ه خوار ه خسته شی

* * *

په هره ژ به سخن سنجا ن د ی
د ځا ن په فخر پا ك دسبحا ن د ی
په خوله يې ذ کر په ز ړه نور فکر
فساد دد و ر دا نا شيخا ن د ی

* * *

تا چه پيدا کړه دا او وه ستو ری
چه ستا په حکم و بله ښو ری
په ښوربده کښې دډير کارو نه شته
ړانده يې نه وينی بينا يې ګو ری

* * *

تا ز ی چه زو ړ شی په قدر خر شی
مز ر ی چه زو ړ شی تر شغا ل بترشی
زو ړ دې دماغ د ځوانی نه کا
په دا و يل د ې هر څو ك خبر شی

* * *

تا ز ی چه نه نيسی کوته چه نيسی
خلك په ښه نظر کوته ته کسی

تور زن په خپله خپل ځا ن په قدر کا
چه تو ر ې غشی په ځا ن را نيسی

تر باز نه نور نور مر غـو نـه کټ دی
هنر چـه نه لری ځکه چو هټ (۱) دی
خپل کار څرګند کا په دا دو ه ځـا یه
مردا ن دکـو تـې ښځـې دکـټ د ی

* * *

تر سر تر پا یـــه چـه سړ ی سازوی
فهـم که وکړي درست سره راز (۲)وی
سړ ی هغـه ګـنه چه خپل ځان پیژ نی
چـه بـې خبر وی یو تشـ‌طـراز و ی

* * *

تل تل چـه غور ځـی داسعد ستـو ری
دهنـر منـــدو پـه طلب ښـو ر ی
کـه چـېر ي و رشـی په بـې هنـر و
ځینـې د تللـو در وا زه ګـــو ر ی

* * *

تـوانـګر هغـه د ی چه قـنا عـت لر ی
نه چـه با رو نـه یـا بضـا عت لـــر ی
چه خو ی خصلت یـې دسړ ی نه و ی
یو دد یـې و ګنهـه که شجا عت لـر ی

* * *

تو به ها له ښه ده په ګناه چه لاس رسی
چه‌لاس په هر چېر ته په‌کوزو‌پاس‌رسی
چه لاس و نه رسی تو به څـه سود لری
خالـی خبر ي په خو له د نا س رسی

---

(۱) په‌چاپی نسخو کښې (څوهټ) دی .

(۲)په دو همه قلمی‌نسخه‌کښې (ددرست‌سره راز) په ځای (سره‌یوراز) راغلی دی.

ته او م سبو يـې تـر څـرخ و تلـی
دا ور تر تـا وه نـــه يـې ختـلـې
کـه چـپر ې و وځـې دا و ر لـه تا وه
نوم بـــه داوم وی لـه تـا نـه تلـلی

* * *

تـتو بـه هيڅپر ې دا س په يو ن نه‌شی
پـــه توره هيڅوك لكه پښتون نه‌شی

اصل په هر څـه كښی خپـل ځان څرګندكا
خوند د مـتړو به ګندم ګون نه شی (۱)

* * *

جهان د چا دی چـه څـو ك تـور زن و ی
دا دو د هش كا پـه نـو م ميـن و ی

ناستـی د ې د ی دعلم تر سيوری كا
چه څوك د علـم د و رع څـښتـن و ی

* * *

جهان كـه وا ړه سره او بـه شـــی
دا دو ه بـپړ ی به پـه ډو به نه شی

يوه بـپړ يـــه چه څوك ړښتينې وی
بلـه چـه و ږی پـه چـا ما ړه شـــی

* * *

جهان كـه وا ړه سر ه سود او ر شی
ګـوما ن و مه كړ ه چه عارف نور شی

كـه سمندر غوند ې په اور كښې كارنه‌كا
عارف يې مه ګنـه مخ دې‌يې تور شی

---

(۱) په دوهمه قلمی نسخه كښې دا مسره داسې راغلې ده : په تربيت به شوی اكسون نه شی .

جونه چه نـــه وی وا ده لا حـو ره و ی
او لا د چـه را و ړی آد م دستوره وی
چه سر يـي سپين شی مخ يې بې‌نوره‌شی
يو ه پـېر ی در تـه حضـو ره و ی

* * *

چاري دد هـر پـه هغـه د ستور د ی
لکـه په تورو پـه سپين مسطـور د ی
لاهم هغـه د ی چـه پکښې و ر کـــې
هو مره لښکرې دسلـم توره (۱)دی

* * *

چـه اصل بد لر ی ځـا يـی بد خو وی
يا رنـګ بنـه نه لری ځا يی بد رو وی
دا دوا ړ ه تو کـه بـه هېڅـوك بنـه نه‌کا
کـه کرا مت لر ی که يـې جا دو وی

* * *

چه بخـت يـې تور شی عقـل يې‌نورشی
مـخ يـې په بدو په شرو شـور شی
دبد خوا ها نو ويـل پر ې بنـه لـګی
دنيـکخوا ها نو ويل پر ې او ر شـــی

* * *

چه بد اند پـش وی چه بدا مو ز و ی
چه بدګـويی الری واړه بد رو ز وی
که ته لو يـی غواړ ې لو يی په چـامه‌کړه
نيکا ن پـه دوا ړ ه کو نه فـېرو ز و ی

* * *

چه بد بنيا دو ی چـه بـد نـها دو ی
په هره چار کښې يـې ما يه فسـاد وی
دنيکې چار ې الـف يـې نـه زد ه
پـه بد ه چار کښې کا مل استـاد و ی

---

(۱) دايران دبادشاه فريدون ددوو زامنو نامې دی.

چه بد بنیاد وی چه بد نهاد و ی
دمور په نس‌کښې په بلا یا دو ی
هر چه ز و ولی د ی د فساد د پاره
څو چه ژوندی وی هم د فساد و ی

* * *

چه پا څم درو مم په لار د لبر را شی
یا بنبه چه بیا مو مم یا بنبه‌خبرراشی
هو مره د بنکلیو په دید ن خو بس یم
لکه په خوارو باندې اختر را شی

* * *

چه پر ې‌مین وی که بدو ګو ری
پر ې دې وو ځی د ستر ګو تو ری
ورته د عا کړ ه که د ی بښپر ې کا
ور ته خندا کړ ه که دی دې زو ر ی

* * *

چه پس له مر ګه سر ی بنه یاد شی
که هسې خوی کا په دا دې بناد شی
چه خو ی یې نه و ی دنپکنا می
ژوندو ن یې هېڅ وی ژوندون یې‌بادشی

* * *

چه پکښې بانګ دمسجد اما م نه وی
په هغه کلی‌کښې میشتی مقام‌نه وی
په هغه کلی کښې قتل روا و ی
چه هغه کلی به داسلا م نه وی

* * *

چه پو زه نه لر ی ، غوږو نه نه لر ی
شرم اندو ه به له چا نه څه لر ی

رنګ یې مه و یې‌نې ستر یې بنه دی
که رنګ بې غوږو بې پوزې بنه لری

چه تاځو ك ووينـــى مهر به څــه وينى
مهــر به څه وينـــى چه تا څوك ووينى
عا شـــق څــه نه وينى چــه تا ونه وينى
چــه تا و نه وينى عا شق څه نــه و ينى
* * *
چه ترس د خداى لر ى مــر ګك يې په‌يادوى
زړه به يــې كلــه په ظلــم بنبــا د و ى
تل به يــې مــټ وى په بنبو بنبو چــا رو
مــخ به يــې هركلــه په عدل و داد وى
* * *
چه تنــګه خو له لر ى او ز ده با نــه‌لرى
تو رې او رو ځــى مــلا ل كا تـــه لرى
نور څــه يــې مه ګــنه زما په پو هـــه
تر ســر تر پا يــه به صورت بنبه لرى
* * *
چــه جنګيا لــى دى دو لت هغــه مو مى
چــه ننګيا لــى د ى عز ت هغــه مومــى
دا دوا ړه تــو كــه سره تــر لــى د ى
څو ك چـــه محنت كا راحت هغه مومى
* * *
چــه ځا ن غوا ص كا ګو هر هغه مو مى
چه بــې ننــګى و اخلى د لبــر هغه مومى
دا كار مــې څو ځلــه په ځان راغلى دى
تر سر چــه تېر شى ظفر هغه مومى
* * *
چه څــه په كار دى خــټك تر ى د ى
تر مېــرى خپلــو برګويــټ بــرى دى
ډېر ې پــېښې لر ى حيلــې مكرو نـــه
پښتون يې مه بوله بولاق هندكى دى

چه څو ك دنيا لر ى په ځان يـې نه خورى
دګـور غه تو ري خا و ري د پو خورى
چه ما ل يـې پاتې شى و بل حريف ته
چه يـې له خپلو يا رانو ښـه خـو ر ى

* * *

چه څو ك سو ګـندكا ،كار يې څرګندوى
سـر ددروغـو زر زر سوګنـد و ى
سوګند به نه خو رى چه راست ګويان وى
ددرو غـجنـو سوګـند كـمنـد و ى

* * *

چه څو ك يـې سمه ګنهـى هغه كښ ه شى
چـه يـې كښ ه ګنهـى سمه هغـه شى
دخـل د چا دى د خدا ى په كړ ه كښې
په حال خبر شـه چه څـه دې زده شى

* * *

چه څو ك يـې كاند ى كلـه يا ر ى دى
ياخود كامـى دى يـا عـيار ى د ى
چـه ښـې مـې ځير كړ ي تر دا بهترې
يا و يـزا ر ى د ى يـا اغيـار ى د ى

* * *

چه حر ص ناك و ى يا تر سنـد ه و ى
يار ى لـه دوا پر و سر ه ګـند ه وى
دابـه د ې پر پـښ دى په تنـګسه بلاته
بتـر تر دا نـه شكـم بنـد ه و ى

* * *

چه خپـل حر م سا تى خد م حـشم ساتى
بو يـه چه وا پر ه د ې محتر م سا تـى

ادب د ې دپـر كا د زو يـو لـو نـو
چه بې اد ب شى و ځان ته غم ساتى

چه خپل سر خر خ کا بها يـې وا خلی
چه يـې مـدار وی مولا يـې وا خلـی
که يـې صا حب و ته بـلا پيـدا شـی
نمـك حـلا ل دی که بلا يـې وا خلـی

* * *

چه خو ی يـې نه وی صورت ز يبـالری
لکـه بنـه لو بنی خا لی غـو غـا لری
بنـه مخ په مـثل لو بنـی د ز رو د ی
بنه خو ی په لو بنی کښې خوږه حلوالری

* * *

چه دانسته درو می چه اهسته د رو می
فتـح هغه مو می نصرت هغـه مومی
چـه کا هلی کـا يا ډپـر تلـوار کـا
نا مرد هغـه نو می نا کس هغـه نو می

* * *

چه د بـدا نو سر ه مقـيـم شـی
که بيـم يـې نه وی هغـه په بـيم شـی
ضر ب المـثل د ی ددانـا يـا نـو
دښمن چه دوست کړې دوست دې غليم شی

* * *

چـه د بزر ګا نو خفـت (۱) اسان ګـنی
هغـه خفـت دې ا فت د ځـا ن ګنی
لـږې بـلا بـه و ر باندې ور نه شی
جو ړ د ې زرګو نو بلاته ځان ګنی

* * *

چـه دتـا ز ی سـره د تهـو رګ و ی
کلـه تاز ی غوند ې په لار يې تګ وی
رنګ ته يـې مه ګـوره عمـل يې ګوره
کـه سور که سپين وی که تور که برګ وی

---

(۱) خفت = سپکاوی .

چه در پسې زغلـی هـغه دو لـت و ی
چـه ور پسې زغلـې هغـه زحمت و ی
قابل هغـه د ی چه دچا منت‌نه وړی
پـه نا قا بل بانـد ې و یل منـت و ی

• • •

چـه درست پـه منښك و پـه‌عنبرډوب وی
چه پـه ګندګی ککـړ شـی خوب وی
قر آن چـه لو لـی هر ګـو ره بـد کا
چـه بیا پـه فسق و فساد معیو ب و ی

• • •

چه در و کـا ږ ی و ږر ه دې‌پر ږږ د ی
خا لـی بـه و وځـی که زړه یې‌ږږدی
یا به را وکا ږ ی ګـو هـر لـه یـمه
یا بـه دا خپلـه کلـه پر ې کښېږ دی

• • •

چـه دکهتـر و جفـا پـه ځان و ړی
کهتر به کلـه د مهتر فـرما ن و ړ ی
سزاد و ختـه د کهتـر بـو یـه
کـه نه مهتـر به پـه زړ ه ارمان‌وړی

• • •

چه دیـن دنیـا ګـتی دا نا فر زند و ی
غـوږ به یـې هرکله دپـلارپه پند وی
اوبـه ، به نه څـنبی د پـلا ر بې حـکمه
نه بـه یـې پو ړې شوندې‌په قند و ی

• • •

چه ذات یـې بد و ی اصل نا پا ك لړی
ګـنده بـه فعل ګـنده به ژوا ك لـر ی

زا غ و ز غـن ګـور ه بلبل تو تی‌ګوره
خپل خپل پر واز کاخپل‌خپل‌خوراك لری

چه ډېر يارا ن يـــې تر نـــظر تـــېر و ی
اخلا ص ترې مه غواړ ه لبا س يې ډېروی
په مـــخ کـــه هر څـــو مهـــر خـــندا کـــا
چـــه در تـــه شا کا وا ړه يې هېر و ی

* * *

چه ډېر ې ونـــې لښتی کم آ ب لـــــر ی
څښتـــن دو نو څـــو پـــېچ و تا ب لری
نصيـــب زه هســـې په پـــېچ و تا ب کړم
ما بـــه تر کو مه پـــــه داعذا ب لر ی

* * *

چه راستـــی نه لر ی نه يـــې اخلاص وی
زړه دې له هسې ياره زر خلاص وی
چه څه دی ز ړه د ی په د رست وجودکښې
ور کړ ی بو يـــه د چا چـــه خا ص وی

* * *

چه ربا عـــی د خوشحا ل خا ن د ی
دلا جور د يو غشيـــو پـــه شـــا ن د ی
تير ګر کـــه هر څو غـــشی ښه روغ کا
پر واز يـــې بو يه که پر يې وران د ی

* * *

چه رنـــګ او بو ی لری ګـــل،ګل هالهشی
پر ې د بلبلـــو غلـــغل ها لـــه شـــــی
چه نه يـــې رنګ وی نه يـــې ښه بوی‌وی
ورځنـــې پا تـــې بلبـــل ها لـــــه شی

* * *

چه زر يـــې ونيسی زر يـــې بيا پر ېږ دی
خو يو نا مرد به وی زړه به‌يې ړېږ دی

يادې يـــې زلفـــې په لاس کښې‌نه نيسی
يادې يـــې ونيسی‌سردې پرې‌کښېږ دی

چه زړه له تا نه د چا ښه کېږی
ښه کړه دعا ګته دعا قبلېږ ی
آزار دهېچا دا خستو نه د ی
ښېر ې د خو ږ و ز ړ و نولګېږی

* * *

چه سپینې پی ، سره یې غنم و ی
حر م حشم لر ی آرام یې هم وی
چه شکر نه کا په خپله بخر ه
دهغه بخر ه دمار لړ م و ی

* * *

چه ستا خو بی غوا ړی دغه دې یار دی
چه ستا خواری غواړی هغه اغیاردی
چه ستا په غم خو ښ شی صر فه پرې مه کړه
بیا به ار ما ن کړ ې که دې خپل واردی

* * *

چه سره لو ی و و په یو ه غو لی
وګور ته لا ړ ل هغه همز و لی
زه په دا دوا ړ و غو ږو نو او رم
نار ې د دو یو چه ما هم بو لی

* * *

چه سر یې خو ږ نه شی سړ ی چه داغ کښېږدی
هر څو ك پو هېږ ی ځان ته بلابلېږدی
له چا چه جنګ کړ ې رو غه په زړ ه لره
هوښیار په جنګ کښې دروغې ځای پر ېږدی

* * *

چه شر م نه لر ی عیب ته نه ګو ری
لولی بې شر مې دی څکه خپل ځان پلوری

هغه چه پا کې دی شرم حیا لر ی
زړه یې فساد ته په لکونونه ښو ری

چه بنکار په کور کښې و رته تیـار وی
دچـا به ولـــې د صـــحرا بنکـا رو ی
په باغ و راغ کښـــې د بهار ګـل څه‌کا
چـه یـې په کورکښې تازه بهار و ی

* * *

چه بنـه صورت لر ی شر م عفـت لری
واړه د دیـن ددنیـا دو لت لـــر ی
چـه بنا یستـــه و ی عفت یـې نه وی
څـه قبا حت لر ی څـه قبا حت لر ی

* * *

چه بنه لذ ت غواړ ی نېش اوافت‌غواړی
نیشس او افت غواړی‌چه بنه لذت غواړی
چه محبت غواړ ی غـم د فر قت غواړ ی
غـم د فرقت غواړی‌چه محبت غوا ړی

* * *

چه عاشقی کا خو شحال دې پو ښتـــی
لـه شر م اوننګ دې په کرو هو تښتی
ترمال دې تـبر شی تر سر دې تبر شی
چه عاشقان دی تر لوی غر رغښتی

* * *

چه عالما ن یـې په تور و سپین و ینی
چه درو پشان یې په علییـن و ینـــی
دعار فا نو علـم څـه نور څـــه د ی
تر عر شـــه فر شـــه په خپل یقین‌وینی

* * *

چـــه عقـل یـې کم و ی کلـه اد م‌وی
کـله اد م و ی چـه عقـل یې کم وی

چه عقل یـې کم و ی تل باند ې غم و ی
تل باند ې غـم وی چه عقل‌یې کم‌وی

چه غر دسرو ز رو د ســړ ی خپــل‌شی
مهر ناستی (۱)ته يې کله کتل شی
چه باد شا ها نو سره نا ستــی پــه تخت‌کا
دانور ځا یو نــه و رتــه خجــل شی

* * *

چه قبو ل زړه ته دچا ، چار بــد ه شی
چار يــې نور بــده تل تر ابده شــــی
روپــی چــه کلپــه شی یو ه صراف ته
هغــه رو پــی پــه هر چا ر ده شی

* * *

چه کا هــلا ن د ی چــه احمقــا ن د ی
دو لت به بایلــی که باد شا ها ن د ی
دو لــت دد یــن ددنیــا د چــــا د ی
چه هو ښیا را ن د ی په‌کارچسپان‌دی

* * *

چه کښښت او بــه غواړ ی او بــه بیانه مومی
له هغــه کښښتــه به سبز ه‌څوك مو می
دهرې چار ې یو وخــت یــو و ار د ی
ګــل په تمو ز کښې‌که تل‌اوبه غواړ ی

* * *

چه کښښنــی ژاړ ی فر یاد ښیر ې لر ی
دز ړه د آه تــو رې تــــیر ې لــــر ی
پــیر به په هر چــا پــه وار وار را شی
اندو ه د ې نه کــا اسما ن پیر ې لری

* * *

چه مو ر یــې ښه و ی بابا یــې ښه وی
بد بــه یې زو یــه لو ړه پــه څــه وی
چــه اصل بد لــر ی بد بــه والد لــر ی
کچــر بــه هــیڅېرې بې فتنی نه وی

---

(۱) په دریمه قلمی نسخه کښې دناستی په ځای (ماسی) راغلی دی.

چه نا دانـا ن د ی یا فـاسقـا ن د ی
یو دم کار و کـا بیا زر زر پښېمان دی
چه یـې په کار کښې پښېما نی نشته
یا عاقـلا ن دی یـا صـا لحـا ن د ی

* * *

چه نه ادب لر ی نه‌عقـل را ی لـر ی
دو پا ی لید ل شـی خو ی دچارپای‌لری
چه بـې اد ب و ی آ د م یـې مه ګنـه
څـه شو کـه شکل آ د م نما ی لری

* * *

چه نه تد بیر لر ی‌نه ځوانمردی لـر ی
تل به پـه کار کښې دمخ زر دی لر ی
پوند ې ته اور را وړه هنـرچه توره شی
هغـه سړ ی نه و ی چه دل سر دی‌لری

* * *

چه نه طا لع لر ی نه مصلحـت لـر ی
دو لت به با یلی کـه ډېر دو لت لر ی
چه شکر نه لری‌کلـه نعمت لـر ی
چـه صبر نه لری کله حـکمت لـر ی

* * *

چه نه طا لـع لری نه مصلحـت لـر ی
دولت کـه غواړ ی‌چه بد خصلـت لری
دولت هغـه دی چـه د ر پسـې درو مـې
چـه ور پسې زغلـې بـلا افت لـر ی

* * *

چه نه لنـګېږ ی نه یـې ځوانی و ی
دهغې بنـځې روزګار فـا نـی و ی

بنځـه محبو بـه ځوانه دمینـی بو یه
چه زیست روزګارکا په بنادما نی‌وی

چه نه يې دين وی نه يې دولت و ی
نه يې په علم بنه خوی خصلت وی
سړ ی يې مه بو له يو ګاو و خر دی
دګاو و خر به څه بر کت و ی

* * *

چه نه يې ننګ وی نه‌يې فر هنګ وی
نه يې بنه اصل نه يې بنه رنګ وی
زر دې په تورو خا و رو کښې‌پټ‌شی
ژوندو ن يې‌مه وه‌چه ځای‌پرې تنګ وی

* * *

چه ورځ دې بنه وی دو لت دې يار وی
واړ ه و ګړ ی دې خد متګار و ی
چه و رځ دې بد ه شی دولت دې پېروکا
خپل زو يه و رونه له تا و يزار وی

* * *

چه ور کو ل کاچه دنبر دو ی
اسراف که نه لر ی هاله درست مرد وی
هغه د ر ويش نه د ی چه دنيا نه ساتی
درويش هغه دی چه تر ې دل‌سردوی

* * *

چه هره چار يې په روا يت و ی
دهغه بر خه دو لا يت و ی
بېهوده نه او ری بېهوده نه وايی
غو ږ يې دنيکو په هدا يت و ی

* * *

چه يې په کور کښې لايق فر زندوشی
کر م له خدا يه په‌سړ ی‌خرګندوشی

قابل چه نه و ی په هغه کور کښې
دو لت يې هيڅ دی‌که چنددرچندوشی

چه يـې څکلـې ، دمغـل مـز ې د ی
ددو ی پـه غا ړه ډېر ې بـز ې (۱) د ی

په ښکـار دچـا دی دښښتنـو د ی
نور څـه يـې مه ګنيـه لکـه خزې(۲) دی

* * *

چه يې د رو غ نه دی چېر ې ويلـــی
چاته يـې نه و ی پـه بـد کتلـــی

هغـه بـه هېچـېر ې خوا ری بيا نه‌مومی
عز ت دو لـت بـه و ړسې ځـغـلی

* * *

چه يـې راستی نه وی بل يې اخلاص‌نه‌وی
هغـه به هـېچېر ې‌له غمه خلاص‌نه‌وی

دولـت ددېـــن‌دی کـــه ددنيـــا د ی
بيا به يې نه مومی چه‌خاص‌الخاص نه‌وی

* * *

جيندی (۳) جيحون‌نه دی غوند ی به غرنه‌شی
شمع قمر نه ده سها بـه لمر نه شی

که او ښکـی (٤) پـه رنـګ دما ر د ه
بيا اوښکی ده دا بـه اژ در نـه شـــی

---

(۱) بزه = ګناه .

(۲) خزه دښکاری دځو ځای .

(۳)په دريمه قلمی نسخه کښې دجيندی په ځای چينګی ده ، چه‌دوړې چينې معنی ورکوی .

(٤) اوښکی = يو قسم غټ چينجی دی چـه دمار پـه شـان ښکاری (ظفر اللغات) .

ځای او مسکن دې دکار ګه ګلشن نه شی
کم ذا ت سړ ی دې دجاه څنبښتن نه شی

حسن هغـه د ی چه اصل ذا ت لـر ی
دسپا ند ې ګل به ګل دسمـن نه شی

* * *

ځوانی ډ ك جام ده په پیر ی او ړ ی
بقـا یـې نشتـه پـه واړ وار وا و ړ ی

پیر ی یواز ې پـه هېچا نـه را ځـی
څو څـو عیبـو نـه و رسره را و ړ ی

* * *

ځینـې په عقـل په هنـر دو لـت‌مومی
څوك یـې په جهل په حما قـت مو می

یـو پـه دار و د طبـیب رغیـږ ی
بـل بـې طبیبـه شفـا صحت مـو می

* * *

ځینـې په علم پـه دنیا **مستـی لـری**
ځینې په زهد په تقـو ی مستـی لری

ځینـې په تـو ره پـه غـزا مستـی‌لری
خوشحال په کوم توکی دا مستی لری

* * *

ځینـې خبـر ې پـه تکلـف کـیږ ی
ځینـې خبر ې پـه تا سف کیږ ی

ځینـې خبـر ې پـه بلـه ژ بـه
لکـه یعقو ب ته قال دیوسف کیږ ی

ځینې خپل جیش لښکر حشم کسی(۱)
ځینې خپل لا ل ګهر نعم کسی
ځینې خپل علم هنر قلم کسی
ځینې ختکه هغه صنم کسې
* * *

ځینې که وینځی وی لکه مهر منې وی
ځینې مهر منې دو ینځو کنی وی
عقل هنر بو یه په اد مزاد کښې
مهو ه چه بنه لری قدر دو نې و ی
* * *

ځښتن دخو نې چه بې تد بیر و ی
وینځې مریو نه یې وتپښت ته ځیروی
یا یې ډیر مست کا هوا یې نو ره شی
یا یې ډیر خوار کالکه اسیرو ی
* * *

ځښتن دخو نې د خو ړو خوند غواړ ی
وینځې مریونه دخوړو شخوند غواړی
نادا ن په پند د چا نظر نه کا
هو نبیاز په هره چا ره کښې پندغواړی
* * *

څو به برېتونه دځوانی ، ځوانان پوسی(۱)
خو بی یې داده که خبر دار اوسی

مرګ شته پیری شته دا وا ړ ه را تلو نی دی
سړ ی یا مرګ یوسی یایې پیری یوسی
* * *

---

(۱) په دوهمه قلمی نسخه کښې دا مصرع داسې راغلې ده : ځینې خپل عیش کا خپل حشم کسې .
(۱) پو سل = تا وول او غوړول .

څو څو قر نونه به ور باندې تېر شی
شپږ ین صورت به یې په بل بل څپرشی
لکه چه هېر ې دی پخوا پېږ ی
خوشحا ل به هسې له د له هېرشی

* * *

څو دا جهان د ی دا هسې تل شی
خپل د ې پر دی شی پردی دې خپل شی
دبل وی ستا شی په یو ه د م کښې
هغه چه ستا و ی هغه دبل شی

* * *

څو دې د تو رو ز لفو خمو نه د ی
هو مره په ما باند ې پراته غمونه دی
دخپلو تو رو ستر ګو غمز ې وپوښته
چه یې په ما باند ې داستمو نه د ی

* * *

څو غم غیر ت کړ ی چه غلیم مې نه مړی
قضا چه نه و ی سړ ی په څه مر ی
نه به ته پاتی شې نه به دی پاتې شی
هیڅ بیړ ه مه کړه هر څوك به ومری

* * *

څو ك په چا ګر م وی په چاناګرم وی
ځینې بد فعل په هر چا ګرم وی
ته خپل خو ی بنه کړه په چا ګر ممه شه
خود به شر مېږ ی چه تر تا ګرم وی

* * *

څو ك چه په خو ی کښې پاکیز ه پاك وی
سخ یې په کور دی پا کیزه ژواك وی

سلو ك چه بد لر ی زار یې دځان دی
که هر څو بنه وی هغه هلاك وی

څوك چـــه خبر ې ستا د ښا يست وايی
ښه خوی‌خصلت به دې راته‌په‌څه ستايی
زه درتـــه ژا ړ م تـــه را تـه خاندې
دا هسـې کبـر په هـېچـا نه ښا يی

* * *

څو ك چـه ختلـی پـــه ملکو ت و ی
دهغـه کلـه پـه کار نـا سو ت و ی

فرقا ن نا طـق د ی پـه ا مـر نهـې
چـه نهی نه کـا ئا ی يـې لاهوت وی

* * *

څوك چه ړو ړ ی ددهقـا نی خو ری
خوا ړه د حو رو دمهما نـی خو ر ی

چه يـې په ظلـم خو ری وا ړ ه يـې‌زهرشه
که شو لا نو نه (۱) دسلطانی خـوری

* * *

څو ك چه قمر ياد کا ړو ی د ې را يادشی
څو ك چه عنبر يادکاموی‌دې‌رايادشی

څوك چه مقر ياد کا کوی دې راياد شی
څوك چه سقر ياد کا خو ی دې‌رايادشی

* * *

څـو ك د هـوا و هـو س نـتلـی د ی
څوك مې په بغض په حسد تپلی(۲) دی

پـلار دخپل څان دی زو ی دخپل څان‌دی
په خپـل خپل جو ړ هر څو ك‌نيولی‌دی

---

(۱) شولان = نعمتونه‌اوښه خورا کونه .
(۲) په دريمه قلمی نسخه کښې (تللی) راغلی دی .

څو يــې غير ت و ی څو يــې همت وی
دمرد به هــو مره قــدر قيمـــت و ی
مرغــه چــه نه لری تندر ست دو ەڅانګه
پر ش يې کلــه پـــه رفعـــت و ې

* * *

څو يــې همت و ی هــو مر ه قوت لری
هــر مرو ت لـــر ی هر فتو ت لری
خــليل اسا دی لکــه مــو ســی د ی
ابدال پــه اور په اوبه نصرت لــری

* * *

خار د ې پـــه بخر ه د خار کشا نوشی
ګــل دې په بخــر ه دګلر خا نو شـــی
قنــد د ې پـــه بخر ه د شنــوتوتيانوشی
سوز د ې پــه بخر ه دپتنــګا نو شـــی

* * *

خانان هغه دی چه په خپل نام دی
نه پــه دنيا دی نه پەخپــل کــام دی
چه په کو م تو کــی دنا م نښــپګړه و ی
په هغــه فکر کښــې په صبح وشامدی

* * *

خان دو ګــړی چه شمشير زن نه وی
دده نښـــه ور کړه دده نښه نغن نه وی
لکــه نا مرد مــړ ه چــه واده و کـــا
خوارزار روز ګار کا حال يــې‌دزن‌نه‌وی

* * *

خبر لا نه يــم چــه دا به کــله شـــی
چه مــې به کسی ســر ه و بلـــه شی

ته آئينه ګوري نه مې سينه ګوري
چـــه دې د هجــر پــه لمبــه سو له‌شی

خبر ې ګراني دی اسا نې چېرې د ی
دچا مشکنې دچا ګو هر ې د ی
په دا دنیا کښې چه څه بهتر ګنې
بنې بنې خبر ې تر ې لا بهتر ې د ی

* * *

خپل بد خو یو نه بد خو ی هنرګنې
په ځان که خاو رې وی خاو رې هم زرګنې
په ځان چه څه وی بل هم هغه ګنې
یو چه کا فر وی بل هم کا فرګنې

* * *

خپل حکم مه کړه چه کم یا ستر و ی
دافکر مه کړ ه چه پس یا ز ر وی
دکښید ګرې په لاس کښې ستن بنه
دخط و هو نی په لاس کښې درو ی

* * *

خدای چه بنه کړ ی په دا جها ن د ی.
که پرې پو هېږې انسان ، اسان(۱)دی
چه سره یو شی دا دوا ړ ه تو که
مشکل کا رونه اور ته اسا ن د ی

* * *

خسیس چه مال لری پرې نباد به نه شی
بنده بنده دی آزاد به نه شی
چه همت نا ك د ی هغه آزاد د ی
آزاد آزاد دی عباد به نه شی

* * *

خصلت به دا لری چه منا فق و ی
دهر مذ هب سره به موا فق و ی
یو به یې ز ړه و ی یو ه به یې ژ به
یو به مذهب لری چه څوك صادق وی

---

(۱) اسونه .

خصلت يې دا و ی چه ليئيمان و ی
نن چه څه ور کا ګاند ه پښېمان وی
که هر څو ډېر ور کا خپل ورکړه کم ګنهی
دا شا ن يې دود وی چه کريمان و ی

* * *

خلك چه بد شی باد شاه يې بد شی
په هره چار کښې حيران بخر د شی

خوبی په دو ر دعا لمګير نشته
دچا به ولې له چا حسد شی

* * *

خلك چه هو مره يا ری کا ند ی
ځا ن کا په خپله تر غمو لاند ی

مرګ يې له ډېر و غمو نو خلاص کا
منت دمرګ دی په هر چا باند ی

* * *

خواری يې نشته چه څو ك هو بنيارو ی
هوبنيارچه نه وی په خواری خوار وی

نراد (۱) چه بنه و ی د نرد ګټه نه کا
بد باز (۲) په بده باز ی نا تار وی

* * *

خوا ږه دمينې نه راپټېږ ی
وا ږه په مينه سره غټېږ ی

مينه په مثل نا فه د منبکو ده
نافه د مينکو چپر ته پټېږ ی

---

(۱) چه دنر دلو به کوی .
(۲) چه په لوبه نه پوهېږی .

خوټ خو ټ ددېګ‌دی سرود، دو ږ ی
غـږ د او بو دی ژو ندو ن د تـږ ی
چه یـې‌کش کش شی پر تو ګ وکاږی
هغـه اواز د ی چـــه زړو نـــه کوږ ی

* * *

خوږ ه مـړ ی کـه ښه مز ه لـــر ی
تري مـــې تو به ده که دا بزه لـــری(۱)

همای مر غـــه مـــې ځکه هډو نه خو ر ی
اسمان له غو ښتو ســـر ه خزه (۲) لری

* * *

خوشحال که تور دی دګناه په توری
خلك حـــیران شی چه ورتـــه ګوری

خپل دین محکم لری خدای‌ډیر کرم لری
مخ به یې رونې کا دسبا تر ستوری

* * *

خوشحال کـــه هر څو په رنـــځ کښې ژاړی
نامـــرد یـــې وګنه که په مرد نه ویاړی

ژړا یـــې وا ړه پـــــه دا سبـــب و ه
دخـــدا یـــه خـــیر د خپل ایما نغواړی

* * *

خوشحا لـــه پـــا څـــه رو غې دې پښې‌دی
مکـــې تـــه درومـــه څـــه خـــرخښې د ی
زو یـــــه کـــه و رونـــه که ښه یاران دی
وا ړه د ې و لیـــد ل دخپلې ښې د ی

---

(۱) ګناه ــ ظلم .
(۲) رسوایی ، بد نامی .

خوشحا له زو ړ شوې سړ ی‌چه زوړ شی
دمهو شا نو لـه مینـې مو ړ شـی
تـه څو ز ړ ېـز ې لا میـــن کـېز ی
زړه بـــه دې کله تر ې موړیا سوړشی

* * *

خونه چه پا کـه و ی پرې برکت او ری
ور باند ې هرکـله عز ت دولت اوری
پاکی چـه نه وی پـه هغـه خونه کـښې
وربـاند ې وا ړه بـلا آفت او ری

* * *

خوی چـه دبدو دچـا عـاد ت شـــی
په پنـد پـه ز جر لا ز یاد ت شـی
طبیب یـې څو ك د ی ملك الموت د ی
چـــه مشرف یـې پـه شها دت شـی

* * *

خیال دهغـې د ې چـه شو خ وشنـکه‌وی
شوند ې یې شهد په مخ ګلر نګه و ی
چه دایـې هـیڅ نه و ی ناز به په څه کا
کـه ناز کـا نا ز به یې بتر تـرجنګه‌وی

* * *

داتو ري ږ یر ې چـه ایـما ندار ې د ی
سپینـې ناپاکـې ږیرې تریخارې دی
صدق و فـا بو یـه چـه دا یـې نه وی
ږیر ې د څوانو د ز ړ و مـرداړې د ی

* * *

داجام چه چاچینبن هسې لا چینبن شـــی
مستا ن یـې خو ب کاکله به‌وینبن شـی

حال یـې و هـیڅوا و ته معلو م نـه شو
آه د ې لـه دلـه هـر دم وکینبن شـــی

داچه خا نا ن دی یا امر ګا ن د ی
په هند کښې ګر ځی په هرمکان دی
غوښې هډ و نه دمظلو ما نو خو ر ی
زما تر فهم وا ړ ه ددا ن د ی

* * *

دا چه و تا ته شیخا ن پیرا ن د ی
بد خواه دخلکو بد خواه د ځان د ی
علم عمل بو یه مر شد دلا ر ي
چه دا یې نه وی وا ړ ه سکا ن د ی

* * *

دا دي بار خو د ی خو له نیو لی
که لا له ګل د ی پر خې و هلی
دا دي سر ي شو ندې که سپیی ن غا ښو نه
که لا ل و در د ی سر ه پیلی

* * *

دا لمر په و رځې د شپې دا ستو ر ی
چه نا کرار د ی و بله ښو ر ی
د ډیر و ستر ګې پرې لګیدلې د ی
و لا ړل لا ډیر به یې په ستر ګو ګوری

* * *

دانا یې مه ګنه چه صبر نه لر ی
چه صبر نه لری حکمت به څه لری
سړ ی د صبر په کار کښې واز میه
چه صبر نا ك و ی هر څه به ښه لری

* * *

داووی (۱) مې خوښ دی چه چا ویلی د ی
ډیر مې په ز ړه باندې ښه لګیدلی دی
بد خواه دې خو ښ کا په ښو خبر و
نیکخوا ه په بد ویل خپل ژړو لی د ی

---

(۱) وینا ، قول .

دا یو څو تو کـه د و قـو ف دا ړ دی
باز دمیـر ښکـار دی زړ دتـجار د ی
کتـــا ب د چـا دی ددانـشمنـــد د ی
ښـځه دمر دد ه مـښك د عطـار دی

* * *

دبا د شـا ها نو چـه امر ګـا ن د ی
دیـوه بحـر ولـې شـا ن شـا ن د ی
والـه چـه لو یـه و ی کـه کم لښتی وی
او دس پا کی لر ه وا ړ ه یکسا نډی

* * *

دباد شاها نو چـه ښـه خا نـا ن دی
کار کـشا یـې کـا مقـر بـا ن د ی
که یـې اشنا شې ځنې حذر بـو یـه
اور دی اوبـه دی درد دی در مـان دی

* * *

دباد شا هـی په تخـت چه نا ست وی
دا کار یی هیڅ د ی سهر چه نماستوی
دو لت، دو لت د سهـار خـیزی د ی
مر دا ن دهسې دو لت په خواست وی

* * *

دباغ څښتن نه یو سیب پیشکش راو ړی
دده لـه باغه بیا یې په اش(۱) راوړی
هغـه به څو ك وی غـا فـل نا اهلـــه
د ز ړه فکرو نه چـه مشـوش راو ړ ی

* * *

دبا غ ګـلو نه چـــه نندا ر ه شـــی
څوڅو کا ږو نه پکښې ښکار ه شـــی
چا ته پـه خوا رو ستر ګـو هیڅ مه ګو ره
ډبـر ناګـهلی دی چه په شماره شـی

---

(۱) آش = تمه

دبخـــت په مخ کښـــې زر و دا نې د ی
دبخـــت په څـــټ کښې زر و يرانې د ی
بخـــت دی د شاه د ګـــدا هـــيڅ نشتـــه
پـــه بخـــت خوار ی هم کا مرا نې دی

* * *

دبـــنو تير د ې پـــه څو تـــپر ه د ی
واړه لـــك شو ی ز ما پـــه ز ړ ه دی
دا دنـــکر يز و نـــګار پر ې نـــه د ی
دخوار پـــه وينو يـــې ورغوی سره د ی

* * *

دبيـــم په څا ی کښـــې سړ ی مـــلا وی
چه يـــې اميدوی هور ته خوشحال و ی
هغـــه پـــه خړ و او بـــو نـــظر نه کا
چـــه تل يـــې بخر ه آب ز لال وی

* * *

دپند پر وا لر ی خا و ړې خـــو ړو نی
ور باند ې بد لـــګی نصيحـــت کړو نـــی
بـــد دې د هيـــچـــا تر فهـــم بنه نه شی
نه وی د پـــلا ر د خبـــر و و ړ و نـــــی

* * *

دتن (۲) مې تير ســـو شپېتـــه ژګو نه‌دی
ستـــا نه غـــمو نـــه پکـــښې زړګو نه‌دی
جـــدا له تا نه چـــه يو نفس درو مـــی ـ
خـــو نفـــسو نه هـــو مر ه مړګو نه د ی

* * *

دتن خـــو لـــې د ې بو ی د ګـــلاب لر ی
زلفـــې د ې طعن پـــه مشکنا ب لـــر ی
عتاب نور مـــه کړ ه د خـــدا ی د پاره
خـــو شحا ل د ې کلـــه د عتا ب‌تاب‌لری

---

(۲) په دو همه قلمی نسخه کښی (ننه) راغلی دی .

دچا بـه څـه لر ه مـا نـه لـه بله شی
چـــه نېکه بده په عمـل موندله شـــی
هغـه چـه و کړي هغـه به و ر یېږي
لـه خپـله لا سه هر ه کـر لـه شی

* * *

دچا په کور کښې زو پـی مهرا ن د ی
دچا پـه کور کښې در و مر جا ن دی
که ته هېڅ نه لـر ي ګو ما ن دامه کړه
چه به دستـا غوند ي واړه‌ناتوان‌دی

* * *

د چا چـه د نـنـه سینـه پـه در د و ی
دمـه یـي عینـي په آه سـر د و ی
کـه مرد د لاند ي و ی بنـڅـه د پا سه
پـه دو اړ ه تـو کـه ظـفر دمرد و ی

* * *

دچر خ لـه لا سـه زړ ګـو تی ریـږدی
دا خو ی بـه چـېر ي له لاسه پرېږدی
هر څو ك چه وو ینـي‌چه داغ‌په زړه لری
ددا غ د پا سـه بل داغ پر ي‌کښېږدی

* * *

دڅـان د بنمن د ی دښمن چـه یارګنی
دښمن چه یار ګنی مرګ دي تیارګنی
هو بنیار بـه څان دنا دا ن په شمارګنی
نادان هغه دی‌چه‌څان هوښیـار ګـنی

* * *

دخپلـه لا ســـه چـه ستـمو نـه د ی
ګـو ښـی په ما نه د ی په عا لمو نه دی

دخپلـه لا ســـه لکـــه ښـا دی د ی
دخپلـــه لا ســه / هو مره غمونه دی

دخپلې چار ې هنر ، يــو هــر لـــر ی
مغز يـــې په سر کښې هومره څوسرلری
مزر ی ګاو ز د ځنـــګل پـــه څو نـــيسی
ګيدړ د شـــلا نه و دښکار هنـــر لر ی

* * *

دخپلـــې خو نـــې د ږوا ل کـــه کوږ وی
دخپلې خو نـــې پـــه څښتن خـــو ږ وی
زيست و روز ګـــار يـــې پکښې خوندی‌وی
لـــو ښی کا لی‌يې په ده کښې‌بوږ(۱)وی

* * *

دخولې خبر ی دې خو ږې ترمن (۲)دی
و بختـــو رو وتـــــه مـــن مـــن دی

ترخه ويل دې د خولې هر ګز نه وو
دا چه تر خه وايې دارو در من دی

* * *

د خـــولـــې ويـــل دې واړه نـــبـــا ت د ی
خـــوازه دې لاد ښکنځلو زيـــات دی

څوك يـــې چه ښکل کا سخ دهغو د ی
شوندې دې دواړه آبحيات دی

* * *

د دولت ستوری ګرځـــی قابل غـــوا ړی
قابل چه بيا مومی نه پسې بل غواړی
که چيرې مل شی د نا قابل ســـــر ه
(۳) ټکاؤ يې نه وی رخصت ترې تل غواړی

---

(۱) بوږ = سنبال او محفوظ .
(۲) يو ډير ښـــه خوراك دی او ترنجبين‌ته هم وايی .
(۳) توقف ، ايښا ردل .

دده پـه ذکر وا ړه گـو یـا د ی
کـه دخشکی د ی که دد ریـا د ی
دده له حکمه و تلی نـــه د ی
که ناست په تخـت دی که په بوریا دی

* * *

دده پـه حـکـــم بـالا پستی شی
مستی خمار شی خمار مستی شی
نه تل بهـا ر و ی نـه تل خزا ن و ی
هستی نیستی لری نیستی هستی شـی

* * *

د رزی لا ګز لـری مقـراض سوزن لـری
یو جمدر ګوتی خوشحال خیـرن لر ی
کوچ یې اسان دی مشکل هیڅ نـــه د ی
غـم دیا را نو درد دو طن لـــر ی

* * *

دروغ چـه فاش و بې صرفـه و ا یـی
خپـل ځان په خپله خوار ی ته بیا یـې
تر دا هغـه بد چـه شیطا نی لـــر ی
فـکر فریب کا پـــه نفاق پـا یـی

* * *

دروغ د چـا دی د کـــم ذات د و ړی
یـا د کمـز وری پـه قـوت لـــړ ی
چه دایې نه وی دروغ بـــه و لې کـا
درو غ چه کاندی خوړوی په سړ ی

* * *

دروغ وعـده د ې پـه مـار ښتیا لـګی
تر خـه د ښکلیـو لکـه حلوا لګـی

دښو ناوك دې په نو رو نـــه پسـنـدم
پرېږ ده چه واړه پـه زړه ز مـــا لګی

در وپش هغه دی چه ترس دخـدای لری
دنیـکو فعـل د نیکـو را ی لـــر ی
تمه لـه چا نـه کـا لقمه حلا له خو ر ی
جدا له خلکه داستو ګې ځای لری

* * *

دریـا ب چـه لـو ی د ی هومره هواردرومی
شورو غوغا نه کا په څو کرار درو می

سیلاب په څو څاڅکی غږ پر پیدا کـــا
بقایې نه‌وی په ډپر تلوار درومی

* * *

د سـر داری چـاري د شـوا ر ي د ی
څو څو کمري څوڅو یـې لاري د ی

بـراق د عقـل د هـمت پیـد ا کـړ ه
پکښې بې شماره بلا تیا ري دی

* * *

د سر داری چه څوك هـو س لـــر ی
خپل ځان دې خاوري خپل مال دی خس لری

غم دو سلو (۱) دی دجنګ هیڅ نـه کا
کـه دخپل ځان سره یګا نه لس لر ی

* * *

د سر غلیم دې کـه دا نـا یی لـــر ی
بهتر تر دو سـتـه چه‌کانا یی(۲) لری

توان یا د زرو یا د ځـوا نانـو د ی
لا ف دې هغـه کا چه توانا یی لر ی

---

(۱) په دریمه قلمی نسخه کښې د (وسلو)په ځای(حیلو) راغلی دی .
(۲) سا دگی او کم عقلی

دشاه پالنګ دي د موزی مسکن نــه شی
ګلزار دي ځای دزاغ وزغن نه شی
ګــل د بلبل دی بلبــل د ګــل د ی
په ښه جمال به غافل مین نه شی

* * *

دشپي څښتن دي سهار تــه ګو ری
ګوندي پري وخېژی دسبا ستوری
هېڅوك د ي تمه امید پري نــه کــا
باران په تږیو کښتو نــو ووری

* * *

دعشق په کار کښي یو هر(۱)ګډیږی
یا پکښي قهر ستــرګــي ر ډېــږ ی
دا دواړه تو که په عشق کښی یا د دی
سړی نــا حقه پــه باد ، ډډ پــږی

* * *

د عشق غمــو نــه تــر عمر ه سم د ی
په هره ساه پــه هــر هــر دم د ی
د نا مــر دانو ور سره کار نشتــه
غم د مردانو دی مر دان د غم دی

* * *

دعقل زانې چــه تــا لیــد لــي د ی
د صبر قازي چه تــا کتلــي د ی
که هر څو زور لری یا تیز پری لــر ی
دشاه د ستر ګو شاهین وهلی دی

* * *

دعوه د چاري په یــوه هــر کښي و ی
عقــل هم بو یــه چه یي په چرکښي وی
چه بېهوده درومی بلا هغه مو مــی
سر به هغه کښېږ دی چه یي په‌سر کښي وی

---

(۱) هر ، دلته د شور او غوغا معنی ور کوی .

د غرو نو ګانې تر حساب تـــپر دی
څه واړه کانې دلال په څپر د ی
که اهل و وینم زه به تري ځار شم
اهل څوك نشته نا اهل ډپـــر د ی

* * *

دغم فکر ونه په زړه کښې با ز د ی
تل دنیادی ونیکار ته سا ز دی
خدای به یې نیکار د نیا دی ساز کـــا ۔
باز ونه کله خالی پر واز د ی

* * *

دمرد چه صبر چـــه استقلال نـــه وی
چه غم پرې را شی پکښې خوشحال نه وی
مردی یې هیڅ ده ز مـــا په پـــو هـــه
که یې په جاه ودولت څوك سیال نه‌وی

* * *

دمرګ قتال د ی پـــه هر هـــر کلی
غشی په ګورت کښې نیاز من پرې ولی
چه مې په ستر ګو هغه یاران لید ل
اوس یې لیدل شی په سترګو څلی

* * *

دملك سر دار دې هو نښیار قلا ش(۱)وی
تل دې له نښو سره په نښه معاش وی
ځای داشتی پـــرینښی بـــو یـــه
چه یې له چا سره جنګ وپر خاش وی

* * *

دننـــه زړه مـــې ور پسې ریـــږ د ی
چه زلفې تاو کا دی پرې کښیږدی
زوړ شوم نا رې و هـــم تو به له عشقه
که مـــې دلبر ې ور پسې پـــر پـــږ دی

---

(۱) چا لاك او غښتلی .

دنیا څو ډېره هومره يې غـم ډېر وی
چه نه وی نه خوری هم يې الم ډېر وی
هستی نېستی يې د واړه بـلا د ی
خوبی يې داده چه ورته کم ډېر وی

* * *

د وطن ونـې چـند ټ اګـر د ی
خاورې يـې واړه منبکو عنبـر دی
که سرای و نورو ، و تـه سنګېړ د ی
کانی يې واړه ما تـه سره زر د ی

* * *

د هوښیا رانو ور مـو نـه ز ر د ی
دا دهغو دی چه پـرې خـبر د ی
چه د هوښیا را نـو ور مو نـه ، نه منی
دهغـو هر کلـه خاو ری پـه سر دی

* * *

دیار پـه عیب چـه یار خبـر شی
یار ی يـې ولا ړ ه کـه پر ده در شـی
دیار دې عیب و هنر د ځـان ګڼـی
پوه دې په عیب هـم پـه هنر شـی

* * *

دیار مـې واړه د ستر ګـو تـور د ی
چه سپین و تور يې د چم د کور دی
چه د معشوقې تر سپی ځان ، ځار نه کا
مین يې مه بوله هغـه څه نور دی

* * *

ډېر څه مې وکړل ما وې که یار شی
دیدن يې ووینم زړه مې قرار شی
چاوې چه صبر کړه صبر مې هم وکـړ
سیګن یم(۱) کله په صبر کـار شی

---

(۱) زړه وهلی ، زړه مور شوی ،

ډېر دی چه ږېږې د شیخی پـــو سی
ډېر دی چه می خوری رندی کښې اوسی
بنده د چا یـــم د هـــغـــه کس یـــم
چه یې نیـــو لـــی تر سر ه یـــو ســـی

* * *

ډېرې مرغـــی پـــه زړه د لکښې دی
سهار چه ږغ کا هغه مې خوښې دی
ډېر نعمتو نه مې په جهان کښې و لیـــد ل
چه لوی نعمت دی ، نعمت خو غوښې دی

* * *

راغله اختـــر او نـــوروز همـــغا ړ ی
مینـــا خنـــدا کا چغـــا نـــــه ژا ړ ی
ساقی دا وخت دی چه تو به نغـــا ړی
ومایې را کړه زړه مې می غواړی

* * *

رنګ د تو تیا نـــو لری شین کـــوسی
هنر چه نه لر ی بې- قـــدره اوسی
چه اصالت لری چه بنبـــه خصلت لـــــری
هغه به بخره له میا نـــه یـــو سی

* * *

رنګ رنګ ګلو نه په باغ کښې وا شی
لکه چـــه ورشی هسې فنـــا شی
ګر مـــې هـــیڅ نـــه دی د باغ بلبلې
چه یې دا هو مره فر یاد ژړا شی

* * *

رو ژه دخدای له وېر ې درللـــه شـــــی
که نه په هر چر ته روژه خوړله شی

په اشنایی کښې مهر اخلاص بـــو یـــه
که نه په درنګ کښې اشنایی بله شی

روغــه کتوه پــه نغری سمــه و ی
ما تــه کــتو ه پــه نــغر ی خــمه و ی
ځینی (۱) چه ځان خوار کا ملته (۲) روپی شی
ملتــه روپی پــه قــدر کمــه وی

* * *

زار د هغو دی چه آز حــا جت لــر ی
نه ډېر دولت لری نه ډېر همت لــری

هغــه بــه ولې د اسمان منت و ړ ی
چه مستغنی وی عیش وعشرت لری

* * *

زاړه واړه غوا یه په غابنی ځان وړی
چه توان قوت لری خپل بار په توان وړی

خوشحاله پربږده خپل بار په خر و مه وړه
مست مست بارونه مست مست اوښان وړی

* * *

زاغ وزغن دې پــه باغ کښې ورځــی
چینجی مینجی خوری په څانګو ګر ځی

خوشحال و چا ته خپل کار ښکاره کــا
بلبلې نشته چه بانــدې غــور ځی

* * *

زر دخا نــانــو دبــاد شا هــانو دی
د نوکرا نو دولت خوا هــا نو دی

خوری د ې ګټی دې عیش و عشرت دې کا
نور څو ك چه زر ساتی دګمراهانو د ی

---

(۱) په چا پی نسخو کښې د ځینی کلمه (جن) لیکل شوې ده .
(۲) کلپه او ناسره ، سولېدلې .

زر شوی د زړو پــه حال خبــر وی
چه چېر ته خیژی په کوم مقــر و ی
زر به په سپینو شګو کښې نه مو مــی
شګې یې توړې تر خا کستر وی

* * *

زر که دې لېرې له بازو ګــر ځــی
سر بڼه (۱) دې لېرې له پرانګه غور ځی
ګڼه بڼې به یې په پور ته غور ځــی
په څوک کښېوزی نوره به پرځی

* * *

زړه چه نسکور وی غم یې په کور و ی
که ډېر یې زر وی که ډېر یې زور وی
تل به پر ې پورې دسیا ل پېغور وی (۲)
مخ یې که وینځې هم به یې تور وی

* * *

زړه دې دهــر چــا ســره صفــا وی
په چا ګرم ، مه‌شه که دې رضا وی
که څوک نا حقه له تاپر خــا ش کــا
اندوه یې مه کړه ظفر به ستا وی

* * *

زړه مې په تن کښې په ډېر اشوب شی
چه بنګلی یاد کړم کله مې خوب شی
زوړ شوم لا خیال لرم د مهو شا نــو
په سپینه ږیره هم عاشق توب شی

---

(۱) غر څنی ګډه . (ظفر اللغات) .

(۲) په دوهمه قلمی نسخه کښې (تل به په زرو دسیال) .

زړه مې زخمی دی وینې تـرې څاڅی
ژاړم له درده څړ یکې تړې پـا څی
تیر یې خـو ړ لی دهسې لینـد ې د ی
چه په اواز یـې د ژ ی نـا څـی

* * *

زړه مې له ښکلیو سره بیا بیو ور غـواړی
ګوره و ځان ته بلا په زور غـواړی
زلفـې چه تاو کـا پـه مخ یې پر پر د ی
جنون پرې زور شو بیا رنتهبـور غواړی

* * *

زړه وهغه ور کړه چه زړه دې وساتې
که دوه که درې وی چه زړه دې ښه ساتی
زړه یو ښه څیز دی و ښه (۱) یې ور کـړ ه
نه و هغه ته چه ز ړه دې نه سا تی

* * *

زلفې چه تاو کا پـه مخ یې پر پـر دی
ښکلی ګلو نه په بار خو کښیږ دی
زړه مې بلبل شی ور باندې را شـی
له ډپـر ه شو قه و رباند ې ر پـر دی

* * *

زما په باغ کښې ګلو نـه ډپـر د ی
خدای یې را پرپږ ده په هرهر څېر دی
داغ مې پـه زړه باندې د معظـم دی
دا داغ چه زاغی نور مې پرې هېر دی

* * *

زوړ که باد شاه وی که او لیـا و ی
دځـوانـې ښځې ځـینې بـلا و ی
زوړ یې که هر څه د ځان مز دور شـی
د ځوانې ښځې نو ره هـوا وی

---

(۱)په چاپی نسخه کښې د(ښه) په ځای(سپی) زاغلی دی .

زویه وروز مه شه چه ځوا نمرد نه وی
مرد دتیکلي مرد د نبرد نـه وی

میړه یي مه بوله بنځه پري نوم کښیږ ده
چه دجنګ غشی ورباندي (۱) وردنه وی

* * *

زویه هغه دی چه په رای داب (۲) وی
که نه له ځانـه پیدا غضب و ی

که هر څو بنـه دی چه ستا نسب دی
غـا فل تري مه شه اقر ب عقر ب وی

* * *

زویه هغه دی چه خوی د بـاز لـری
لوی لوی بنکارو نه لوی لوی پرواز لری

نه خوی د چرګي نه خوی د زا غ کـا
چه ځان دغو لو خوراك ته ساز لری

* * *

زو یـه هغه دی چـه فد و ی دپـلاروی
دپلار تر هـري خبري ځار و ی

چه دایي نه وی زر دي پـه ګور شی
پیدا د پلار نه دی یو عیب وعار وی

* * *

زویه هغه نه دی چه هـوا پرست و ی
زویه هغه دی چه حیا پرست وی

عهد وفا لـری سخـا عطـا لـر ی
طا عـت تقو ی لر ی خدا پرست وی

---

(۱) دګلابو ګل .
(۲) پلار. په دوهمه قلمي نسخه کښي (داب) په ځای (ادب) راغلی دی.

ژیـره دي کلـه دپښتـانـه شـی
چه دمغول په منصب يې ز ړه شی
مغل کمزو ری غليم بـې رحـم د ی
کله يې زړه وی چه پښتون ښه شی

• • •

ژ يره غـا ښو نـه مـې جدا جدا وا يی
ځوانی دي ولاړ ه راتـه هم دا وا يـی
چه چا ته وګورم يا چا تـه وخا نـدم
راتـه دادا وايی کا کا بابا وايی

• • •

ساقی را پاڅه پسر لـی تېرپژی
اهاړ را درومی غارمه دپـر پژی
گوره لا کلـه به سهيل را خپـړ ی
چه درد و غم به دغارمه کمپژ ی

• • •

ساقی غورپژی سل برګ په منـی
دلبرې خيال کا د ده پـه مينـی

دچا په بخـره د ميـو جـا م شـو
دچا په بخره پو پـی (۱) پمنی

• • •

سبا به تل و ی مسا (۲) به تل را ځی
چه يو تېر پژی باندی به بل راځی

يو به خوشحال غوندې پيدا ځوک نه شی
په شپه په ورځ کښې خوشحال که سل راځی

---

(۱) پوپی يو قسم وانښه دی او پمنـی يوغر نـې تريخ بوټـی د ی (ظفر اللغات) .
(۲) مسا = مانښام .

ستر ګي چه نه وی مخ به پسا له نه شی
خوی يې چه بد شی دخپل کاله نه شی
فهم کـه وکـړې دا حال بـه ووينـې
عيب چه ډير شی عيب ابباله نه شی

* * *

ستر ګي دې نه دی ستوری د بخت د ی
چه در ته ګوری څښتن ورتخت دی
دناز په غشيو هغـــه شيخان ولـه
چه لاف د زهد کا په زړو نو سخت دی

* * *

سـخ دهغـو د ی چه بـې خبر د ی
بـې غمه خو ب کا په خو ب وخور د ی
روز ګـار پـه غـم دی د خبـر دا رو
چه په زر ګونو فکرو نو سر دی

* * *

سخ دهغـو دی چـه پـاك پيـدا د ی
که انبيا دی کـــه او ليـا د ی
خلاص دی د نفس د شيطا ن لـه شره
په ښـو پـه بد و ځـا يـی دا نا د ی

* * *

سخی، که لك ور کـا و ده ته كك و ی
بخيل که كك ور کاو ده ته لـك وی
دهغو ور کړه په ور کړه مه نيسـه
چه ور کا زړه يې لـه غمه ډك و ی

* * *

سر دار هغه دی چه شرم ننګ لـری
مدام د شرم توره تر څنګ لـری

صرفه په زر نه کا صرفه په سر نـه کـــا
چه دښمنان وی له هغو جنګ لری

سړی پـه اصل سره یکسان د ی
که چو هر ی دی که بادشا هان د ی
فرق یې په فعل په خوی هنر و شو
څکه دوی هسې سره شان شان د ی

* * *

سړی په خپلو سره بې غمـه و ی
ونه په خپلو ولـیو محکـمه و ی
دچا چه نه وی خپل زو یـه و رونـه
سیالی یې کله له سیاله سمه وی

* * *

سړی پـه مثل کانـی د کـوه د ی
په څو څورنګه ګروه ګـر وه د ی
چه جوا هر دی پکښې کم کـم شتـه
نابود بدرنګ یې انبوه انبوه د ی

* * *

سړی چه ځوان وی دجونو ځان و ی
زور یـې په څنګ کښې لکه سوهان وی
زاړه که ښه کاجو نه دې نـه کـا
جن دې ها له کا کـه دی سلطان وی

* * *

سړی چه زور شی زبون په تن شـی
حواس یې نور شی په زړه هېر جن شی
لطیف خواړه دې خوری د خول دې کم کا
که کا نو خـبز ه چه پر ې میـن شی

* * *

سړی چه زو ړ شی ورنځ تـه جو ړ شی
که ډېر هوښیار دی په عقل بوړ شی

چه بې ایمان وی حرص یې زیات و ی
که ایمان دار وی له هر څه موړ شی

سړی چه وږی شی کچکول په لاس وا خلـی
شهوت‌پرې‌زورکانور نور وسواس واخلی
خدایه په خپل کښې خو شحال معمو ر لر ه
چه پل له لاړې ، نه کوز وپاس واخلی

* * *

سړی چه ولا مبی په او بـو پا ك شـی
سپی لابد بوی شی‌چه څو نمنا ك شـی
احمق چه و لو لـی څو کتا بـو نـه
په څه خولو سته یا وه کـا واك شی

* * *

سړی که زوړ وی ښه زو یه ځـوان لری
څه به اند وه لـری څه به ارمان لری
دپلار ښه زو یـه دو بار ه عمـر د ی
بد زویه پلار لره بلا شا ن ، شان لری

* * *

سړی که وړ ونی شی او اړه کړو نی شی
دلو یو لو یو بخر و بـه وړو نی شـی
راشه په خپلو ستر ګـو یې وګو ره
فایده یې کومه ده سپی چه خو پرو نی‌شی

* * *

سړی هغه دی چه تر س دخدای لـری
خپل ځان عا لم تـه ادم نمای لری
حق د حقدارو اشنا په ځـان لر ی
خوبی د عقل خـو بی د رای لـری

* * *

سړی هغه دی چه نو ش ونپش و ی
نه بد گویی لری نه بد اند پش وی
په هره چار کښې همت په ځای لـری
که مال و ملك لری که خوار دروپش وی

سفله دي هېچېرې د مال څښتن نه شی
دښو جامو دي په اغوستن نه شی
شمله چه پرېږ دی کتوه ښخه کا
له کبره خپا له و رته ګفتن نه شی

* * *

سفله چه زر تول کا د مال څښتن شی
ورانی په لاس واخلی دځان دښمن شی
دنېکخو اهانو په پند پر وا نه کا
دبد خوا ها نو په صحبت مین شی

* * *

سګان دبدر (۱) له نوره جنګ لری
ګونګټ د منبسکو له بو یه ننګ لری
سره زر څه نور څه دی زر نیخ (۲) څه نور څه دی
څه شو که بر ینبسی د زرو رنګ لری

* * *

سواره د عقل په براق ښا غلی د ی
له عقله پلی په غم نیو لی دی

بو در ی (۳) دعقل دبرا ق هم بده ده
سواره يې سر په څنګ لوېدلی دی

* * *

سهار چه پاڅی په استغفار کښېنی
په یا دو لو د خپل غفار کښېنی

دا وخت نور مه ګنه ز ما په پو هه
ګنه په باغ کښې دا رالقرار کښېنی

---

(۱) پوره سپوږ می .
(۲) ګوګړ .
(۳) ټکره خو پل .

سهیل (۱) چه و خپژی او پری تمام شی
زپرمه د ژمی د سر انجام شی
په اته میاشتې هسې هوا و ی
چه دځوانا نو پکښې هر کام شی

* * *

شا هان بل اور دی چه هر څه نغزی
اعوان سکر و تې داو ر بخر ی
چه یو بخری ځان ته پرې نه ږ د ی
هوښیار به تل و ی وا ور ته ځر ی

* * *

شاهین که پر لری سر دار که زر لری
سر دار که زر لری شا هین که پر لری
فهم په سر لری کام به در بر لر ی
کام به در بر لری فهم په سر لری

* * *

شرم یې نشته څاروی خو دار لری
نه هو مره مهر په مور په پلار لری
فرق د سړیو څا رو یو هو مره دی
چه شرم مهر په خپل مقدار لری

* * *

شمع که هر څو سوز او ګداز لر ی
ژاړی په او ښیو چهره طراز لری
دا کار یې واړه زما خوښ نه شو
چه خپله ژبه اوږ ده په راز لری

* * *

شونډې دې نه دی آبحات د ی
زلفې د ې نه دی منبك حیات د ی
مخ دې بهتر تر نسرین د باغ د ی
سنان ، سنان دې با نه یکذات دی

---

(۱) سهیل دمیزان ستوری .

شیخ یې مه ګنهـــه چه نفس یې خوارنه وی
با تور یې مه بوله چه پرې پر هار نه وی

که دا نشمند وی تفسیر په یاد لو لـــی
چه ډېر ویل کا دی به هو نښیار نه وی

* * *

شېکری څوړی (۱) نیسی زانې شنقر نیسی
شرمنښ بېهانې وهی مزری ایغر(۲) نیسی

ولوی مېلمه تـــه سړی ساغـــر نیسی
مفلس مېلمه ته سا غر لا غر نیسی

* * *

ښځو تـــــه ډېـــرې بـــلا تعینې د ی
څو ستر پوښې هو مره مهینې دی
چه بې اد بـــې بی نما ز ې لویې و ی
ورتـــه نظر مه کړ ه که مخ نسرینی د ی

* * *

ښځه چه ډکه شی که کښېنی مار را وړ ی
مار ښه ، نه زویه چه نا هموار راوړی

گل چه نه رنګ لری نه بوی ښه کـــا ندی
ښه دا چه ونه بوټی خار دار را وړی

* * *

ښځې پـــه اصل کـــز ې ناســـمی د ی
په عقل کمې په دین هم کمې د ی
شو مت یې او ر د ی چه چېر ته و لګی
پـــه دم پېرۍ په دم ادمې د ی

---

(۱) څوړی یوه کوچنۍ مرغۍ ده .
(۲) مست او قوی څاروی .

بنځي دهېڅا په رڼ ريشه نه دی
څرڅ ګنده چر ده و فا پېښه نه دی
په خپل مقصود د ی په غرض سود د ی
په نورو چارو کښې همېشه نه دی

* * *

بنځي بنه څيز دی که په مخ بنکلي وی
له موره پلاره پاکي زو ولي وی
که دايي نه وی زر دي په ګور شی
چه نه ليدلي نه چا کتلي و ی

* * *

بنځي طراري دی بنځي مکا ري د ی
بنځي مکاري دی بنځي طراري دی
که هر څو ياري دی بنځي اغياري دی
بنځي اغيا ر ي دی که هر څو ياري دی

* * *

بنځي له ځايه په عقل کمي د ی
سمي به نه شی پيدا نا سمي دی
وفا تري مه غواړه په يارې يي مه ويارە
که دي محر مي که نا محرمي د ی

* * *

بنکلي هغه ده صفت يي بنا يی
په هر هر ځای يي وګړی ستا يی
هغه دبنکليو په شماره نه ده
چه دکور ډمه يي ستا ينه وايی

* * *

بنه به تري څه غواړي هغه چه تل بدوی
هم په بازل(۱) بدوی هم‌په ساتل‌بدوی
دبل علاج وشی د خپل علاج نه شی
چه دي بد خواه شی تر بل نه خپل بدوی

---

(۱) بښندل .

ښه ځوی بد کېږی بد خوی ښه کېږی
په صحبتو نو که څوك پو هېږی
نافه دهو ږی په بوی خوش بوی شی (۱)
حنظل شکر وسره خوږ پږی

* * *

ښه ښه ځوا نان دی دننګ یك دلی
حاضر په کار کښې سواره هم پلی
ډېر زر دولت وی باندې خور و لی
ور ته بخښلی هر څه بخښلی

* * *

ښپر ې دې وا ړه په ما دعا لګی
ښکنځل دې واړه په ما حلوا لګی

که ته مې ولې په سرو سکر و ټو
واړه به ګل د لاله په ما لګی

* * *

ښې ښې دلبر ې ددو ی (۲) یارانې د ی
په دادنیا کښې غمګسار ا نې دی

چه خوله یې ښکل کړې زړه دې ډېرښه شی
په دواړو شوندو ، شکر با رانې دی

* * *

صبی که هر څو مر سل نبی و ی
دپلار له مینې بیا ا جنبی و ی
یعقوب چه ړوند شو یو سف هیڅ نه شو
په غم کښې ستر وی نه چه صبی وی

---

(۱) په چاپی نسخو کښې (نه شی) دی، مګرپه قلمی نسخو کښی خوشبوی شی را غلی دی .
(۲) په او له قلمی نسخه کښې د (دوی)په ځای (دین) راغلی دی .

طبیب چه بنه وی رنځور قضا و ژ نی
طبیب چه بد وی رنځور دوا وژنی

. . . . . .
. . . . . (۱)
* * *

عاشق په وخت د وصال سلطان و ی
هاله یې مه وینې چه پرې هجران وی

چه یافت یې څومره خوښی یې هو مر ه
څو چه کا لی وی هسې یې زیان وی
* * *

عالم پر پو و نـی تلـې کب ګـو ر ی
کارونه خدای کا ، نه یې دا ستوری

نظر دا نـه کـا چه افـلا کـو نـه
دچا دپاره سره تـل ښو ری
* * *

عام دې د خاصو په مجلس نـــه شی
یار فرښتو سره ، پیری ناغس (۲) نه شی

دناسو کار له نسنا سو مه غـوا ړه
دپیا زو بوټی به ګل دنرګس نه شی
* * *

عجب کارو نـــه سبـا بیګا شـی
نیکخواه بد خواه شی ، بد خواه نیکخواه شی

زړو نه د خلکو د خدای پـه لاس ګـنه
تبد یل د خلکو پـه هـره ساه شی

---

(۱) په قلمی نسخو کښې هم بل بیت نه لری .
(۲) کلپ ، خیرن .

عرب هم ډېر دی عجم هــم ډېــر د ی
شماره يې نشته تر حساب تېــر د ی

نور ښکلــي واړه غــټ وا ړ ه ستو ر ی
تا غونــد ي کله دنمر پــه څېر د ی

* * *

عشق چه په خپلو مو جو نو سر شی
ترا با سینده لا زور ور شــی

بلا يې ليرې هر څــه پــه مــخ وړی
چه کانی بوتی پــه مخــه ور شی

* * *

عشقه ستا واړه چارې او تړې د ی
چه زور ور يې وا ړ ه بهتر ې دی

تر مرګــه پورې سره نظــر لــری
ځلمی با زو نه (۱) جونې کو تړې د ی

* * *

عفو کرم دې په هر چــا عام نــه و ی
په کس نا کس دې دا کار مدام نــه وی

کس چه خطا و کا باندې عطــا بو يــه
ناکس لا بدشی چه انتقام نه وی

* * *

عمر که ډېر شی بیا دی هفتاد شــی
تر دا د پــا سه لکــه ر مــا د (۲)شی

چه د ځوانی ساعت را يــا د شی
په هر زمان مې پسې فر يــاد شی

---

(۱) په او له نسخه کښې داسی دی : ځوانان بازان دی .
(۲) ایری .

عیب یې مه ګوره که ډېر هنر لـر ی
څه شو په مخ که تر سیری‌لمر لر ی
ســر چــه د تــاج د خولی لا یــق و ی
څه شو که څه خو پخی د سر لری
* * *
غابن چه دې وښوری مر یی د غل شی
بد خویه ښځه سر دې یې کــل شی
چه اوا ره شی هاله تر یې خلاص شــی
ګڼه وتا تــه وا ړه خلــل شــی
* * *
غشی چــه ډېــر ولی ښه تیر انداز شی
چه مشق دخط کړی وخط ته ساز شی
کــار د مــحــنت دی د مشقت د ی
ورو ورو په هر څه کمښې لکه سره زر ده
* * *
غشی چه راشی په واړه تــن لګــی
ګوزه رسا لګی که بر سپرن لګی
بــده خبــره تــر غشی بــده ده
دزړه په سر باندې د مردو زن لګی
* * *
غشی چه سم وی ګوزار پرې ښه کیږ‌ــی
چه ښه سم نه وی ګوزار پرې نه کیږی
راستی په هر څه کمښې لکه سره زر ده
په لاس که زر لرې په زر هر څه کیږی
* * *
غشی چه کوږ وی یا عیب جن و ی
ځای په تیر کیش کښې (۱) کله سودمن‌وی
یا یې علاج وکړه چه با ور ی شــی
یا دې یــې فــکر ددو ر کــر د ن و ی

---

(۱) په دریمه قلمی نسخه کښی (ځای یې په کیش کښې) راغلی دی .

غشی دتهینګې لیندې خطا شی
دنرمې سستی ګزار رسا شی
ښه تېره تور ه په لاس کښې واو ړ ی
دپڅې توري ګوزار بلا شی

* * *

غلیم هو ښیار ښه دی که مرګ‌دې‌غواړی
دپر به تر جنګه په آشتی ویا ړی
هوښیار چه نه دی غلیم یې مه ګنه
پر ږ ده په خپلځان‌وژاړی

* * *

غم به ددین خور ی چه مو منان د ی
دا نور غمو نه واړه اسا ن د ی
چه دین یې نه وی که په تخت‌کښښنی
ښا دی یې غم ده‌که بادشاهان د ی

* * *

غم چه په زړه کښې ددلا رام لر ی
ګر م دی که فکر دننګ ونام لر ی
چه یار یې څه وی هسې دې ،دی ،و ی
که دین دکفرکه داسلا م لر ی

* * *

غونچه دبا غ دې تل تل غوړږ ی
پر ې وږ ې ستر ګې دبلبل مړږ ی
خدای دې تا زه لری دبا غ ګلو نه
چه ور ته سترګې دبلبل غړږ ی

* * *

فتنې دښځو هرګو ره ډېرې د ی
په شیطا نی تر شیطا نه تېر ې د ی
لکه لټکه (۱) هسې ټکی لر ی
زهر په خوا کښې ښکلې‌برسېرې د ی

---

(۱) کورمار .

فرزند کــه بنــه دستر ګــو نور شـــی
دستر ګــو نور شی دزړ ه سرور شــی
فرزند کــه بد شی غا بس دې رنځورشی
غــا بس چــه رنــځورشی‌نو دامبور شی
* * *
فرزند که هــر څو دپلار عاصی شـــی
چــه پلار ت‌ پرپوځی بیاپه خلاصی‌شی
خدای پــه بنده باند ې لا ډپر مین دی
له هر ګنا هــه په تو بــه خلاصی شی
* * *
فرزند هغه دی چـــه شــر مــنا ك و ی
لــه بدو چا زو پــه زړ ه‌کښې پاك وی
چه شر م‌نــه لر ی خــبر ه نــه منــی
چـــه لا هلــك وی زر دې هــلا ك وی
* * *
فرزنــد هغــه د ی چــه مــتقــی و ی
نه بد ګومانه بد خو ی شقی (۱) و ی
خبر چه نه وی د خــدا ی لــه حقـــه
دانور حقر نه پــر ې نا حقــی و ی
* * *
فرښتــې له نو ره ،پــېر ی لــه نارە دی
کــه پرې خبر یې سړی‌له چاره(۲) دی
څکه دا هسې ډېــر ې فتنې لـــر ی
لــه با دو خا کــه له آب ونـــا ره د ی
* * *
فرق د ســړ یــو ســره بسیــار و ی
سړ ی هغــه دی‌چه څــه هوښیار و ی
چه څه پــر ې تېر وی څه یې لیدلی و ی
علــم اد ب لر ی پــه صحبــت تیا ر وی

---

(۱) بد بخت (۲)چار = څلور، مطلب څلور عنصره .

فصل په فصل کندو ډ کيږ ی
لکه ډکيږ ی هسې تشيږ ی
څو دا اسما ن شته په (۱)سرځرخيږی
يو فصل درو مې بل را رسيږ ی

* * *

فکر مې وکړچه دا انسا ن د ی
ځينې فربټې دیځينې شيطا ن د ی
ځينې سړی دی په خو ی خصلت کښې
ځينې بې شکه لکه ددا ن د ی

* * *

قابل که نه وی دو لت که بيا مو می
لکه يې بيا مومیهسې تړې بيا درو می
باور په بخت مه کړه باور په تخت مهکړه
اسما ن يې ونغاړیکه شاهنشاه درومی

* * *

قابل هغه د یچه درست طلا شی
له ز رو سيمه په استغنا شی
نه يې زکو ة وی نه يې قربان و ی
هسې تر ې درو می لکه چه را شی

* * *

قاضی په وخت دقضا په ياد شی
غا ز یپه وخت دغزا په ياد شی
طبيب په وخت ددوا په ياد شی
زاهد په وخت ددعا په ياد شی

* * *

قام ته مې کله لو يی بښکا ره د ی
په وړو چا رو کښې اوا ر ه دی
لاس مې نيو لی د ی په دوا ړو غوږو
تر ې توبه ، تو به چه هيڅکاره دی

---

(۱) په دريمه قلمې نسخه کښې (دیپرې) راغلی دی .

قربان تر خاصو چه خاص الخا ص د ي
پـه زړه لـه نورو فکرونو خـلا ص دی
که ډېر غمـونـه ور باند ي را شـــی
تسلیم قضا تـه په ډېـر اخـلا ص د ی

* * *

کار يـي ښکاره شی ونه چه بر واخلی
يا خـوږ ثمر واخلی يا تریخ ثمرواخلی
فرزند هم هســي دو نـي کار لـــر ی
يا ښـه هنر واخلی يا بـد هنر واخلی

* * *

کاږه کـا رونـه د انـا تـه ســم و ی
ښـه سم کارو نه نادا ن ته خم و ی
فرق دهو ښیار دنا پو ه پـــه دا وشو
پـــه دا خبره به ، خبـر عا لم و ی

* * *

کانـی يا قوت دی ګـیاه کیمیـا د ی
شنا خت يې هغه لری چه څوك بیـنا دی
فرق دسړ يـــو تر منـځ بـېشما ره دی
ځینې سړ ی دی ځینـــې چـار پـا ی دی

* * *

کبلی (۱) چه پر بوځـی مورور ته و دری
په دوه در ې میاشتې په پیـو ولـــر ی
که پر ور ش دی د کبلـی ځلـه د ی
څو ك يې په زړه کښې دهوسیووکری

* * *

کریم هغـه دی چـه خو ش معا ش و ی
هم خطا پو ش وی هم عطاپوش وی
چه ورکـا خوښ شی ډېر ورکړه لږ ګنهی
باند ې د هـر چـا شاباش شاباش وی

---

(۱) کبلی = دهوسی بچی (ظفر اللغات) .

کړل دی ویل دی دوا ړه اوا ن لـر ی
چه وخت يې تېر شی افسوس ارمان لری
چه کار دنن ورځـې پرېږ دی سبا تـه
هوښیار به نه وی دا خوی نادا ن لر ی

* * *

کلپـه روپیـه ښیـا یستـه رو غـه و ی
خوچـه سوراخ شی نور بی فروغه وی
هېڅـو ك دخپلـو شنـوبو بد نه وایی
صفت دهـر چا له خپلـه دو غه و ی

* * *

کله یار غـوا ړ ې کلـه یـار در شـی
کله کـار غوا ړې کلـه کار در شـی
اسما ن پـه ډو ل ډو ل تـېر ی کـا
خوشحا لـه ګـو ره ګوند ې وار درشی

* * *

کوم دی چـه وا ړه خو بـی ګل لر ی
خـمار د مـل شتـه خا ږو نه ګل لری
یار که نور ښـه د ی یو خو ی یـې مه ګوره
اکثر کـه ګـو ړې حکم دکل لـر ی

* * *

که باد شا هان دی که دروېشـا ن دی
کـه په دا منځ کښې ښه ښه ځوانان دی
که په زرګونـو کا لـو نـو پـا یـی
عا قبـت وا ړه د ګـو ر ستـا ن د ی

* * *

که بخـت مې یار شـی یار مې به یارشی
بو سـه به را کا را بـه کنـار شـی

چه مـې نیکخـواه دی زړه به یې ښه شی
چه مې بد خواه دی هغه به خوار شـی

که په ګناه کښې سبـــا بـــېګـــا و ی
ګـــناه يې نشته چه څـــوك اګـــاه و ی
که هيڅ ګـــناه‌نه‌کا په غفلت‌کښې اوسی
هـــم دا غفلـــت د غا فـــل ګـــنا ه و ی

* * *

که څوك ايغر (۱) دی‌که څوك اخته(۲)دی
هرڅو ك په خپلې چارې اخته (۳) د ی

څوك سره مينې شير و شکـــر کـــړه
څـــو ك سره ګـــوره اور او پـــخـــته د ی

* * *

که څوك په ځير ځير ويل وړ پـــر ی
خوشحـــا ل نه وړ ه کا نه شـــر مېر ی

هوښيار به وا ړه پـــه دا پـــو هـــېر ی
چـــه کاږه ز پـــر ی کاږه لـــو يېـــر ی

* * *

که څوك نېکا ن دی کـــه څوك بدان دی
په دا دنيـــاکښې چه په هـــرشان د ی

مه يـــې ستا ينـــه کړ ه مه يې غـــند نـــه
ته به يـــې څه کړ ې چه دخپل ځان دی

* * *

که دنبـــا تـــو حلو ا پخـــه شـــــی
په نا ګهـا نـــه په سپـــی جـــو تـــه شـــی
نور دسړ يو لـــــه کا ره وو ځـــــی
جوتـــه د سپيـــو په سپـــی خـــو ړ ه شـــی

---

(۱)مست او اندړ .
(۲) خصی ،(۳) مشغول .

که دې دیـا ر پـــه یار ی ز ړه و ی
دیـار بـه هـر څـه و تـاتـــه بنه‌و ی
قدیم بې مثله دی عیب‌یـې نشتـــه
حادث به هیچـیر ې بې عیبه نـه و ی

* * *

که ډکه بنـــځه کښینی یو ددرا و ړ ی
بهتـر تر دا دی چه بـد ولـد را و ړ ی
دا ځـا ی د حیر ت د ی څو ک به څه دم‌وهی
بدان چه بنه راوړی نیکان‌چه بد راوړی

* * *

که زړه څو ک تنګ کا چه یې‌قضا نه وی
که تل جنګو نه کا مرګ یې روانه وی
قضا چه و رشـــی بـلا پر ې سازه شی
که په ملکـو نـو چـیر ې بلانـه و ی

* * *

که زړه سخـــی لر ی چه مال یـــې نه وی
په ځان مې ولیده څه حال یې نـــه و ی
که باز دې وا ړه هنـر د بنکار لـــر ی
بنکـار به پـه څه کا چه بال یې نه وی

* * *

که ژا ړې ژا ړه پـه ژړا څـــه شـــی
کـه په ژ ړا د ې لیـمه ړانـده شـی
هغه چه و لا ړل لـه د ې جها نـــه
کـه‌ته‌باور کړې بـیر ته را نه شی

* * *

که ستړګـې نه لـر م چه یې وګـو ری
بې د عینـکو د کتـا ب تـــو ر ی

پیر ی ته تنـې کړ ې شکـر و کـا ږ م
چـه لا پرې و ینم داسمـا ن ستـو ری

که سحـــر دستر ګـــو غمز ې يې(۱) دادی
لکـــه چـــه ســـتا دی بـــــلا د ې دا د ی
خوږ ې خبر ې د ې خو ږ ې شکرې دی(۲)
مشك و ګـــــلا ب د ې پکښـــې ادا د ی

• • •

که سر د ښځـــې سپينې و ږی شـــــی
زړ ه يـــې و . .. ته هره ګړ ی شـــی
سړ ی نـــه د ه لکـــــه پـــبـــر ی د ه
چه . . . . پر ې ولاړشی هاله سړی شی

• • •

کـــه سو ختګـــا ن دی که آموختګان دی
دزنـــګو ز ړو نـــو افرو ختـــګـــا ن دی

خدای يـــې روزی کړه ښادی يې خپلـــه ده
چـــه دغمو نـــو انـــدو ختـــــګـــا ن د ی

• • •

که شېر مـــر دا ن دی هغه ځوانان د ی
چه دوست دښمن سره په خوی شادان دی

تل خو ښ له ديو يا ران دوســـتان دی
تـــل تـــر ې په تمـــه لا دښمنـــا ن د ی

• • •

که کړ م کـــه نه کړ م دوا ړه بـــلا د ی
که و ړم که نـــه و ړم وا ړه بـــــلا د ی
که خو رم کـــه نه خو رم وا ړه بـــــلا دی
کـــه مرم کـــه نـــه مـــر م دواړه بـــــلا د ی

---

(۱) په اوله قلمی نسخه کښې اوله مسره داسی ده : که ستر ګې وروځې غمزی يې دادی .
(۲) په اوله قلمی نسخه کښی د (دی) په ځای (شوې) دی .

که لال و در او یا قوت الماس دی
وا ړه دا نا س دی وا ړه دانـاس دی
چه ناس دې نه وی په سین‌کښې پرېوځه
کـه جوا هر دې ببرو ن تر قیا س دی

• • •

که مې په ډېر ه ژړا لـېمه و وځـــی
یارمـې نا تر س دی په دایې څـه ووځی
ګـلګو نې او ښـکې سا ړه اهـو نـه
څـهمې له ستر ګو څه مې له زړه ووځی

• • •

که مینـد ې لنـګې دا پـر یـد و د ی
دو یو د تو رې ،تورې ددو یـــو د ی
ددین پـــه کار کښې کـه آرا سته و ی
عز ت د خپلـو هم د پر د یـــو د ی

• • •

که نا دا نا ن دی کـه هوښیا را ن د ی
ګوما ن دا مه کړ ه چه ببکـا را ن دی
خوا ږه تر خـه یـې وا ړه پـــه کار ګـنه
چـه پیـدا شو ی پـه دا بـا را ن د ی

• • •

که نور څـه نه و ی سړ ی چه زو ړ شی
دکنـګـا شو نو په کار کښې‌جوړشی
څوانا ن چـه پنـد نه منـــی د ز ړ و بـدکا
دبـد خـوا ها نو ز ړ ه به پرې سوړشی

• • •

که ور تـه وایـې کلـــه پـو هېـز ی
قرا ن‌کـه لولـې کلـه ګـر و هېـز ی
دپلار په پند یـې و تنه (۱) نه وی
بـدان په خپلـو بد و ستو هـې ږی(۲)

---

(۱)باور ، اطمینان . (۲) خپه کیږی اوستومانه کیږی .

که هر څو دو ر ې درا ز ې بلـــېږ د ی
په مړګ بـــه وا ړه پـــه مځکه کښېږدی
حاصل دعمر خو دا دو ه تو کـــه د ی
چه وړاند ې وروسته دوروسته پرېږدی

* * *

که هرڅوښه شی بیا دباد شا ه شـــــی
لښکـــر دو لت لر ی صا حب دجاه شی
بیا بـــه تنها درو مـــی د ګـــورو خولې ته
په خپـــل عمل بـــه هالـــه اګا ه شـــــی

* * *

که یار زما د ی درست بـــه زما شـــــی
سستـــی به پر پږ د ی چست به زماشی
زړه بـــه وز ګـــار کا لـــــه غیر ه فکـــر ه
په شپـــه او ورځ به په لوست زما شی

* * *

که یار دوا ړه (۲) وبلـــه رای شـــــی
دروڼی لـــه ژبې په زړه کښې ځای شـــــی
چه دا بار یکې معنـــی یې بیا مو ند ې
په هغـــه کس دې رحمت د خدا ی شی

* * *

ګرېوا ن یې تل تل لـــه ګله عار لر ی
مـــژ ګا ن یې تل تل کشته بسیار لر ی
چه یـــې زما غوند ې د لبر ه بیا مونده
هغـــه لـــه نو رو سر ه څـــه کـــار لر ی

* * *

ګل د ګلابو نیست و مـــو جـــو د شـــــی
لکـــه مو جود د ی هسې نا بو د شی
که بوی یـــې پا تې شـــــی په ابګینه کښې
په هغه بو ی یې هرڅوك خوشنو دشی

---

(۲) په چاپی نسخه کښی (که یاری دواړه) دی .

ګلزار ته راغله ګلو نه چونې (۱)
تر مخ يې نه دی لا له مخ رو نې
چه کور ته درو مې له ګلستا نه
ګل يې لمن نيسی لا له لستو نې

• • •

ګل يې له مخه د خو بې انځور غواړی
خوابه يې شهدله شوندو پور غواړ ی
ډير يې په طور د شيخ صنعان کړه
ستر ګې يې ښه ښه شيخا ن لانور غواړی

* * *

ګناه که هر څو د سړ ی ډير شی
په شمار دو نو تر پا نو تير شی
نو ميد دې نه شی د خدا ی له فضله
ګوند ې د فضل په ډکه و ير شی

* * *

ګند ګی چه پر ته و ی ګونګټ پر ې ګرځی
چه نه و ی پا څی ځنې و و رځی
د دنيا خلک اکثر ګونګټ د ی
څو چه څه مو می ور باند ې غور ځی

* * *

ګوره پر ې غو ږ کړ ه شپېلی څه وايی
بېلتو ن پر ې ورغی هر ګوره ښه وايی
سينه يې ګو ره څو ځا يه سو ې د ه
زار د فرا ق کا نورځه هيڅ نه وا يی

* * *

ګيد ړ بې ز ړه د ی و هم وسواس لری
مزر ی زړه و ر دی کله هراس لری
هغه مز ری نه د ی هغه ګيد ړ د ی
په کار و بار کښې چه زړه کوز پاس لری

---

(۱) په اوله قلمی نسخه (ګلرنګ پرونی) دی.

لبا ن دې نـــه د ی آبحیـــا ت د ی
ابحیـا ت دی صفـو ت صفـا ت د ی
چا چه نو شلـی هغـه یو څاڅکـــــي
په هغه څاڅکـی دیـــدن د ذا ت د ی

* * *

لرګـی چه و تو ږی ها له بـه تیر شـــی
په ښکر هنر وکړه ها له زهګیر (۱)شی
تر درس چه ووځـی علـم حا صل کا
تر سرچـه تـیر شی ســړ ی امیرشی

* * *

لکه په و نو باند ې خزا ن را شـــی
پیر ی هم هسې په خپل اوان را شـــی
خزان دو نـو خو بـی تا را ج کـــــا
پیری هم هسې په زیا ن دځان راشی

* * *

لـکه کـتهو ه پـــه لمبـــو ایشـــی
زمـا د نـنه پـــه ز ړه هـغه شـی
له چا بـه څـــه لر ه مانه په زړه لرم
خو ږ یم د خپـلو ستـرګـو پـه غشې

* * *

لـکـه کتهـنه دمـا ل هنـر لـــر ی
هســې خو ړ نـه دما ل هـنر لـر ی
لکـه باز نه دمـا ل هنـــر لـــر ی
هسې سا تنـه دمـا ل هنـر لـــــر ی

* * *

لو یی پـه خدا ی ښا یی یو هسې لوی‌به‌وی
په ورځ دحشر چـه کفتـګو ی بـه وی
دتو رو پـا نـو په شست وشوی به‌وی
غـم د څـان نه کا امتی جوی بـه وی

---

(۱) دلښندې دنیو لو څای (ظفر اللغات) .

لـه طبیبـا نـو عا لـــم دوا غـوا ړی
لـــه در و ښـا نو خلـك دعا غـوا ړ ی
خدا یه دهیچـا محتـا ج یـې مه کړه
هر څو ك له نوروخوشحال له‌تا غواړی

* * *

له شهر ه شهر زیږی له کرکه کرکه‌زیږی
له بازه بازوی له چرکه چرك زیږ ی
هر څو ك خپل اصل وته ر جو ع کـــا
خطـا که نه وی له بزرکه بزرك زیږی

* * *

لیـلا مجنو ن ته وې په بیا با ن تـنبی
ولـې له خلکه ، یې هسې کـــو نبـــې
وې یـې ما څـه پو نښتـې مـکر تا نه‌زده
تایم لـــه خلکـه کـو نبی پر یښـی

* * *

مـت کړه قا بل شـه چه څو ك قابل شی
دبخـت و ستـور یو تـه مقا بل شـی
قابل چه نه و ی د و لت که بیا مو می
بقایی نه وی حا ل یـې څـــه بل شـــی

* * *

مر دا ن هغـه دی چه همت نا ك و ی
په هره چار کې چست وچـا لا ك وی
که غم پر ې راشی پر وا د غـم نـــه کا
خوا ږه له هر چـا په زیست په ژوا ك‌وی

* * *

مر دا ن هغـه د ی چـه همـت نا ك وی
دننګ په کار کښې چست‌وچالاك وی

دد یـن پـه کار کښـې که آراسته وی
په‌زړه هم پاك وی په خوله هم پاك وی

مرد بـه غیور و ی مرد به صبور وی
هم به پـه عفو په کرم مشهور و ی
نا مرد هغـه د ی پـــه حقیقت کښې
چـه دا څـو تو کـه يې له دله دور وی

* * *

مزر ی پـه خپلـه ما تـــه نـظر لـــر ی
لـــه بلـه دده کـله حـــذ ر لـــری
ګیدړ چـه ښکار کا دشلانډو مـلا نډو
خو ر ی يې له تر سـه نـظر لر برلری

* * *

مز ری چه ډ پر ګو ري ترس دي ډپر کم شی
چه در تـه غږ مبا و هی په ځان دي غم شی
سړ و وهلـی اژ در خو ړ ل نـــه کـا
چه لمر يـې تود کـا ها لـه ستم شـی

* * *

مزر ی خپـل ډ غ لری ګید ړ خپل ډغ لری
هر يو دخپلې چـا ري دغـد غ لـــر ی
ګدا ی د خپلـې جـو نـګړ ي غـم کـــا
بادشاه دملك د حشم بیرغ (۱) لـر ی

* * *

معشو قه کو مه چه طر بنـا که و ی
ناز و نیا ز لـر ی پـه حسن پاکـه و ی
نـه درو غجنـه نه قـهر جنـــه و ی
نه بد خورا که نه بد پـو بناکـه و ی

* * *

مغو ل پښتو ن سره په پېچ و تاب د ی
چه پښتانه ګـو رم خا نـه خرا ب د ی
ښه ښه ځوانا ن شتـــه یه پښتا نه کښی
چه لاس يـې نه رسی خانه خـرا ب دی

---

(۱) په اوله قلمی نسخه کښې (یرغ) راغلی دی یعنی مصلحت او اتفاق دی .

مقبو ل د خلکـو په غـم کښې وو ب و ی
مقبو ل چه نه و ی هرګو ره خو ب و ی
چه نېسست يې ځان کړ لـه عيبـه خلا ص شول
چه ځا ن يې هسست کړ هغه معيوب وی

• • •

مګر چه کښل کـا داکـا تبـا ن د ی
وا ړه خـوشخـط کښې سره يکسان دی
ځينې مشکـنی کښې (۱) ځينې کونجکې
دچا تر درو ، حر فو نـه ګـرا ن د ی

* * *

ملا په علم پـه کتا ب نـا ز پـړ ی
حا جـی د حـج پـه ثـواب نا زپـړ ی
غا زی دتو ري پـــه با ب نـا ز پـړ ی
خوشحا ل په فـضل دوهاب نا زپړی

* * *

ملك دکلـی چـه دچا سپـك و ړ ی
دکلی ما ل به يـې ښځې هلـك و ړ ی
تل چه په کور کښې مـېر من نا بوده وی
پې يې پيشو څـتی غله يې مړك وړی

* * *

ملوك چه عدل ، عقل ،کر م لـــر ی
اندو ه يـې کم وی لـه چاځه غم لر ی
چه دايې نه و ی د ځان غليـــم د ی
ځان به په خپله عا لم ته ګـر م لـر ی

* * *

منت د خـدای ښـه دی نـه دوګـړ ی
دختمکـــی نـــه د پـــو ه زړ ی
چه مست سند ګان دی بار دچانه وړی
غوايـه تر بار لا ند ې پرېږده چه خړی

---

(۱) ليکی .

مور هم هفه گنـه چه زړ ه يـې مور و ی
سترګـې مړ لر ی کـه زور که ووړوی
که دېر دولت لری چه تمه خواست کا
دګـدا يـی و کـار تـه جـو ړوی

* * *

مو من هفـه دی چه جو ړ يقيـن لر ی
وېـره لـه خدا يه اندو ه دد يـن لری
بار د هر چا و ړی خپـل بار په چا نه ږدی
بنـه يې کر دار و ی بنـه همنشين لری

* * *

مومن هفه دی چه ترس دخـدا ی لـر ی
چه ترس دخدای لری زړه دې په ځای لری
مو من دې غـم نه کا د ګنا هو نـو
چه ګـنا هو نه دشيطا ن په رای لـر ی

* * *

مو نږه توتيـا ن يو په بن زاغلـی
ګـلونه ګـو ر و بنکلـی بنـا غلـی
څو مو قسمت و ی پکښې به او سـو
بيا به تر ې درو مـو ز ړونه دا غلـی

* * *

مو نږ ه مز زی يو پـه بنکار را غلـی
دبنکار غمـو نـو ز ړو نـه دا غلـی
چه بخـت يـې بدوی بنکاريې هم بدوی
بنـه بنـه بنکا رو نه کاپه بخت بنا غلی

* * *

مهينـه تو ره خـو رنـګ تما م و ړی
ځينې يـې ګډ ه يا يـو انـدا م و ړ ی
ځينې مخ وا ړو ی نوغـی (۱) ونه کا
دهغـو تو رو نا حـق څو ك نام وړی

---

(۱) نوغی = داغ ، اثر، علامه (ظفر اللغات) .

مـــړ ه دي توره ، ور کړه ، وفـــا لر ی
بنـــځـــه دي حسن ، شرم ، حيالـــری
نوري پو ښتنـــي و رځنـــي مـــه کـــړ ه
هرڅـــه به ښـــه لر ی هغه چه دا لر ی

• • •

مـــړ ه هغه دی چـــه صبر نا ك و ی
دور اند يشـــی لر ی پـــه لمن پاك وی
چـــه دا يې نـــه وی په سر يـــې خاو ر ې
ګـــنده يـــې عمر ګنده يې ژوا ك و ی

• • •

مينه په هر چـــا چـــه دځه د پـــا ره شـــی
بقـــا يې نه وی زر زر نا کـــا ره شـــــی
چه حقا نـــې وی مقصود هيڅ نه لری
دهغې مينـــی به تل ننـــدا ره شـــــی

• • •

مينـــه چـــه ټبر ه د سړ ی تر هـــډ ه شی
درو مې دننـــه پـــه ما غزه کښې ګډه شی
دهغې مينې زوال هـــر ګـــز نـــه و ی
دهـــډ دپا سه پـــه ساعت ډ ډ ه شـــــی

• • •

ناستـــې و لا ړ ې دې په خر خښې د ی
ډير ې فتنـــې دې په ستر ګو کښې د ی
په زړه مې وا ړه لکه ملهـــم لـــګـــــی
دتا نا ســـا زې ترســـاز و ښـــې د ی

• • •

ناکس دې و خو ر ی دستر ګـــو کسی
دا نـــا نـــا دار و ګـــړ ی کـــســـی
لا ل و ګـــو هر پر ېږ دی له خپله لاسه
په لاس مشکنی کـــو نجکـــې نيـــسی

---

(۱) نوغی = داغ ، اثر، (ظفر اللغات) .

ناکس هغـه د ی چه اصل بـــد لر ی
دنبك خوا ها نو نصیحت ر د لـــــر ی
دحـق دارا نو د حـق پروا نه کـــا
آدم لیـد ه شـی خصلت د ، ددلـــری

• • •

نصرت هو ر پ و ی هو ر پ چه شخوند وی
دو لت هو رپ و ی چه کار په‌سندوی
په وخت دپینی (۱) لستو نـی دپر غږ ی
په‌وخت دتو رپ بنکاره مـړ و نـد و ی

• • •

نظر که وکړ پ او وه اسمـا نـه د ی
اووه اسما نـه د ی اووه جنها نه د ی
اسرار یـې هیـچا مو ند لـی نه دی
خبـر پ دپرې په خوخو شـا نـه د ی

• • •

نفس و شیطـا ن سره یو تن و جود د ی
په‌دوه صورتـــه ســر ه نـــمود د ی
دوا ړه مرد دو د دی پـه شریعت کښې
چه د مر دود منـی هغـه مر دو د دی

• • •

نن دپـر نیکخواه وی سبا بد خواه شی
نـن دپر گـمرا ه وی سبا په راه شی
زړونه پـه حکـم د کـر د گـا ر د ی
قضا تـه گور ی چه څو ك اگا ه شـی

---

(۱) پینه ، دخوراك لرگینه کاسه ده ، مطلب دادی چه دکاسی اوخوراك په وخت کښی دپر خلك لستونـی رانغـا ړ ی. او ښایی چه دغه کـلمه پیښوه وی .

نو کر ژو ند ی نه د ی کاریـې دمړه و ی
خپل ز ړه يې نه وی دصا حب‌په‌زړه‌وی
چه و رتـه حکم دخپـل صا حـب وی
که هر څـو ګران و ی هم يې‌په‌وړه وی

* * *

نه به په‌ببرتـه زما ځوانـی راشـی
نه به بيـا دور ، شاه جهـا نـی را شی
يو زوی مـې نشتـه دپر ش د ی‌که څودی
چه به پـه ده کښې زما خانی را شـی

* * *

نه به زما غـوند ې بـل ننګيا لی را شی
نه به‌زماغونـدې بل جنګيا لی را شـی
ختمـك لا پر پر ده په درست افغان‌کښې
عجب که هسی فرهنګيا لی را شـی

* * *

واده څو ك مه کا نی‌ع و دو نـه غم دی
دده‌غـمو نـه لـه عـمره سـم د ی
سـخ دهـغو دی چـه لونـډا ن د ی
پـه غـم نيـو لـی د يـو ه د م د ی

* * *

واده دې هر هر پسر لی هر کال و ی
ښـځه دې ځوانه اس د ې نيم زال وی
دا دواړه تـو کـه ددو لتـمنـو د ی
ځينې دې تښتی څو ك‌چه کنګال (۱)وی

* * *

واړه غلط دی چه څو ك خپل ځان سپا يی
کبـر لو يـی کا پر پشا ن‌پر پشان وايی
که هر څو لو ی شی سړ ی بيا خاورې دی
خوشحاله کبر لويـی په خدای ښا يـی

---

(۱) کنګال = مفلس (ظفر اللغات) .

واړه مستا ن د ی چه مخ زیبـــا لـر ی
دخپلـــو تو رو ستـــر ګو صهبا لر ی
باور یـــې هـــیڅېرې په وعده نه بو یـــه
په خو لـــه به تـــل سبا سبا لـــر ی

* * *

وایی په ز ړه دې غمو نه څو مره د ی
څو دا نا سا ز ې راسر ه هو مره د ی
هرچـــه مین شـــی ز مـــا په پو هـــه
دقهر و لـــی مزر ی تـــر زړو مـــر ه د ی

* * *

وایی دخو نی شا هتیـــر د ې و ل لری
کوږ دی ، تنکی دی، لنډدی، خلل لری
زه هم پـــو هیـــږ م د ز لـــز لـــې د ه
تکیـــه دا خو نـــه د عز و جل لـــــر ی

* * *

وخت به دژمی و ی که وخت دا و ړ ی
چه به را وا غوند ی دمرګ خرڅوړی
ما بـــه په تو رو خا ور کښې وا چو ی
پکښې به پر پو ځـــم زه بو ړی بو ړی

* * *

ورتـــه حیرا ن شـــم که دانـــا یـــی د ی
دجنسه ،جنسه چـــه اشنا یـــی د ی
هر څو ك خپل اصل سره و صلت لری
لـــه بلـــه اصلـــه یـــې جـــدا یـــی دی

* * *

ونـــه پـــه ولـــــې تـــــا زه و لا ړه و ی
چه ویـــخ یې نه وی خوبی یې ولاړه وی

اوبه ، باد ، خاو ر ې ، ور لـــر ه بو یـــه
ویـــخ یې قایم شی چه دا څـــه وا ړه وی

ویل له با غـه شی لـه راغه څه وا یی
صفـت دګل شی اغز ی څوك څه ستایی
رانجه ز یب نه کـا په ږو ندو ستر ګو
که‌ناز کا ناز یـې په بدرنګ نه ښا یی

* * *

هاتی چـه و مری بو ی یـې پیـدا شی
په لاز ې تلو نی چه څو ك پرې را شـی
پو زه نیو لـې ځنـې تـپـر پـږ ی
خلا صی یـې نه وی یو ه بـلا شـی

* * *

هر چـه د تورو زلفـو مپر منـې د ی
په تـو رو ، ږ یرو بانـد ې مینـې د ی
دسپینو ږ یرو بـلا پـه دو یـو شـه
ولـې لـه وا ږ و پـه ز ږه غمجنې دی

* * *

هر څو ك په خپله وعده قضا و ژ نـی
ومر ی فنـا شی، نه‌یې بیا بیا و ژ نـی
څوڅو مر ګـو نـه را باندې زا غلـه
دیار ښپلتـو ن مـی تر مرګ پخوا وژ نی

* * *

هریو تر بله بهتر ،ځان خپـل ګنهی
نشتـه چه ځـا ن به کهتر تر بل ګنهـی
په خپل خپـل عقـل هرڅو ك غر ه وی
په هره چار کښې خپـل ځان‌عاقل ګنهی

* * *

هغه استـاد ګنه چه در تـه څـه ښیی
کشر هم مشر وی چه در تـه‌ښه ښیی

په سپینـه ږیر ه به یـې منـت لر م
کـه ووړ کی را شـی را ته څه وښیی

هغه چه تو ري دبری په وخت و هـی
هغه يـي وا ړه د بل په بخـنت و هـــی
سپا هيا ن د تـمـي د خپل مقصـودوی
دتنګسي تو ري څښتن دتخت و هـی

* * *

هغـه چه شر م د خا صو و عا مو د ی
که زو يـه و رو نـه دنپك فرجا مو دی
دمړ و پـه رنګ شه په مځکه ړنګ‌شه
چه بد نا م کړو نی د څـو نپکنا مـو دی

* * *

هغـه چه عهـد قو ل پيـما ن لـــری
پري مي سلا م د ی د ين وايما ن لری
څو ك چه ددين و ايما ن سا ما ن لری
ارمان يـي‌کوم دی چه به ارما ن لر ی

* * *

هغه چه قـو ل قـرار متيـــن لـر ی
دو لت ددين ددنيـا قـر يـن لـــــر ی
چه دا يـي نه وی نور څه يي مه‌کوره
که ښي ښي چاري ددنيا ددين لـــر ی

* * *

هغه چه کبـر خو د پـر ستـی لـر ی
خدای دي هو مر ه با لا پستـی لر ی
کا مل/بـه هيڅپر ي بـل رای دزړه‌نه‌کا
اشيـا د خدای پـه هستی هستی‌لری

* * *

هغه چه مخ لر ی خو ږ ي ورښي(۱)واخلی
په وښ‌چه سر شی بخري‌ښي‌ښي‌واخلی
هغه چه نه کر ی په و ږ يـو ګرځـــی
هغه چه وکر ی هغـه رشـي و ا خلـي

---

(۱) ورښه = حلوا .

هغه محبـو بـې وا ړه فـا يقـې د ی
چه‌په پاکـی ، په عفت شا يقـې د ی
څه شو کـه مچ په شکر و وګـر ځـی
شکـرې کلـــه د مـــچ لا يقـــې د ی
* * *
همت چه لو ی لر ی کـه ما ل يې کم وی
بنباد وی ،آزاد وی، شـاه عا لـم و ی
چه دو ن همت و ی خسیس ، ممسك وی
که‌مال يـې ډېر دی ،نصیب يې غم وی
* * *
همېش بـه هېڅو ك پـــه دنیا نه وی
په وار په وار بـه ورځنـې تلـــه و ی
مرغو نه راشـی په با غ کښې کښېـنې
بیا يـې دبا غـه نه الـو تـــه و ی
* * *
هند کـی چـه هېڅ دی ، په بهادرو می
خواری له خپله شا متـه مـو مـــی
يويې ، وفا نشتـه ، بل يې حیا نشته
بل يـې خوا ړه ځـی دخواست‌ترکومی
* * *
هنر پـه دو ه ور ځـې ښکار ه دکس‌شی
عیب يې ورو ، ورو ښکار ه‌پس،پس‌شی
يو شا ن مر غی نه شی د سړ ی له ځالې
ځینی با زو نه ،کار ګا ن‌ګرګس شـــی
* * *
هوښیار به چست و چا لاك بـېدار و ی
پـــه هر ه چار بـــه ز ر خبـر دار وی
ډېربـه عمـل لـری ، لـږ ې خبـر ې
په هر زما ن به يې نظـر په کار و ی

هوښیار به نه وی چــه احمق ته‌پندوایی
خو ښ ي خبر ي خرونو ته نــه ښا يــي
خوا ږه د خرو نــه د ی ، د آدم زاد دی
چه يي خو راك نه زده څه يي مزه‌ستايي

* * *

هوښیار به نه و ی چه نا دا ن ته پند وایی
خره تــه خبره دقنــد دخونــد وا یی
په هر هر ټو کــی کښــید ه نه کــږی
ولــي به هر چاتــه پند خر د مند وایی

* * *

هوښیار به هر چــږ ي په ز ړه ډارن‌وی
په جنګ‌چه ورشــی نوربــه تورزن و ی
نا دا ن بــه تورو ، و تــــه هو س کــا
چه تو ري وبرپښی نور به‌ریخن(۱)وی

* * *

هوښیار به هر چږ ي‌محتا ج دپند وی
پند به پــه ده باند ي بهترتر قند وی
نادان بــه هیچږ ي دپند پر وانه کــــا
پند به په ده باندي دحنظل خوندو ی

* * *

هوښیار به هر کلــه زمانه ســاز وی
په دا نــا یــی به يــي دکــار آغا ز و ی
نا دا ن به هیچږ ي په دا خبر نه وی
په هر یو کار به يــي بــي‌ځایــه رازو ی

* * *

هوښیار به هر کلــه فهم پــه د م لری
نظر به عیني په خپل قـــــد م لـــر ی
دم غنیــمت ګــنه په هیڅ مغرور مه شه
کــه دلګــیر کښښني اسمان څه غم‌لری

---

(۱) ریخ = نرم غوشایی .

هوښیار به هیچېر ې بې پنده نه و ی
کار او ګفتـــار به یې بې خونده نه وی
چه عقـــل نه لری بد نفس بې شـــرم و ی
فکریـــې هیچېرې بې شخو ند ەنه و ی

* * *

هوښیار به هیڅکله له ځانه خوش نەوی
په خپل دانش به فضو لسرکش‌نه وی
چه دېر ینـــه و ی چه تجر بـــې لر ی
په کار وبار به دهغوی اش (۱) نەوی

* * *

هوښیار غلیم به په خو لـــه جنګ غواړی
دېر به تر جنـــګه پـــه اشتـــی و یـــا ړی
عمر خو یو د ی چه پـــــه غـــم درو می
داهســـې عمـــر دې و با و نغـــــا ړ ی

* * *

یار به دیـــار پـــه یـــار ی و یـــا ړ ی
په هره چار به یې ښېګـــړ ه غـــوا ړ ی
که یار یـــې خاند ی دی به هم خاند ی
که یاریـــې ژا ړ ی دی به هم ژا ړ ی

* * *

یاری په مهـــر پـــــه محبـــت شـــــی
پکښـــې له پسه هنر حکمت شـــــی
چه نه یـــې دا و ی نـــه یـــې هـــغه و ی
اخر پـــــه دوا ړ ه لور یـــه زحمت شی

* * *

یا ښـــه ځوانا ن د ی یا ښـــه اسپان‌دی
چه ورتـــه ګران او مشکل اسان شی
دچا چه نه وی دا دوا ړه تو کـــــــــه
عیب یـــې مه کړ ه‌که هر اسان د ی

---

(۱) تعجب ، حیرانی .

یاغـی با زو نـه یو یو باز دار نیســـی
څـه چرګې نه د ی‌چه یې‌هر خوارنیسی

دهر ې چا رې اسـبا ب پیـدا کـړ ه
افسون د ې زده کا هغه چـه مار نیسی

* * *

یو چه مین شی دبـل پر ې رخه و ی
چه سره بېل شی باند ې یې سخه وی

ګل کـه نبنه نه وی بلبـل به څه کا وه

مینه پـه هر څـه د څـه لـه مخه و ی

* * *

یو څـه خار بن د ی چه هو یـدا شـی
په څو څو رنګه سره شیـدا شـــی

عیب تر شـا کا په لـېونتو ب کښی
ددوو پـــه منځ کښې در یم پیدا شی

* * *

یو دی چه هر کلـــه حلوا شـېر ینه‌خوری
بل دی چه تل تل او ګر ه جوینه‌خوری

په مرګ به دوا ډه سر ه یو رنګ مـر ی
دګور چینجی به یې غوښې‌په مینه خوری

* * *

یو مست د میو څو پیـما نـې لـــری
بل د جایفلـو یـو څو دا نـې لر ی

خبر پـه حا ل دمستـا نـو نـــه د ی
دخپلې چا ر ې سل افسا نـې لـر ی

(ې)

احمق در و ښيم کـه احمـق ګو ر ې
احمـق ږاند ه د ی په‌سترګو تو ر ې
تو رو تـه سپين وا يی سپين و تـه تور وايی
پـه غو ږو نـه او ر ی خبر ې نو ر ې

* * *

ادب چه نه وی په سپين پـه تورکښې
عز ت به نه وی په هغـه کور کښې
دو لت به درو مـی لـه هغه خلکـه
چه سره تل و ی په شرو شـو ر کښې

* * *

اور کـه بڅر ی وی ځنې به وېـر ه‌کړې
غليم که ځری(۱)وی ځنې‌به وېره کړ ې
نور نور رنـځو نه به وتا تـه څه وا يم
بنـدۍ که خر ې وې ځنې به وېره کـړ ې

* * *

اوښ مـې تيار د ی کـجاو ه بانـد ې
يارانمـې و لا ږل وا ږه دوږانـد ې
دا يم روا ن يم و رپسې د رو مـم
جر س فر ياد کا خـبر را کـا نـد ې

* * *

اې چه بـې مثل په کړ ه او و ږه يـې
ګل رنـګه رو غه د خدا ی په کړه يې
دا هسې و لـې د ز ږه په و ږه يې
پـه هيـچا نه يې خو په خپل‌زړه‌يې

---

(۱) ځری، دټوپك دشيش لګو لو كوچنی نښه جاسوس .

اې چــه پر ې و ما تــه ستــا يـــــى
کــه يار مې و وينې بــيا به ووا يــې
هرچا چــه وليد ه باند ې بلبل شـــــو
مخ دې کـــه ګل د ى ددلــر بــا يــې

* * *

اې چه پــه رو کښې ګزار ته ساز يــې
ستر ګــې دې لکې غو ږپه ا واز يـــې
غا رى غرځه د ى در با ندې در غـــى
په تخر ګ يــې و لــه که تير انداز يې

* * *

اى چــه خبر ې کړ ې خو ږې شمير ينې
ولــې دې وو تې په عمل کښې سپينې
ګفتار سور ګــل د ى دا نار دو نـــې
کردار انار دى کـــه ته يــې وينـــې

* * *

اى چه له مانــه علم مکتــب غــوا ړ ې
دود ، د عجم غواړې دود، دعرب غواړې
روغ يې که روغ نه يې راته ووايـــــه
له عا شق انوچه تــه مذهــب غـــوا ړ ى

* * *

اې چه يار ى کړ ې په څو څو غـــا ړې
په تلــه ور کړه(۱) په خروار غـــواړې
يار دې دخپلــه لا ســه پــه ګــور کړ
بيا يې په هاى ، هاى‌په ورځ، ورځ‌ژاړې

* * *

اې دچشما نو پـــه غمز ه الــما ســې
دا څــه هنر د ى لــه عا شــق ستــاسې
ترسر تر پا يـــه را تـــه ووا يـــــه
تــرې د ې و يستلى يم لا مې و با سې

---

(۱) دريمه قلمى نسخه کښې (ورکړې) دى.

با ران چه وشی په پتی باند ي
ها له تاز ه شی عمل(۱) پري کاندي
زړه مي پتی دی با را ن دی مهر
پر ي تاز ه کېږ م څو را ته خاند ي

* * *

باغ ونې و چې لر ی هم تر ي
هم يې کهتر ي شته هم يې مهتر ي
په سايه ګور ي په مېو ه پو ر ي
ته هغه و نې ګنه بهتر ي

* * *

باو رکه و کړ ي په جز او کل کښې
مردا ن به تل و ی په تو کل کښې
دا ډېر ي غا ړ ي نغمې صو تو نه
نشته په باز کښې ، دی په بلبل کښې

* * *

بد خواه دي خوار اوسه ، ته ور ته غټ اوسې
خپل نيت د ي زغره ته پکښې پټ اوسې
څو چه ښا دی دی څو چه غمو نه د ی
و دوا ړ و تو کوته په مخ په څټ اوسې

* * *

بزرګی په تانبا يی که ته ستار يې
ستار که نه يې کله بزرګوار ي
چه پري حا جت دمحتا ج پو ره نه شی
که مال د ي ډېردی کله مالدا ر يې

* * *

بلا بلا وايې بلا هم ته يې
خپل ښه هم ياد کړه که بلا نه يې
توره د ژ بې تو ر ه داوسپنې
څه غو څو ل کا خبر لا نه يې

---

(۱) په دوهمه قلمی نسخه کښې دعمل په ځای (خوبی) دی .

بلــه به نه وی پــه حــق شنا س کښــې
تل به په حمدوی تل په سپا س کښې
چه يــې جار با سی ، هورې جار و ځی
ز ړو نــه تسخير دی دخدای په لاس کښې

* * *

بــې قــد ره نـــه دی درا ز خبـــر ې
درا ز خبـــر ې دی مـــر غلـــر ې
ځای يــې دننــه د ز ړه صنــدو ق د ی
ور بــه يــې نه کړ ې همد م ته لبــر ې

* * *

پاکا ن بــه د رو مــی په پاکې لا ر ې
نا پاك به کاند ې نا پاکې چـــا ر ې

چه سترګــې نه لر ی و رتــه به څه ښيم
د هر هر با غ د ی مــيو ې تيـــا ر ې

* * *

پاکی چــه را شی په هغـــه کور کښــې
بــلا يــې وسپزی ز وره پــه او ر کښې

يوسف چه پا ك ؤ ځکــه باد شــا ه شــو
څــه شو کــه بند ؤ نا حق په تور کښې

* * *

پرين (۱) که ښــه د ی په کار و بار کښې
نه ډيــر فکرو نه ، زړغی (۲) په کار کښې

زړغی نامرد کا لــه کا ره پا تــې شــی
مرد تو ل اختيار وی په زيست روزګار کښې

---

(۱) پرين = بندوبس . سرشته ، انتظام .
(۲) زړغی = تردد ، هغه دغه ، بی زړه توب .په دريمه قلمی نسخــه کښی (زړغه) دی خو دواړه شکلونه يوه معنی لری، يعنی زړه وهنه او تردد.

پنـه پنـه شکر ې هســې شیر ینــې
پــه هر سپــې نغــر ې پــه مخ‌نسرینې
مین ستــا هســې پــه غــم کشی کښې
تلــې خــبر ې‌ستــا شکــر ینــې

* * *

پــه استخــفــا ف د بــاد شاه دولت بایلې
په استخفــا ف د مــلا جنت با یلــې
په استخفا ف د چهار یارا نــــــو
هــم مؤ دت با یلــې‌هم مروت با یلــې

* * *

په‌تن سپمینــه یــې په رنــګ رنګینه‌یې
په لب شرینــــه یــې په مومشکینه یې
زه دې مجنــو ن یم که ته لیــلا یــــې
زه دې فر هاد یــم که تــه شرینــه‌یې

* * *

په تن هډو نه ر ګــک و ریشــــه یــــې
په دا کــــه ګو رې یــوه پشــــه یــې
خوی د ددا نــو د لــپوا نو پر پږ ده
که تــــه سړ ی یــې په اندیشه یــــې

* * *

په جنګ کښې مټ ک ړه‌تربل دو ړاند ې
که و مړ ې و مړ ې رحمت در بــا ند ې
ژوند ی که پا تــې شو ې ځان دې‌عزیزکړ
نور پــه خبــــر ې در ځنــې کــانــد ې

* * *

په چا چــه نه پسنــد ې ګراني دشواري
په تا به نه درځی دشــوا ری چــا ر ې

پــه خدا ږو وا ړ ه جــزا سزا لــر ی
تر پښو که لاند ې کړې میږی په لاړې

په ځا ن خبر شــه چه چر تــه ځای‌لري
چه تخت نشين يې څه هوی وهای لــري
ځای دې په پور تــه تــر ملــکو ت د ی
چه نا سو تی شو ې خوی د ګــدا ی لري

* * *

په څو د ځان په ښه وه بيدار يـــې
وپښته دې کو ز شی هم پر ې ازار يــې
فکر دګور د خواريــو نـــه کـــر ې
بنــد بند بــه پرو ت و ې ولی قرار يې

* * *

په څو وای وای لر ې چـــه لږ بيمارشې
پروا د ې نه وی چه چا ق تيـــار شــی
هيڅ يې نا بود يې چه ښه مــې وليد ې
غفلــت خوار کړ ی که خبــر دا ر شــی

* * *

په خپل متصود پسې په څــه مجنو ن يې
په خپل مطلب پسې ږ وڅــه مفتو ن يې
په څو خوشحال‌شې چه په کام‌کامياب‌شې
دکا م په نه موند ل هر دم محزو ن‌يې

* * *

په دا دنيــا کښې ښې خو ږ ې مينــې
په در نګ تر خې شی که ته يې وينــې
نور څــه يې مه ګنه واړه مقــصود د ی
تر خو له که و باسې تر خــې شيرينې

* * *

په درسته و رځ چــه تلا تو ب (۱) کړ ې
ددنيا چا ري پــه څــه آشوب کــړ ې
خوشحاله پا څه دا سړ ی تو ب کړ ې؟
چه چرګ به وينې وی ته‌به‌لاخوب‌کړې

---

(۱) ناقراری ـ ناآرامی (ظفراللغات) .

په دوا ړو زلفو کـه عنبر بیزه یـــې
په دوا ړو شونډو و کـــه شکر ریزه یې
داڅـه لانور ي خو بې دي ډېرې د ی
بابا دي و مر ه بلا سر تیـزه یـــې

* * *

په رنګ پـــه حسن په څو نا در ه یـــې
بنېوه غمز ي لر ي څو جلو ه ګر ه یې
له خپلـه یار ه څـــو زو ره و ره یـې
خو چـــه پو خـلا شي بیا مړو ره یې

* * *

په رنګ په حسن تاز ه بلوڅـه یـــې
په تـن کښې سپینه تر تا زه پو څـه یې
ترسر تر پا یـه کمـی د ي نشتـــــه
پـــه ښو خبـر و څـه خبر لو څه یې

* * *

په رنګ په شکل ښا یسته میـور ي
پـه زړه سنګینـه نا تر سه کـو ر ي
یا را ن ډېر خوښ کړي بیایې ډېرخوارکړي
دا رو د ز ړ و نـو ، د ز ړو نو ځوری

* * *

په رنګ رنګینه یـې په مخ نسرینه یـې
په لب شیر ینـه یې په تن سیمینه یې
درسته ګـلزار یـې تر سر تر پا یـــه
عیب دي دا دی په ز ړه سنـګینه یـې

* * *

په رنـګ که حوره ده پرې ګرفتارمه شې
چـه خو ی یې بد وی د بندځې یارمه شې

خوشحال ته ګوزه چه یو څه یـار لـر ی
له بده خو یـه یـې ته خبر دارمه شې

په روم په شام شـــی دليلـــې خبـــر ې
په هند په سند شی دمجنو ن سند ري
عشق مـــې په مثل نا فـــه دمښك شو
چه بوی‌يې خور شو پـــه‌نـــژدې لـــر ې

* * *

په زړه مـــې هو مره نه دی انبـــا ر ې
چـــه يـــې قلم کا پـــه کاغـــذ نـــګاري
يـــا بيا نيـــږ ی زمـــا پـــه ژ بـــه
يا يـــې قا صد کا در تـــه تکـــرا ر ی

* * *

په زلفـــو کفـــر په مخ اســـلا م لـــرې
دستر ګـــو سحر په زړ و نـــوعام لرې
خيال به ته نه کړ ې خيال به نورځوك کا
چه نن څه ځان ګنهی هغه غـــلام لـــر ې

* * *

په غم دنورو و غـــم تـــه ساز مه شې
سپك و عا لـــم ته په خپل اواز مـــه شې
سړ ی په تمـــه دبـــل بنـــد ه شـــی
دعا بـــه دا کړ م اخته پـــه آز مه شې

* * *

په غرو نو مه ځـــه تر غرو نو پر ې مه وځې
تر غرونوپرې وځې تر زړو نوپری‌مه وځې
زړو نـــه څـــه واړه بـــر ابـــرنـــه دی
درو مـــه تر ز ړونودمړونوپرې‌مه وځې

* * *

په قد د سبر ترو نـــې بو کـــه يـــې
په رنـــګ په اصل په خو ی ملوکه يې
کمی دې نشته پـــه شش وپنج‌کښې(۱)
په چار پـــه هر څه د ز ړګی څو کـــه‌يې

---

(۱)په اوله قلمی نسخه کښی دغه بيت داسی دی :
کمی دې نشته دهرې چار ې ځکه دننه دزړګی څوکه يې

په کوه قاف کښې ، رهبر دورانـــد ي
که درو مې نه به وی سختی در باند ي
که بې رهبره په سم میـدا ن د رو مـې
څو څو بـلا شـی پـــه تا هرانـــد ي

* * *

په لاس چـه واخلی مر دا ر ي چـا ر ي
نو م شـــی د ښځـې د زنا کـــا ري
که نه يـــې مر ګ وی ، نه يې طلاق و ی
په مردیـــې بنـــد شـــی د جنـــت لا ر ي

* * *

په مار چه وارجوړ کړي، ګوزارپرې نه کړي
خپل زړه خووپوښته چه زړه داڅه کړي
که غو ل تو ب د ی کـــه ښا غل توبدی
خو دبه پـــه ز ړه کښې ننـــدار ه وکړ ي

* * *

تر ظل کښې مه نـــی د هغـــې و نـــې
چه يـــې نه ستړه نه پا ځـــې وينـــی (۱)
نه يوه و نه با غـــی پـــه غو لـــې
نـــه ډبـــر ي و نـــې پلو سې غـــنـــې

* * *

تر مشکو ښـــې د ی دو طن خاو ر ي
تو دي او بـــــه د ی دو طـــن وا و ر ي
ما چـــه دا هســـې و طن تـــه شا کـــړ ه
ز ړه کړ م کـــه نور چا؟ ګما ن په چاورې

* * *

تر غرو نو پ ر ي وځي تر زړو نو پرې مه وځي
دسرومزر يو په ډ کـــه کښې مه و ځـــې
چه څوك يې نه پسند ی هرچا ته بدو ی
په هغو هسی چا رو پسې مـــــه و ځـــې

---

(۱) دپښتو ټولنې په دريمه نسخه کښې (ونی) راغلی دی .

تږی چه سخت وی ساعت پرې باند ې
خو ږ ې او به و رشی سړ ې ورباند ې
وخت دا ها ړ وی تـه را تـه و وا یه
چه څو خو ښـی به حاصله کـاند ې

* * *

تعلیم دزاغ و زغـن که ډپر وکـړ ې
ښکار به پر ې کله د باز په څېرو کړ ې
دتر خی اوسپنـې تـو ره کړ ه ساز ه
غزا به کله پـه هغه شمشیر و کـړ ې

* * *

تل خا مو شی کړ ه چه تل بیـغم و ې
تمـه له چا مـه کړ ه چه بـې ترحم وې
خوښ په هنر او سه خو ښی په مال‌مه‌کړه
هسی کا رو نـه کړ ه چه بې ند م وې

* * *

تور غرو نه سپین کړې په سپینـې‌واور ې
په سبزه شنـې کړې دا تو رې خاو رې
رنګ رنګ ګـلو نه دچمن وا کـړ ې
باده ! دا تـه یې چه داڅـه را و ر ې

* * *

تورې زلفینـې پـه مخ شا ن شان لـرې
ور بل په وچ‌ولی پر یشان‌پریشان‌لری
دنورو کوډ و حا جـت هیـڅ نشتـه
دستر ګـو سحر جها ن جهـا ن لرې

* * *

تو رې زلفینـې لکـه سنبل لـر ې
خو بـې دحسن زیا تـه ترګـل لـرې
چه دسړ یو پـه ز ړو نـو ګر ځـې
ته هغه هـو مره ز یبا یـې ګـل لـر ې

ته چه باد شـــاه دسمن رو يو يـــې
غوره دلخوا هـــه د سنبل مو يو يـــــې
تر سر تر پا يـــــه ګـــل يـــــې سنبل يې
بد چه پـــــه نغو ته د څوبد خو يو يـــــې

* * *

ثابت پـــه ما کړ ه ګناه مهـــر و يـــــې
لالـــه عـــذا ر ې عنبر ين مـــــو يـــــې
له هغـــه پسه تو ره را وا خلـــــــــه
وينـــې زما کړه د ګـــرد ن تـــو يـــــې

* * *

جنت په څه کښې دی په خو شخو يې کښې
دوزخ په څه کښې دی په بد ګـــو يې کښې
چه نيت يـــې لو ی د ی هغـــه خدای لوی کا
کمـــی يـــې نه وی په دالو يې کښـــــې

* * *

جهـا ن کمر د ی څخلـــې تـــــه يـــــې
فعل دې بز غ دی بزغ کړو نی ته يـــې
لکه چه بزغ کـــړ ې هغـــه بـــه وا ور ې
راشـــــه خبر شـــه کـــه خبر نه يـــــې

* * *

چا ته چـــــه څا کنـــې په څاکښې پرپوځې
بـــلا چه غوا ړې په بلا بـــه کښې پو ځې
په څو به رو غ اوســـې دا فکر ښه وکړه
په پرانګ پرهار وکړې بيا ورپسې پو ځې

* * *

چرګا ن بې وخته بانګو نـــه کانـــد ې
بيا څه بـــلا د ی باند ې هړانـــد ې (۱)
زه يـــې بې وخته لـــه يار ه بېـــل کړ م
چا ړه يـــې سازه شه په ستونی باند ې

---

(۱)هړاند = لګيا او اخته .

چه اینـــې ته ښکار ه دیـــدار کـړ ې
اینـــه درسته ســـره ګلـــزار کـــړ ې
چه شوند ې کښیـــږ د ې دجا م په مورګو
او بـــه په جام کښې ر ب (۱) انارکړې
* * *
چه باد شا ها نو ، ته واخلی تـــو ر ې
ددو ی خبر ې شـــی په ملك مشهور ې
که بیا باو ر کا پـــه باد شا ها نـــــو
هغه به مـــیند ی په ځا ن کـــا بـــو ر ې
* * *
چه جنګیا لـــی لر ی ښځه په کور کښئې
دهغه کس وی ژو ندو ن پـــــه اور کښې
ښځـــه حلیمه ښـــه ده خو شخـــو یـــــه
بده به تل و ی په شرا و شو ر کښـــــې
* * *
چه چا ته ور کړ ې بیا یـــې پرې زبادکړې
خپل ور کړ ه واړه (۲)هسې بر بادکړې
که توره ما ته کړ ې په جنګ کښې هیڅ دی
کار دمړا نې چـــه چا تـــه یـــــاد کـــړ ې
* * *
چه څو ك دې ښه پو ښتی و رځنې ښه‌وایې
که دی بـــلا و ی و رته لیـــمه وا یـــــې
چه د ز ړه مهر دې و رځنې مات شـــی
که هر څوښه و ی و رتـــه ښه نه وایې

---

(۱) ــ دانارو عرق او لعاب .
(۲) په دریمه قلمی نسخه کښې داسی ده : خپل ورکړه‌هرګوره واړه بر باد کړ ې .

چه خیال مکیز کړ ي هو مره خو نرېزکړي
چه خپل عا شق سره خیال و مکېزکړي

رانجه چه پو ر ي کړ ي په برندو ستړګو
خنجـر د جنګ او دفتنـي تـېز کـړ ي

* * *

چه را ته غو تـه دو رو ځـو میان لر ی
په ز ړه د ي څه دی بیا کوم ګومان‌لري

ناحق دبـد و ګـوما ن ښـه نـه د ی
کافر ه نه یـي ته هم ایمـا ن لـر ي

* * *

چه را ښـکاره شـی ددنیـا چـار ي
فکر مي لا ړ شی پـه لا ر ي لا ر ي

فکر مي ستړ ی په بـېر ته را شـی
دوړانـد ي را شـی لا ر ي حـصا ر ي

* * *

چه را ښکاره شو ي یو څـه نګا ر ي
څه جـفا کار ي کـه پـر ی وا ر ي

څو مـي په تا باندي مینـه ز یا تـېر ی
ته راتـه غا ښ چیچي هسي خو نخواري

* * *

چه رو ، یو (۱) نه وی دز ړه د ژبـي
تل به نیو لـی و ی هغـه پـه تبـي

چه بد بو یـي لر ی ډېـر ه تلخی لـر ی
ځکه غـو څـېر ی سـر د تـر بـي

---

(۱) په دوهمه قلمی نسخه کښې چه (رویي نه‌وی) راغلی دی .

چه زر دي غم شی هسې زر دار مه شې
چه زر دي‌هېڅ نه‌وی‌هغه (۱)پیشکارمه شی
په دا لاس راشه په دا لاس درو مـــه
دلږ و ډېرو په حساب په شمار مه شې

* * *

چه زغلـو نـه دا سو نـو کـانـد ې
نـظر د ې کو ز لـر ی په مځکه باند ې
چه اس پـه لـــو ړ و ژو رو ځغلـــې
اس يـې پر پـو ځـی تر ځا ن د لاندې

* * *

چه سختې چار ې ،لر ې دو ړا ند ې
په څـه بـې غمه په قهقـه خـــانـد ې
هسې پـه ز ړه کښې فکرو نه کـړ ې
چه هو مر ه څو ك دی تر خا و رو لاندې

* * *

چه ښـه مـر دان‌دی د دیـن د لا ر ې
پـتې به نـه و ی ددو يـو چـار ې
او به چه نه و ی روا پـه شـر ع
هغـه اوبـه بـه ګـنـهـی مـر دا ر ې

* * *

چه عیب نه لر ی که هسې یار غـوا ړ ې
دا هسـې يا ر به پـه کو م دیارغواړې
بې عیبه یار به چېر ې بیا نه مـو مـې
که ګرځـې ،ګرځې جهان بسیار غواړی

* * *

چه قدر نه لر ی دبـاد شاه دمینـــې
تو يـې به نه کا په خد مت کښې و ینـې
هغه نو کر د ې ښا د يـه نـــه کـــا
هر څـه بـه با یلـی که ته يـې وینې

---

(۱)په اوله قلمی نسخه کښې (هسی نیستکارمه شې) دی .

چه کار پر ي پـېښ‌شی په‌جز په‌کل کښې
مردان به‌تل و ی په تـو کل کښې
په باغ کښې نور ، نور مر غی مېو ي‌خوری
بلبل نـــظرلر ی د با غ پـــــه ګل کښې

* * *

چه نه ځوانا ن لر ی نه زر نه شـو لي
هغه بـــه و لـــي زور ور بـــو لـــي
که دا يې وا ړه وی چه يې ځوانی نه و ی
ز ړه بو ډ ی بـه و چا تـه پسو لي

* * *

چه هو مر ه قهـر دګـو تو مر وړ کړ ي
په دا پـو هېږ م ز ړ ه به را سو ړ کړ ي
چه اوس دي نور(۱) په لاس نيو لی دی
بـي بخته نه يـي که دا کـبرزوړ کړی

* * *

چه ياد و لی شـی ګذ شتـه چا ر ي
فايد ه نشتـه ، شتـه څه خو ، باري
ګوند ي څو ك پند وا خلی ځا ی دحذردی
غلط نور نه درو مـی په غـلطـه لا ر ي

* * *

چه يـي له چا ګنې، لا ته و لـی نـه يې
کا مل د خدا ی په پېژاند ګلی نه يـــي
احوال يـي و ګـو ره په توا ريخ کښـي
خوشحا له صبـر کړه به تر علی نه‌يې

* * *

ځار تـر هـو نښيـار شـم د هو نښيارخبرې
درو غ رښتيـا يـي دی واړه شکر ي
دنا دانا نو رښتيـا څـه سود لـــر ی
چه يـي خبر ي د ی لـــه خيـر ه لرې

---

(۱) په دوهمه قلمی نسخه کښی (نوی) راغلی دی .

ځواني چـه و لاړ ه ور سـره لا ړ ي
ډيـري خو بـی کـه ژاړ ي ژا ړ ي
بيا به پـه بـېر ته ځواني را نه شـی
که يـي له پير ه لـه طبيبـه غـوا ړ ي

* * *

څو از مود ه نه شـی په کارو بار کښې
پـه صحبتـو نو په ملك په ښکار کښې

هو مره پـه زو يه پـه ورور با ور مه‌کړه
وراني به درو لی په لوی لو ی‌کار کښې

* * *

څو به په لو يـه غا ړه دو ه(۱) بـو لي
د غـر يبـی بـد لي بـو لـي

زه در پـو هيږ م ز ړه د ي زخمی دی
در غـيد لـو طـبيب در بـو لـي

* * *

څو به دي تل و ی دا اوړ ي(۲) پا وړ ي
چه دي په زړه وی په خوله يي راوړ ي

څـو يـي و نه خو ري کلـه به او ړ ي
چـه بـلا غـوا ړي پـه بـلا وا و ړ ي

* * *

څو بـه سو دو نه کو رته را وا نـي
څو بـه خوا نو نـه د خو ږ و خوا نې
څو بـه خو بو نـه د خـو بنبـی کا نې
اخر به پر پوځی دربا ند ي کـا نـي

---

(۱)په چاپی نسخو کښې (دده) راغلی دی .
(۲) چتې او خوشی چار ی .

څو څو ښاد ی د ی په دا افا ق کښې
واړه به بیا مومې په اتفا ق کښې
څو څو غمو نه یا محنتو نه د ی
یا په درو غ کښې دی یا په نفاق کښې

* * *

څو ډ کې خونې وې چه مړ کی لو ټ کړې
څو خلکې یې سره کو ټ کو ټ کړې
مړ ک یو تر یخ جا م دی در ته نیو لی
څوبه تړې خوله نیسی داجام به ګوټ کړی

* * *

څوك چه یاد ښ ی په نړ دې لرې
تر هر چا ښې د ی د یار خبر ې
ځینې خبر ې لکه مشکنې د ې
ځینې خبر ې د ی مر غلر ې

* * *

څه یې حیرانه سړ یه څه یې
خا ور ې یې باد یې اور یې او به یې
که یو د ې نه و ی په دا څلورکښې
نور د ژوند یو په شما ره نه یې

* * *

خیر په دا کښې د ی چه ډېر ما لدارنه یې
په غم د عشر دزکو ة ګرفتار نه یې
لکه د ې د خل دی هسې دې خرڅ د ی
محتا ج و چا ته په لږ بسیار نه یې

* * *

خپل بند و بست د ی د هر ې چا ر ې
پا کې مشکو کې شته ، اوبه مرداړې

پاکې اوبه بو یه زیست او روزګار لره
مر دا ر ې کله دی سزا وا ر ې

خپل د ې پردی کړ ل پر دی به خپل نه کړې
خصلت دې بد شو خصلت به بل نه کړې
غم دې په بخر ه شو بنبا دی به تـل نه کړې
چـه نا قابل یـې ځان به قابل نه کړې

* * *

خپل مال په ترس په صرفه په بیم خوړې
دبل غم نه کړ ې که درست که نیم خـو ړې
په کور دکونډ ې رنډ ې یتیـم خـو ړې
مـلا دا و لـې اور د جحـیم خـو ر ې

* * *

خدایه چـه پا ك دی نا پاك یې مه کړې
دنا پا کا نو سابو ن تو بـه کـړ ې
چه په مـخ رو نـی و ګور تـه د رو می
کر م د ې ډېر د ی ما هم هغـه کـړ ې

* * *

خلك چه غـوا ړی لـو ړ ې ژو ر ې
له مانـه مه غـوا ړه تـه دا خبـر ې
په پـټې سترګـې به نندا ر ې کـړ م
چه را تـه یو د ی نـژ دې هـم لرې

* * *

خواره سړ یـه خو هو مره بنـه یـې
چه رو غ په تن یې چه روغ په زړه یې
چه دوا ړ ه ډ وکـه در څـخه نـه و ی
په تخت که کښېنې وا یـه ترو(۱) څه یې

* * *

خوشاله بس کړه شان ، شان دې ډېر ووې
پېښو دې ډېر ووې اوښان دې ډېر ووې
سود دې سکوت دی مشغول په دم اوسه
ژبه خوند ی لر ه پریشا ن دې ډېر ووې

---

(۱) نو .

خوشحاله څو بـه غمو نـه نغـــر ي
غـم بـه د ي کلـه شی لـه دله لر ي
سترګي مـي و ختـي داسما ن ولور ته
کـه چېر ي وار را شـی ها لـه خبر ي

* * *

خوشحا له څو به فکر تـد بیر کـړ ي
غـم به دي ورك شی دا کار که ځیرکړي
چه نېکـي بـد ي در تـه ر سـېږ ی
کـه حوا لـه يـي ته په تقد یر کـړ ي

* * *

داحمقـا نـو بـي ځـا يـه چـا ر ي
څـه هو مر ه نه د ی چه ته يي شماري
ښېګړ ه داده چـه رنـګ يي مه ګـو ره
ور سره مـه ږ ده قـد م پـه لا ر ي

* * *

دا د داسمـا ن د ی دا د دمځکـي
چـه دا څو شپـي لر ی دنیا ته څـه ي
څو دي په پور ته اسما ن تـه بو تلل
بیا دي يـي خاو ر ي کړ ي کـې ری

* * *

دا دود ځنـډ ن (۱) دی په دا عا لم کښې
نادان بـي غمه د ی دا نا په غـم کښی
جهان یو با غ د ی نـو ي خبـري
ګل د ی غو ړیـږ ی په هر هر دم کښې

* * *

دا مخ چه تـه لر ي د بو ر ي لـو ر ي
مګر دا مخ لـر ی ښـي حوري هو ري
یوه بـه تـا غو ند ي ښا یسته نه وی
چـه اوربـده شـی دا هـوري دور ي

(۱) پخوانی ـ په دو همه قلمی نسخه کښې (څرګند) راغلـی دی . دی .

دبل په عيب په څو وپښته چوی
دځا ن په عيب نظر هيڅ نه کو ي
خپل سل ز نا ر ه در ته بنکاره نه دی
هندو خويو لر ی هغه يې هم شلو ي

* * *

دحسن نا م لر ي عا شق غلا م لري
باده په جام لر ي د ز ړه هرکام لري
خيال به ته نه کړ ي خيال به نورڅوك کا
چه د څو بې اسبا ب تما م لر ي

* * *

در ته به ووايم څو کړ ي پو ښتنې
که د با يلنې که د ځتنې
ځا ی د ي هم دا دی بل ځا ی د ي نه دی
که په منګو لې ور ي که په لمنې

* * *

درته به وايم که ته عا قل يې
نا حق په نورو چا رو خو شد ل يې
دولت که نه لري خپل دی پردی دی
که بخت دو لت لري دهرچا خپل يې

* * *

درته ربښتيا وا يم که مې بنه يار يې
څه خو ی خصلت لري څه نا قرار يې
کله مې يار يې کله اغيار يې
هم و فا دار يې هم جفا کار يې

* * *

درد چه په بل وی خبر پر ي نه و ی
چه دي په ځا ن شی له در د ه چوي

سود زيا ن د هر چا جدا جدا د ی
کله دبل په خورا ك مو ړ ته وي

در وپشی دا ده کـــه تل حـلا ل خو ري
که تل حلال‌خوري بيا دخپل مال خو ري
کښښني و عــدي کړي مخ دي خدای‌تورکړه
پر دی ما لو نه په داټيټا ل (۱) خور ي

* * *

در پـغه ســړ يــه ـ چه څـه بـلا يي
واړه د ځـان يــي نــه د بل چـا يــي
تا دخپل پــلا ر سره نېکی و نه کـــړ ه
مقصود دي خپل دی چـــه د بـا بـا يي

* * *

دزر کو ښکـار را خوره بـر ه دمـښ ي
دسړ و او بو يـم د تـو د ي غـښ ي
تنګ لنډ مــي مه کړه په دا څـو تو که
بــي نيازه خدا يــه کـه دعا می نغوښي

* * *

دشيخ شاب سر ه تـــل طر با نـــي
دلبر ي ښـــی د ی بــي اد بـــا نــي
هغــه بــه و لــي غم د پير ی کـــــا
چـه تل تر څنګ لـر ی شکر لبا ني

* * *

دګل تر پا ښيــو نا ز ك انــدا م لــر ي
شپر ين تر قند و د خو لي دشنام‌لري
خيال به ته نه کړ ي خيا ل به نور څوک‌کا
چه په خپل حسن د ما غ مــدا م لر ي

* * *

دمــخ په رنګ يــي تر ګل ښا غلـــي
دبا غ لا لـــه يــي را تــه را غـلــي
لالــه په خپله سينــه کښني دا غ لر ی
تــا د ه سينـــه د عــا شــق دا غلي

---

(۱) تيټال = مکرو فريب ـ چا پلو سی ،

دم واهه نه شی دا چه خدا یی کړ ي
څو ك فر عو نی کړ يڅوك موسا یی کړي
چــه دوا ړه تو که د ي یو رنګ پیدانه کړل
کبــر یا یــی کړ ي که دا نا یی کړي

* * *

دنیا چــه هسي وبلـــه بلــېږ د ي
څه چه تر ي اخلی و رباند ي رېږ دي
خبر لا نه یــي پـــه دا خبـــر ه
نا مرد ه وا و ره چــه کښېږ دي پرېږدي

* * *

دهر ســړ ي سر ه چــه اشنا یــي کړ ي
نه چــه به (۱)تمه تري روښنایی کړي

داشنــا یــی سـر ه غمــو نـــه د ی
ځــا ن به تر ي ژ غو ري که دانا یي کړي

* * *

دهن د ي میم د ی ز لفیــني دا م لر ي
ذ قن د ي سیم د ی سنر ګي بادام لري

خیال به ته نه کړ ي خیال به نورځوك کا
چه پـــه داد ور د حسن نـــا م لـــر ي

* * *

دهو ښیــارا نــو خــو ږ ي خبــر ي
قند د ي نبــا ت د ی شهد و شکــر ي

نا دا ن پــه مثل غــو ل خــوا ر ه خر دی
دخو ږو خونــد د ی و رځنــي لـــر ي

---

(۱) په اوله قلمی نسخه د (به) په ځای (په) دی .

ديار د جـور د غـشى پـــې و کـې
زما پـه ز ړه کښې پراته دى او کـې
ددر ، د سپيو سر ه يـې مـل شو م
تو يـې او نه و ې را تـه پـه ورو کـې

* * *

ديو ټ(۱) هوا ده نـــن په شا خزارکښې
زر کـې فر ياد کـا پـه مر غزار کښې
په غـــږ يې ذو ق کا ز ما با زو نـــه
پر خه و ريږ ى ګـر ځم په ښکارکښې

* * *

ډېره خـو شر نګه صا حب جما له يـې
تر سر ټ رپا يـه پر ى مـثا لـه يـې
عيب د ې دا دى د رد د ې ومه وينم
پـه مرد حرا مه پـه نا مرد حلاله يې

* * *

راغله پـه وخت دګلونـو کښىـــې
ما وه لـــه ميـو تـو به و کـښىـــې
وې يې چـه تا ده تو به و کښىـــې
بـا ده يـې بيا و ه پـه زور را څښلې

* * *

ربه و ما تـــه دو لت اقبال را کړ ې
په لو ن لو ن (۲) ددنيا ما ل را کړ ې

حرام کـــه شتـه د ى(۳) د کار دپار ه
چه مې تر ستو نې ځى هغه حلال راکړې

---

(۱) ديوځای نوم دى .
(۲) په اوله قلمى نسخه کښى (طور طور) راغلى دى .
(۳) په دوهمه او دريمه قلمى نسخوکښى (شبه) راغلى دى .

زرکی ! چـه هسې په قهـقه خا ند ې
همدا خنـدا د ې کـا دباز د وړانـد ې
هر څو ك چـه خاند ی ښا دی نه کا ند ې
غمونه و رشـی پـه هغـو بـا ند ې

* * *

زړه چـه روا ن شی پـه لا رې لا ر ې
فا یده یـې وا یه او ما تـه بـا ر ې
څو پسـې درو مـې انـدو ه به مو مې
تولی به نه کړ ې پر پشا نې چـا ر ې

* * *

زړه د ې مینـ و ی په تو رې سپینـې
خالـې دې نه وی لـه یـو ې مینـې
دا و وی ربنتیـا د ی عـا شقـا ن نه‌مری
مجنو ن ژو ند ی د ی که ته یې و ینې

* * *

زړه مـې دپر ښه شو چه ته مې یار شو ې
زه دې بلبل شو م ته مـې ګـلزار شوې
چه بـې و فاو ې حال مې دې و لـیده
زما پـه ز ړه کښې یو تـیر ه خارشوې

* * *

سا قـی با قـې د ی د رو ژ ې څو ورځې
زه پـه خندا یـم ژا ړې و ربـځـې
تحو یل د تلـې (۱) اختر یو ځا ی را غله
حاضر پـه میو شه په چـیر ته‌خوځې

* * *

سخ دې په کور د ی چه دا څو چا ر ې
لر ې پـه کور کښې ښې ښې نـګـا رې
ښه ښه ځا یو نـه ښه ښـه لـو نو نه
حما م پـه عطر و جا مـې بو یدا ر ې

---

(۱) دمیزان میاشت .

سړی چـه کښېنې تر سړې سیو ړې
غار مه پرې تـېر وی که ته یـې ګوړې
رضا یـې نه وی(۱) وپـا څـېدو تـه
که یـې لمبـه کـړې په لـمن پـو ړې

* * *

سړی څا زوی دی که ته یې وینـې
په تن په غـوښـې په هډ پـه وینـې

فرق لـه څارو ی لری په ګویا یې کښې
په رای پـه عقل په شنا خت پـه مینې

* * *

سړی څـه څیز دی ـه څه (۲) به کاندې
خا لـی تش نو م د ی اختیار پرې باندې

کـه باد شا ها ن د ی که لوی خانان دی
زور یـې هیڅ نه دی د قضا پـه وړاندې

* * *

سړی عز یـز ښـه په دا دنیا کښـې
که نه فا یـده یـې ده په زر فنـا کښې

چه و مر ی غـم نه وی غصه الم نه وی
نه یـې سیا لـی و ی دسیال په خوا کښې

* * *

شتـه ستا خبر ې پـنډ پنډ شکـر ې
پنډ پنډ شکر ې شتـه ستـا خبرې

پـه هر سـپی نغـر ې پـه څوشکر ې
په څو شکر ې پـه هر سپې نغـر ې

---

(۱) په دریمه قلمی نسخه کښی (نه شی) راغلی دی .
(۲) په دو همه قلمی نسخه کښې د (څه) په څای (بد) راغلی دی .

بنـځي بـه نـه شی د هیچـا یا ر ي
په خو له د ی یا ري پـه ز ړه اغیا ر ي
زهـر دننـه پـه انـد رو ن کښي
دپا سـه بنکلـي بنا یسته ما ر ي

* * *

بنځي مـي و لید ي دډري بي شماري
پا کـي نیـکز نـي بـد ي بـد کـار ي
چه نه کا نـه کاچه کا خو و کـا
دمـر د پـه غبږکي نا پا کـي چار ي

* * *

بنکلـی که ډپـر دی په کند هار کښي
یا پـه کشمیر کښي یا په فر خارکښي
لـکـه دا بنـکلـي د پیـښو ر د ی
هسـي به نه و ی په هیڅ دیـا رکښي

* * *

بنـه مخ چه ووینـي په زړه سخ سخ وایي
بد مخ چه وو ینـي په زړه چخ چخ وایي
که د خوشحا ل غونـد ي میـن په مخ شي
تل به مخ مخ وایـي تل به مخ مخ وایي

* * *

بنه یـي پسند لـی عقل تمیـز لـر ي
څو وایـي هو مره هنـر هـر څیز لر ي
موسی د خضر پـه پیرو ی ته
ددي خبـر ي خبـر کـه نیز لـر ي

* * *

بنـي چین چین څـنې پښتنـي جنـي
پـه شین شین ځـی ځینی شین څنی
نـن نغـتي نـه شی تشی پو بښتني
تشي پو بښتني فتني شـی څنـي (۱)

---

(۱) په دی ربا عی کښي دتجنیس صنعت څخه کار اخیستل شوی دی.

بنبـــې دی تر منبکـــو دو طـــن خاو ر ې
تـــــو دې اوبـــه دی دوطـــن وا ور ې

زړه تا خـــسړ ی د لو ی دریاب کړ م
لا بـــه په کو مو مو جو نو ما و ړې

* * *

بنبې بنبې څېر ې شتـــه په دا جهـا ن کښې
کمی یې نشته پـــه هـــر مـــکان کښـــې

که هر څـــو بنبکلـــې مخو نه تـــل ګو رم
بیابه تر ې و لا ړ شم په ډېر ارمان کښې

* * *

عاشقـــه خاند ه نـــن څو چه خـــانـــد ې
بنبـــه مخ ت ر تا شـــو لاند ې ته باند ې

طا لـــع که هر کلـــه هسې مد د کـــــا
تل تل به هسې تر ما شی لا نـــــد ې

* * *

عزت په دا کښې چه هیڅ درو غ نه کړې
دچا له غوړ ه، خوا نـــه آرو غ نه کړ ې

که زړه دیار سا تـــې دیار په رای درومه
خپل زړه چه بد نه کړې بل زړه به روغ نه کړې

* * *

فـــانـــی دی واړه دا نـــوړې مینـــــې
یـــو ه با قـــی ده کـــه تـــه یـــې و ینې

خبـــــر که نه شو ې په با قی مینـــــه
ژا ړ ه که ژاړ ې په او بنکې وینـــــې

* * *

فرزند چـــه عا ق وی کـــه ته یې وینـــې
بد ې او بـــــه د ی مر دا ر ې و ینـــــې

مینې د پاکو پا کـــان پیـــد ا کـــــا
نا پـــا ك پیـــدا کا نا پا کـــې مینـــــې

قافلـــې و لا ړې تر ما د و ړا نـــد ې
زه ګو ډ (۱) بار ګیر یم کتـــه زاباند ې
ور پسې درو مـــم سر ه ښـــو ړیـــز م
پر پو ځـــم خار ښکی (۲) بازی‌راکاندې

* * *

قرآن چه لوست شـــی په هغه کور کښې
غـــم به یې نه و ی په سپین پـــــه تورکښې
که یـــې ګناه و ی هسی بـــه سو ځـــی
لکـــه خز له سو ځـــی پـــــه او ر کښې

* * *

کاتـــه دستـــر ګـــو د خو لـــې خبـــر ې
وچـــېر تـــــه تلنـــــه نـــژ دې یا لرې

دا چار ې وا ړ ه پـــه لاس د ز ړ ه‌دی
بادشاه یـــې ز ړه دی و جـــــو د لـــښکرې

* * *

کال د غـــفـــج (۳) ؤ خیبـــر کـــې هو ړې
مغـــل بنـــدی وو ، هم کونده ې بو ړی

مو منـــد شینـــوا ر ی خـــو اپړ یدی وو
واړو و هلـــې د یا دو (٤) تـــــو ر ې

* * *

کدو چه هسی پـــــه منـــډه دا نـــکې
پا سه دې و لا ړ ې په بهـــار خا نکی

دا کار دې بـــد نه د ی بـــلا دې دا شوه
په سا ړه و چ شی په کښتـــه زانګـــی

---

(۱) په دو همه قلمی نسخه کښی (کند) زاغلی دی .
(۲) یوه مرغی ده .
(۳) ۱۰۸۳ .
(٤) په دوهمه قلمی نسخه کښی د (یادو) په ځای (باور) دی .

کمی هیڅ نه ؤ په ذ والفقار کښې
درو م د جیش په کارو زار کښې
چه تیغ بر ش کا فتنې جنبش کا
ویل هیڅ نه شی په هسې کار کښې

* * *

کناس (۱) که وا غوند ی و ریښمنې رنجې
بل څه به نه شی په تنجی پنجې
که یې د منبکو په نا فه کښې واچوی
خپل بو ی نښکا ره کا په هرڅای هنجې

* * *

که بدو یو نی بد لمسوو نی یې
په ځا ن په خپله اور لګو ونی یې
که نیت دې رو غ دی اندوه هیڅ مه کړه
جهان که غم شی ته نښا دی کړو نی یې

* * *

که بد یې نښه به شې په نښه خصلت کښې
که کم یې لو ی به شې په لوی همت کښې
وفا له هر چا کړ ه جفا له هر چا و ړه
دین او دنیا غواړ ه په نښه صحبت کښې

* * *

که په راستی د ز رو تله شی
ته به په قد ر په قیمت تر تله شې
خو بې د ې هو مر ه ده په خوله کښې ژبه
څو له درو غو هو مر ه سا تله شې

* * *

که په یجو ز لا یجو ز پسې ښو ځې
وا ړه کو هې د ی په کښې به پر ښوځې
راشه په دین دقلندۍ را نو شه
چه بې و سو سۀ په هرڅه کښې ښو ځې

---

(۱) جارو کش :

که تل تل نو مړ ي په خو له شکر ي
خوند به در نه کا پـــه دا خبر ي
مزه به ها لـــه د شکر و بيـا مو مي
چه خو له پر ي وو هي چه ويـي نغري

* * *

که ته په قـدر د ځـان خبـر يـي
ته سر تـر پا يه وا ړه ســر ه زر يـي
زر دي پخپلـــه تر مس بتـــر کـړ ه
چـه نا سو تـــی يي (۱) په بدوسر يي

* * *

که ځا ن دي و پيـژاند ه ها له سړی يي
کـنه و ما تـــــه د خـــر ه څړ ی(۲)يي

او ل هم هيڅ و ي بيا به هـم هيڅ شي
چه دو غ و ی ما ت شی هغه ګړی يي

* * *

که ځای دا من خورا ك پو شا ك لـــر ي
شکر و کا ږ ه نو رڅـه بلغاك(۳)لري

مت په طا عت کړه خلو ت ګز ين او ســـه
خـضر دو خت يـي که نفس هلاكلري

* * *

که څو ك دي وښکنځـی غير ت پيدا نه‌کړي
دده و سر تـــه تو ر ه تر ملا نه‌کړي

نه حميت لـر ي نه شر م نتـګ لـر ي
مردی دي نشته غير ت په دا نـه کړ ي

---

(۱) په اوله قلمی نسخه کښی د(يي) په ځای (شوی) دی .
(۲) څړی = دغوا او خره ځل (ظفر اللغات) .
(۳)شور = زور .

که څوك دي و ليـد په استکبـار (۱) کښې
په قو ل فعـل په کا رو بـا ر کښې
په لار کـه در شی سـلا م يې مه له
پا تـې چه پل ږ دي دده په لار کښې

* * *

که خپـسر خوار کړ ي تر تو ري خاو ري
په هر چا سو ړ شی تر سړ ي وا ړ ي
جفـا د خلکـو په مخ پـه شا و ړ ي
رنګ رنګ ګـلا ونه به له تنه راو ري

* * *

که خو لـه مـې پـته پر پږ د ي هيڅ نه يې
که بلد د ي بنـد شی وا يه چه څه يـې
په هره سا هـه شکـر و کـا ږ ه
چه تند رستـی لر ي هم هو مره بنه يې

* * *

که دغند نې يـې کـه د صفـت يـې
کمی دي نشته هسې صو ر ت يـې
غنـد نـه هو مر ه چـه ددو زخ يـې
صفت د ي هسی چـه د جنـت يـې

* * *

که د مر دا نو پـه د ين ايين يـې
نه بنـد په سره يـې نه بند په سپين يې
که نه دي تخـت شته نه دي افسر شته
قيصر د رو م يـې فغفور د چيـن يې

* * *

که ډير نمو نـځو نه رو ژ ه تل تل لر ي
هغه به مو مـې قسمت چه خپل لر ي
که دو ز خـې يـې دو زخ به مو مـې
که جنتـې يـې څـه غـم دد ل لر ي

---

(۱) کبر ، غرور .

که ډېر وا لا شـــي په پار سا يـــی کښې
سيا ل دي څو ك نه و ی په ملا يی کښی
غافل هيڅ مه شه دنفـــس له مکـــر ه
بـــلا پر پو ځی پـــه آشنا يـــی کښې

* * *

که ډېـــر هو ښيار يـــي يـــا مې نی يـــي
په خو شخـــو يی کښې شکر ګـــنی يي
مدار پـــه بخـــت دی چه بخت مدد نه کا
هـــم هيڅکـــا ر ه يـــي هم لـــپو نی يي

* * *

که ريـــګ ماهی خور ي که مړه پاره‌خوري
ځوانی چـــه و لا ړ ه دا اوار ه خوري
ځوانی چـــه و لاړه هوښيار هيـــڅ نه يـــي
غم دځوانـــی چـــه دو باره خـــو ر ي

* * * *

که زر هنـــر ه پـــه هروپښتـــه لـــر ي
بيا به په کار کښې تو کل تـــه لـــر ي
خوشحا له ! يو نشته چه زړه پر ي‌ښه‌کړي
نـــن و رځ که ځـــو يه نمسی‌شپېته‌لري

* * *

که زور ډيل لر ي ز ړه دغميغم (۱) لري
له تا چه غـــم لر ی ځني به غم لـــر ي
عـــلا ج يـــي و کړ ه لـــه پسه خو ب‌کړه
په خپلـــه خو نه کښې‌چه ما ر لړ م‌لري

* * *

که زه دي ژاړ م چه ته مـــي نه ژا ړ ي
که زه‌دي غـــوا ړ م چه ته مي‌نه‌غواړي
کوښښ بـــه وا ړ ه زما بر بـــاد شـــی
ما بـــه د غـــم پـــه مز ر يو و دا ړ ي

---

(۱) زمری .

کـــه سره ټـو لـــې کړې د کلی چر ګـــې
نه وا ړه چرګـــې نه دبـــاز ستـــر ګې
نه دو ه سو ه ښکلـــې جو نه بنـې با کـــې
نـــه يو ه ښکلـــې د پا کـــې پر ګې

* * *

که لال و در دی د خـــو شحا ل خبر ې
چه ته يـــې نه مـــنې له تا د ی لـــر ې
بخـــر ې د هـــر چـــا جـــدا جـــدا د ی
کار ګا ن ګند ګی خورې تو تیان شکرې

* * *

که مړ نې يـــې مغفر (۱) شکا ف يـــې
دباد شا هـــا نـــو د لو ی مصا ف يـــې
تـــر دا دوا ړ ه بهتـــر دا کـــار د ی
په عهد قو ل کـــه سينـــه صا ف يـــې

* * * *

که نا سپا س يـــې ناس يـــې نسناس يې
ناس يـــې نسناس يې که ناسپاس يـــې
که حـــق شنا س يـــې ها لـــه ته ناس يې
ها لـــه ته نا س يې که حق شناس يې

* * *

که هر څو کاند ې څه کمـــې زيا تـــې
ميخو ری پښـــې کا د ځينو مـــا تـــې
که يـــې خلل پـــه ايما ن کښـــې نه وی
مومن به نه شی په دو زخ کښی پا تې

* * * *

که يار زما يې سکه درد اشا م به شې
که صاف صوفی يې په خپل فرجام(۲) به شې
زه او س قلا ش يم رند يم او باش يـــم
را سره مه کښينه ګـــنه بد نام به شې

---

(۱) خول (۲) فرجام = انجام ـ پښکره ـ خوښی . (ظفر اللغات) .

كه يې تر سپينـــو تـــر سرو كړې لاندې
دا وا ړ ه هيڅ دى په بد رنګـــه باند ې
كه يـــې د پو ز ې لو نـــګ هم نـــه و ى
ښه مـــخ بـــې پسو لـــه زيبا يې كاند ې

* * *

كه يـــې و فا در لـــې ښـــې د ى دلبر ې
ولـــې هيڅ نـــــه د ې لا پـــــه داخبرې
دتورو زلفـــو د مهـــر بو ى نشتـــــه
كه په نمـــو د د ى لكـــه عنـــــبر ې

* * *

ګرا ن تر ايما ن دى كـــه تـــه يې و ينې
كـــــا ر د ښـــې مينـــې ځـــګر كا و ينې
سل كبـــير ه كړى ايما ن پـــــه ځاى وى
په صغـــير ه ځـــې دا ښې ښـــې مينـــــې

* * *

ګـــل دګـــلا بو شو ې چه رنګ و بوى لرې
شيـــدا بلبله پـــه هر هرسوى(١)لرې
دريـــغه داكار دې پـــــه ذا ت كښې نه واى
وفـــا دې نشته دا خوى بد خوى لرې

* * *

ګلزار تـــــه را غله ختـــې ګـــلګو نـــې
دمخ شغلـــې يـــې تر لـــمر افزو نـــې
پرخه پر ې نه وه پر تـــه له شر مـــــه
تر هر هر ګـــل شو ې خو لې بيـــرو نې

* * *

ګل شوې د خو ړې د بـــن پلو ســـــې
خوشحا له و لـــې بـــې ګشته اوســـې
ګشت د ګـــلو نو ښكـــا ر د با زو نـــوكړه
چه كور ته د ې پـــر ې خـــو ښې يو سې

---

(١) په دريمه قلمى نسخه كښې (موى)، راغلى دى .

ګل يـې په شو نـډ و په مخ منـګلـې
ستر ګـې دې بـاز دی با ډـه منـګلې
که يو لـك ښکلـې و بلـــه ټو لـــې شی
يو لـك من ته يـې نو ري من (۱) کلې

* * *

لعل لـــه کا نـه په بد خشا ن کښې
لؤ لؤ لـــه بحر ه په لو ی عمان کښې
پـه ځيګر خو ن خيـژ ې دا دوا ړ ه تو که
که فکرو کا سـړ ی پـــه ځا ن کښې

* * *

لکه په تا کښې شتـه نشتـه په چاکښې
نه په کا نو نو ، نه په در يـــا کښـې

در پـغه خوشحا لـــه خـټکه د ر پغـه
چه تل به نه و ې پـه دا دنيـــاکښې

* * *

لؤلؤ دې غـا ښ دی يا قو ت دې شوندې
دډبروخـو نـې در پسې ډونـدې (۲)

چه تا څو ك و ويني په تـا مين نـــه شی
پـه ز ړه دا نـه دی ياسختې پوندې

* * *

له خپله يار ه چـــه بد ګـو يی کـــړې
داغيـا رانو چـــه د ل جو يـې کړې
حـق شتـــه انصا ف شته عذاب، ثواب شته
ولـې دا هسـې نا پير زو يـی کـړ ې

---

(۱) يعني ته يوازې يو لك من يې او هغوی کلې (ټولې) من دی (کامل) .
(۲) ميراث – وران (ظفر اللغات).

له تا چـه وبـره کا ځنـي به و يره کړي
يا به يـي وبره له زړه بد ره کـړي
که يـي دو پر ي عـلا ج درو نه شی
مـيت کړه چـه زر يـي مهم ترسره کړي

* * *

له دي دنيا نـــه بـه اخر سفر وکړ ي
پا تـي به نه شي که ډير هنر وکړ ي
عمل دنـيکو دوړانـد ي وا ستـــو ه
ښه نا م د لي پر پر ده که هومره چرو کړي

* * *

له لا ر ي مه غړ پر ه خو ځـه په لار ي
که پر پـوځي پا خه خو ځـه په لار ي
بـي لا ر ي وا ړ ه غـو لا ن ددا ن د ی
غو لا ن ددا ن نشته خوځه پـه لاري

* * *

مرد ی دي هيڅ ده که پـه ز ړه شپر نه يي
خه خو ، خو وشه که زړو ر ډير نه يي
ترسر چه تـير شـي و پـر ه هيڅ نه وی
وبر ه د ي هـو مره ده چه ترسر تير نه يي

* * *

مرد يـي که هيـچير ي وبـر ه له چا نه کړي
تـمه له چا نه کړ ي غـم ددنيا نه کړي
که لوی منصب لر ي خاص دباد شاه يي
له ميره پيـر ه به خوف ورجانه کړي

* * *

مـلا هر کو ره په ځا ن مغرور يـــي
بحـث جدل کړ ي په هرچا سور يـي
زه دي دننـه پـــه حا ل خبـر يـــم
زما پـه پو هـه يو تش تنبـور يـي

منت د چامـه و ږه د يو ي تـو ر ي(۱)
شوندې ي کښې مه ږ ده په غو ږ ي سپورې
نور څو ك لا پر پـږ ده که زويه ورور وی
اور کړه ددو يـو په خپلـو ی پـو ري

* * *

مېلـمه په تاو را غـی پـه لاس کښې تيږې
اول يې غوښت(۲) غوښتل اوس سپينې وريجې
دا هم لا پـ ږږ ده واس تـه ګـو ره
کو ری غوړی غوا ړي وربشی ويږې

* * *

ناز به دې زه و ږمه چـه يار زما يـې
چه بد د ې نښـه ګـنم څو را تـه وايې
غـمه هيڅ مـه درو مـه ز ما لـه ځانه
چه تـه زما سره ځنـډ ن اشنـا يـې

* * *

ناست پـه ګلزار کښې يار په کنار کښې
با ده ګر دانه مطر ب پـه کار کښې
داحال چـه زه لر م په خپـل د يـارکښې
بادشاه يـې نه لری په هندو بارکښې

* * *

نافـې دمښکـو دی ددا نـا خبـر ې
څو يـې پرانيـځـې نګهت يې نغـر ې
دنـا دا نـا نو خبـر ې هـو ږې د ی
دمښکـو بو ی شـی پـه هوږ ولږې

---

(۱) ديوی توري پيسی .
(۲) ګال .

نامرد بـه ګرځـی دپـلا ر پـه نا م پسې
ځوانمرد بـه ګرځی په خپل صمصام پسې

دولت مخ څټ لری څټ يې په نورو وې
مخ ددو لت دی په نيك فرجام پســې

* * *

نو(۱) مې پرې نه يښ فراق په کام کښې
ستړ ې مرغه يم نښتـی په دا م کښـې

دخوښی جام مـې هسې نسکور شـــو
چه څاڅکی پاتې ، نه شو په جام کښې

* * *

نه ور بشينـه د خپلـــې خـو نـــې
نه چـه غنمينه د بلـــې خـــو نـــې

ځينـو بـې ځـا يـه خو نې تا لا کـړ ې
پـه ځـا ی مر دا نو خور ولې خو نې

* * *

نيستی هستی ده کـــه ته پـو هـيږې
لو يې پستـې ده کـه ته پـو هـيږې

بده تر هر څـه پـــه دا جهـــا ن کښې
خود پر ستـې د ه کـه تـــه پوهيږې

* * *

واړه فـا نـې د ی ددنيـــا چـــا ر ې
په هيچـا تل نه و ی سر ه قـــــرارې

چه زړه يې و تا ړه با ند ې يك لخـتـه
دهغـو سړ يو د ی بخـر ې خوارې

---

(۱) تری ــ لوند والی .

وايـــې صو فی شـــه صو فی دې ته شې
درو مه نا اهله شپږ (۱) سوه‌شپېته شې
که یار ساقی و ی عمـــر باقـــی و ی
لا بـــه د میـــو ښیښـــې کړ م تـــشې

* * *

وخت د بهار د ی خو شحا له خه کړ ې
ولـــې ګلګشت د ګلو نو نـــه کړ ې
ستر ګـــې مې تنـــې شو ې ګل ته په څه‌ګورم
پیر ی چا ر ې را با نـــد ې و کـــړې

* * *

وزی چه نخن مو مـــې شکر دې کاند ې
غو ږی که نه مومی پا سه ور باتـــه ې

ستړ ی دې شکر کـــا کـــه اس یې نه وی
پـــه لار کـــه خر و ینی تر څاندلانده

* * *

وفـــا بـــه هیڅېر ې لـــه کمـــنا ته نه مو مې
کـــه همه عمر پـــه زړه دده د رو مـــې

ټپوس به باز نـــه شـــی زا غ به توتی‌نه شی
په تـــر بیـــت یـــې که بو علـــی مو مې

* * *

هســـې بل هـــم ګـــنه لکـــه چه ته یې
هر څو ك به ښـــه ګڼې په څان‌که ښه یې
که ته مو من یـــې هر څو ك مو من ګـــنې
هر څوك کـــا فر ګنې که کا فر تـــه یـــې

---

(۱) شپږ سوه شپېته دابجد په حساب (خس) کیږی .

هغه مفلس يې که څه غنالر ي
که څهغنا لر ی و لی غنا (۱) لر ي
که حق د چا ر ي يا داشنا ليږ ي
ور ځنې و لې ځا ن نا اشنا لر ي

* * *

هوا هو س کړ ي په قهقه خاند ي
بې غمه خو ب کړ ي پا لنګ درلاندي
نبه ميارك شه بنادی در پا ند ي
غمو نه نه لر ي دګو ر د وړاند ي

* * *

هوښيار ته ګو ل شه که ډير پو هيږ ي
څو خا مو شی کړ ي نه به ستو هيږي
منګی چه ډك و ی کله اوا ز کا
څه نبه د ليل د ی که پر ي ګرو هيږي

* * *

هوښيار چه وا ور ي دپند خبر ي
ور باند ي لګي لکه شک ر ي
نادا ن د خرو نو په شمار حساب دی
دپند شکر ي په خرو نو نغر ي

* * *

هو مر ه بد لې هو مره سند ر ي
تما مي نه شو ي د عشق خبر ي
فهم مي و کړ دعشق په کار کښې
لر ي نږ دي د ی نږ دي د ی لږ ي

* * *

هو مر ه بلا د ی و تا ته پند ي
چه شمار يې نشته پتې بر مند ي
ګوره په کو مه بلا به سر شي
چه په کښې ګرځي په مند ي مند ي

---

(۱) رنځ ـ مشقت .

هو مره ثوا ب د ی څو مفسد ا ن وژني
څو مفسدا ن و ژنې ګنه ددا ن و ژني
وبا ل يې وا ړه ز ما پې غا ړ ه
فتوا د عدل ده څو چه بدان وژ نې

* * *

يو مو تی خا و ري و ی هو مره دماغورکړي
ننه په ز ړ ه کښې عقل څراغورکړي
دملك دبند و د بست خبر ي
فکر د کښت و دکر دبا غ و ر کړ ي

(ی)

پا سې يا کو ز ي داکار سا ز ی
په څو څو رنګه د لنواز ی
اسما ن ته ګو ر ه مځکې ته ګوره
دا چا ر ي نه د ی لو بي با ز ی

* * *

په کار هيڅ نه دی خا لی مستی
څو لا پې ز ړه لر ي د غم هستی
هستی تما مه په مستی کښې وبازه
له ما نه ز ده کړه مې پر ستی

* * *

جهان در ست ډ ك شو دناحقی
لکه پيمد لي(۱) اوبی په مې
چه ځای پري نه نيسی بنو ری بنويزی
د سر دانه يې خوشحا له ته يې

* * *

چه تل يې مټ و ی په خوږ کا می
اندوه يې نه و ی د بد نا می
درست نا سپا س و ی حق نا شنا س وی
هر څه به با يلی په دا خلمی

---

(۱) پيمدل ـ په مزی کښی پيل .

چه خوند ، دې را غی داشنـــا یـی
ګرا ن یـې دستر ګو تر روښنایی
دعا به دا کړ م پـــه پنځه و ختـــه
چه درد د دې نه و ی د جـدا یـــی
* * *
چه دم یـې نـــه زده دار ښکـی (۱)
داژ دها نیسی لـو یـــه لکـــی
نادا ن دی پـر پـز ده ور باند ې مه مړه
دنـصیحـت د سا بـو ن چـکـی
* * *
چـه را پـه یاد شـی دنفـس بد ی
لا یـې تر اوسه د غـــم غـــد ی
ځوانی لا پـر پز ده پـه سپینه زیر ه
فریاد فر یاد د ی هـو مر ه بـدی
* * *
چه را ښکاره شو ه یـو ه سړ ی (۲)
زړه مـې پرې بایلـو هغـه ګـړ ی
دز ړه ښنـد نـــه اسا نه ، نـه ده
بې ځایه ځوك ښندی یوه دمړی (۳)
* * *
چـه غم یـې نـه‌وی دبد نا مـــــی
واړه یـې مخوی په خود کا مـی
دارنګ سړ ی که دې زوی وروروی
ځنې وېزار شیء پـــه دا خا مـی

---

(۱) یوقسم اورد چینجی دی چه دمار په شان ښکاری .(ظفر اللغات)
(۲) سړی دسړی مؤنث یعنی ښځه .
(۳) دمړی = دپیسې څلورمه حصه .

چه غـم يـې نه و ی دنـيکنا مـــی
واړه يې مـخ وی په خود کا مـی

نه به يـې دين و ی مه تړې وفا غوا ړ ه(۱)
هر څه يې هيڅ وی په دا خا مـی

* * *

څو ك دې غـم نه کا دنـا مراد ی
نه به تـل غم و ی نه تـل ښاد ی

دفلك عد ل انصا ف ښکـا ره د ی
کـــار يـې دظلـــم د بيـدا د ی

* * *

دچا چه نـه و ی دور انـد پښـی
مه يـې يا ر ې وينـې‌مه يې خوښی

دهغـې ونـې ګـلو نه مه و ينـې
چه يې اغز ی و ی ددلـر پښـی

* * *

در ښغه په باد و لا ړ ې څه‌شوې‌ځوانی
يو ه شپه خوب ؤ ستا کا مرا نی

وښښ شو م بيدار شو م په پيری واوښتم
نه ږ غ د تو ر ې شتـه نه دخا نی

* * *

در يـغه ځوانـی ستا کا مرانـی
غږ مـې د تـو رو غـږ د خـا نـی

زوړ شو م ناتوان شوم خيال مې‌دتورې
که بيړته را شې ز مـــا ځوانی

---

(۱) په اوله قلمی نسخه کښې د (وفا) په ځای دنيا راغلی دی .

راشه که ګو ري دا خو ئـــړ ی (۱)
ســر بـــې و ړ ی په ســردړ ی

تل تــل سرو نــه دعا شقا نـــو
و حلــق تــه اچــو ي لکـــه مـــړ ی

* * *

رند يــم څــر ګند ي د ی ز ما بــدی
چـــه را ته يو د ی خپلې پرد ی

پــېغور زما مه کړه شېخه خپل زړه ګوره
چه پکښـــې پند ې دی دعشق غدی

* * *

که ډېر دو لـــت لر ي ډېــر ي مستی
دا وا ړ ه هــېڅ دی بې تنـــد رستـــی

که پر ي پــو هېږ ي څو تند رستی ده
چه حلا و ت لر ی ستـــا د هستی

* * *

که يــې له حا له خوشحا ل پو ښتـــی
ښځـــې همـــه دی کــږ ي پښتـــی

کږ ي پښتـــی بـــه در سمـــې نه شی
که په هنـــر کښې نا مـــی پوښتی

* * *

لکـــه پـــر ی يـــو ه ســـړ ی
په مخ مـــهو شـــه عنبـــر څـــړ ی
هـــار يـــې پـــه غا ړ ه د سرو ګـــلو نو
بخت کړه له ما سره غـــا ړه غړی

---

(۱) له خونړی نه مطلب دغه دنیا ده .

نن په نظـر را غلـه يو ه تـر ی (۱)
زنـــه يـــې سېب وه شونډې نری

بله به نـه وی هســـې د لبـــر ه
نه په خشکی نـه پـه تـر ی (۲)
* * *
هغه چه مخ کا پـه خود کـــا می
پر ې به ور د رو می بـــې آرا مـــی

رند يم او باش يـم عاشق قلاش يـم
اندو ه مـې نشتـه دبد نـــا می
* * *

هغـــه چـه کانـد ی عـز م کشـــی
هغـه بـــه مو می ډېر ې خو شی

خاو ر ې شـــه خاو رې چه ګل له تا کېږی
اور بـه دربل شـــی پـه آ تشـــی

---

(۱) دختګو دتر ی پښې يوه بنځه (کامل) .
(۲) په وچه لمده.

دخوشحال نادرې څلوریزی

دخوشحال (۷۰) نادرې څلوریزې دپښتو ټولنې داولې قلمی نسخې څخه نقل شو ې او دخوشحال درباعیاتو سره یوځای کړی شو ې . دغه څلوریزې نه پ، چا پی دیوانونو کښی راغلې دی او نه په نورو قلمې نسخو کښې، نو ځکه یې یو ډېر نادر سو غات بولو .

الف

جنګ چه سنډا کا هســي يې مړ نــکا
با د خور با تورغوند ي په‌غوټه زوړنه‌کا
دمــا خبــري وا ړه پنــد و نـــه د ی
هو ښیار به و لــی په پندو نو غو ړنه کا

* * *

که خپل بابا و رتـــه نصیحــت پند کا
کو شش دده پــه خوبی هر چنــد کــا
نه يې څــه سو د و ی نه يې فایده وی
نا دا ن په هر څه‌کښې خپل‌ځان‌څرګندکا

* * *

هوښیار چــه ناست وی نادان خبــر ې‌کا
سپی د ی ټمبږی(۱) څو ك دې‌کر ې‌کا
چه څو ك يې نه پو ښتی خا مو ش دې‌اوسی
که هر څــو تو ی تــر خو لې شکرې‌کا

* * *

هوښیار مر غه له بره نــظــر و کـــــا
لو مــه چه و ینی له دا نــې حذر و کا
نا دان مر غو نه لو مــې ته نه ګــو ر ی
دانــه چه ووینی پــه دا نه څرو کـــــا

(ړ)

راشه که ګــو ری و نـــه د د هـــــر
نشو نــما لر ی د سما پـــــه نهـــر
لکــه پیــدا شــی هســې فنــا شـــی
الوا نی پا نــې ، نو شی هـــم ز هر

---

(۱) ټمبدل ، غپېدل او چونګېدل .

«ل»

په مخــه را غله را تــه يــې و خنـــد ل
درو مر جا ن يې را با ند ې و شند ل
ددوا ړ و شو نــډ و بو سه يــې را کړ ه
شهد و شکر ، نبــا ت يــې و غنـــد ل

(و)

څوك چـــه رسوا شی پــه بد و چا رو
پل بــې پر وا ږ د ی پــه بــدو لا ر و
دلیــل يــې دا د ی د کـــم علــقــی
کم عقل خوار دی پـــه دوا ړ ه دا ر و

* * *

بنکاریان په بنکار در ومی په ترنډ وترنډو
غو ښتی د بنکار را و ړی په‌پنډو پنډو
ځینې چه بنکار کا ، لر ی کو لمې مو می
ر وی دار پــه کور مو می بخرې دلنډو

* * *

مرید چه و و زی د پیر له ستــر ګـــو
لکــه چه خو سا شی هو یه دچر ګــو
په تش نــاظر کښې يې هسې نېستی ده
تندر با را ن د ی نــظر د بــز ر ګــو

(ه)

باز چه په قدر د ی لــه خپله رو يـــه
ټپوس چه خوار د ی له خپله خو يــه
که تو ړې خا و ړې و ی قیمت پیــدا کا
چه بهر ه و ا خلـــی د ګــل له بو يه

جـفا چه و ينـی لـــه خپلـــه يا ر ه
لـه بلـه و وينـی جـفـا بسيـــا ره
لږه جفـا يـې لـه ياره ډېره شـــــی
غږ غږ انـد و ه شی و رته تـيـا ر ه

* * *

جهان در ست ډ ك شو له حر صه آ ز ه
جيفـه خواره د ی وا ړه بـې بـــا زه
زاغ و ز غـن د ی کر ګـس کل مر غدی
بنبخ پـه مر دا ر ه هر يو خو لـه وازه

* * *

چه ز ړه يـې يو و ی بلـه يـې ژ بـه
بـلا به تـل و ی با ند ې غـا لبـــه
خپل ځا ن به هېڅ تنـد ر ست و نه وينی
تل به نيو لـی و ی په لو يـه تـبـه

* * *

چېر ته هو س دی چـېر ته عيشو نـــه
په دا قهرو نـه پـــه دا طيشو نـه
وخت د قـيا مت د ی کـــه څه بـلاشوه
زو ی پـلارو نه کا ،سره جيـشو نـــه

* * *

څو دې و جود د ی تـر سر تر پـــا يـه
چه د ې مو ند لـی د ی لـه يو خـدايه
واړه نعـمت د ی کـــه غا فل نه يـــې
هر ځـا ی ته ګـو ره شکر يې وا يـه

* * *

دا هـو مر ه و نـې پـه غر ه پـــه سمه
يـو ه بـه نه و ی لـــــه سـ روسمه
سرو سر کو ز کا ، چـه قد د ې وستايم
زښتيـا و ې يل دی بټر تـر سمـه (۱)

---

(۱) سم = زهر .

دګـــچ و هلـــی محـــل څنبتنـــه
عد ل انصا ف کـړ ه د دا د پو ښـــتنـــه
دمرګ ك ســبلا ب شتـــه چه‌ورته هیڅ‌دی
دګـچ وهلـــی محـل لـــو ښتنـــه

• • •

دنیا مې د پـره تر سر قر با ن کـړ ه
ښکاره مـــې تو ره په درست جها ن‌کړه
پیری چـه را غله تر ك دنیـــا شو م
ځـــوانی مـــې تیر ه په ښه ښه شان‌کړه

• • •

ښځـه چـه ټینګـه و ی په خپلـه تنګه
په خپل پا لنـګ کا نـها لـی رنګه
حـق یـې په ځا ی کـړ دنیکنا مـــی
نور یـې خدای مه کړه نیکنا می ړ نګه

• • •

که څو ك د ې کښـــیږ دی په تندی توره
یا دې لمـــن کا په ز رو پـــو ر ه
که نه پر ې خو بس شـــې نه پر ې دلګیره
ها له عا رف یـې بـــلا د ې دو ر ه

• • •

کـــه دې دا دی ، کـړ ه او و ړ ه
الـــو داع د ځـــا ن و ز ړ ه
د ژو نـد یو ز ړ ه بـــه یو ســـې
لا بـه‌ـ ز ړ ه یو ســې دمـــړ ه

• • •

که هر څو باز لـــر ی غو ټـه مهینـه
په هـمت لږ د ی بیـا تر شـا هینـــه

کـږه پـګړ ی د ې په سر هغه‌کښیږدی
چـــه برا بر ې نیـــز ې و هینـــه

ناز و نیـاز لر ی محـب محبـو بـه
سره بـه مو مـی را غـب مر غو به
څو ك و ر پسې څـی په چا پسې څـی
را شـه که ګـو ري طـا لب مطلوبه

• • •

و ریجـې غنـم د ی پـه غلـه کښې غوره
ګـنه پـه کـار ده غلـه یکـسره
ما در تـه و و یل د لیـل یې تاز ده
چـه پر ې پو هیږ ې باند ې دره(۱)

• • •

هغه چه مست دی دحـق لـه جا مه
هغـه آزاد دی لـه هـر ه دا مـه
مقصو د یې حـق دی و ر تـه یکسانه
کعبـه کـه دیر دوا ړه مقا مـه

(ی)

بـې ځایه نـاز د یـار ی زوا ل د ی
بی وخته راز د صو رت و بـا ل د ی
دزورورو اد ب پـه ځـا ی لـر ه
یاری د ې و لا ړ ه که دې پرې خیال د ی

• • •

تـل تـل ګـلو نـه آ ب رو ا ن و ی
بنـې بنـې دلبر ې شراب تر میا ن و ی
زو ړ یـې دننـه پـه ز ړ ه کښې رنځ وی
تـل دد لبـر و د پـا ر ه ځوان و ی

---

(۱) بنایی معنی یې دریږه وی .

جهان یـو بحر و رطو (۱) نه سازدی
کا مل پـه مثل لکـه آ ب بـــاز د ی
وپر ه د ي نه کـــا په دا در یـــا ب کښي
چـه آ ب بـاز ه ســر ه امبـــاز د ی

* * *

چه زړونـــه ډبـر لر ی که دي پسر د ی
پسر یـي مه بو لـه چه کوس مادردی
دښځـو زړو نه په ګـو ګـل کښي ډبردی
دمر دیو ز ړ ه دی یو یـي ذکردی

* * *

دا رو دد ر دد ی رخ ور د (۲) د ی
دده ر خ ور دد ی دا رو ډ در د د ی

د ا دي ر خزر د د ی د ل دا د ه وا ړه
دل دا د ه وا ړ ه دا دی رخ زر د د ی

* * *

دو لت د فقـر عـجب دو لـــت د ی
دخدای پـــه فضل پـــه عنا یـت د ی

فقـر هغـه د ي چـه په اختیـــار د ی
پـه اضطرار کښي فقـر آفـت د ی

* * *

که بد خو یـی کا صا یـم معـذ و ر دی
لګـه صا یم د ی هسی رنځـور د ی

در یـم د ر و نـیـم ستړ ی د لا ر ي
که بـد خویـي کاپـه دا دستور دی

---

(۱) ورطه ، عربی کلمه ده دغر قبدو او ډو ببدو ځای .

(۲) سورګل .

کـه رسـید لـی و مـا تـه در د د ی
دهیـز لـه لا سـه خه آ ه سر د د ی
کـه مر د د لاند ی و ی بنـځـه دپاسه‌وی
پـه دوا ړ ه تو کـه ظفر دمـرد د ی

* * *

لیده پـه ستر ګـو نشـی کلیـم د ی
راسره هر کلـه مو نس نـد یـم د ی
هغـه خبر ې پخپـل بیا ض کښیـم
چه یـې تو تـا غو ند ې را ته تعلیم‌دی

* * *

هیڅو ك دمښکو د عنبـر ساز نـه د ی
په سل په‌دو ه سوه‌سره ممتازنه‌دی
له کومه راشـی ددو لت یو ستو ری
پر ې سر فراز شی که سر فراز نه د ی

* * *

(ې)

بیا مـی شکـر په کو ډ ی کشید ی
مینـه په شپه یـې د راز چشیـد ی
دریم څو پایم ستر ګـی ستا ستـا یـم
کسی په خو ب کښې پسی پر یـد ی

* * *

په پنـډ پنـډ خیر ی پر ې ننو ځـی
څو ك بـه د ز ړو نو سو ړ ې‌پرانیځی
دوه بـه و نـه و ینی سر ه پیـلـی
دخلقـو ز ړو نـه پـه یـوه مـز ی

---

(۱) ددې رباعی دپاسه لیکل شوی‌دی‌چه په پارسی‌هم‌لوسته شی، مګر خوڅکی پکښې فارسی دی لکه کشیدی ،چشیدی، پریدی .

په تو رو خا و رو کښې که گو هرپراته‌وی
په خوا رو ستر گو و رته کا ته وی
په دا کم نه شی د گو هرو قدر
دپو هو ستر گو باند ې واته (۱) وی

• • •

په څو څو رنگه بنی آ دم د ی
پیدا په قدر سر ه زیا ت وکم دی
څینې انسان دی څینې د دا ن د ی
څینې له خرو نو له سپیوسم‌دی

• • •

چه تل او ده و ی هغه به مړه‌وی
چه خو ب یې نه وی هغه به نه و ی
تر منځ ددوا ړ و هر څو ك روزگارکا
نه څو ك تل و یښ وی‌نه تل‌اوده‌وی

• • •

خانی په چا بنا یی چه ډېر تور زن‌وی
بخښل خور و ل کا په نام مین و ی

نه هر زه کا رو ی نه بد گفتار و ی
بنه به د هر چا پر ې مبرهن و ی

• • •

خواږه دمن د ی که گبینی د ی
که کور، که نخل که خوږ گنی دی

دا وا ړ ه دا ل د ی دحق په شنا خت‌کښې
چه فکر نه کا څه لېو نی د ی

---

(۱) بنایی واته دباور په معنی وی څکه چه وتنه په دغه معنی په ادب کښې ډېره (واته وتنه) دواړه دحاصل مصدر شکلونه دی .

دانـــا کسا ن د پ و ګـړ ی کســی
دغر ه و او ر تــه لا سو نــه نــهســی
در چــه پــه سپینــو په سرو مو ند ل‌شی
دی یــې پــه تو رو پیسو را نیســی

• • •

ددرد دو ا د پ پـــه ر نځور نن شـــی
ګاند ه یــې څــه کا چــه دکفــن شـــی
درد منــد په حال د رد منـــد خبر وی
زه به دعاکړم چه بې درد ، دردمن‌شی

• • •

ددنیــا خونــې بـــه واړ ه میراتې شی
دولت کـــه ډیر شـــی واړه‌به پاتې‌شی
چـــه لېــچور شـــی ظلم پــه لاس واخلی
دده د ظلم لېچــې د پ ما تــې شـــی

• • •

دما پــه غــم چــه ښادی کــا نــد ی
یــا سېز ی او ر لګی پر پ لاند پ‌باندې
دما پـــه دواړو تـــپــو پیـــغام دی
چه خا ند ی ژا ړ ی چه ژاړی خا ند ی

• • •

زوی نمسی زېږ ی نمسی پردی زېــږی
بیا یــې که ګو رې په څه بد ی زېږی
وخت دقیا مــت را غی کــه څــه‌بــلاشوه
چــه دسړ یو نــه بدرنګــی سپی زېږی

• • •

سخ د هغــو دی چــه قنا عــت لـــر ی
چه قنا عت لر ی وا ړه دولت لـــر ی

په دا خبــر ه هر څو ك خبـــر د ی
چــه صبر نــه لر ی کله حکمت‌لری

عاشـــق دي هر کله مســـت وشيدا و ی
په لپو نتو ب کښې دي په ملك رسواوی
په هو ښيار ی کښی اندو ه غمو نه وی
چه مست شـــی کله له چا پـــروا و ی

* * *

غا فل بـــــه هيچير ي لـــه خو به مو نه شی
عمر بـــه داو ی خو پکښې زو ر نه شی
هغـــه کا رو نـــه چـــه د بيدارانو د ی
هغـــو کا رو نـــو و تـــه به جو ر نه شی

* * *

غا فل چه هســـي بيهـــو ده غور ځـــی
لکه چه غور ځی هســـي بـــــه پر ځی
په مغـــز خبر نه شو په مثـــل سپر ه دی
دپو ست د کښيـــه د پا ســـه ګـــر ځی

* * *

قلـــم چـــه نيسی پـــه ګـــوتو دپر د ی
دقلمو نـــو وهـــل پـــه پـــپـــر د ی
ځينـــي کو نجکـــي د ی ځينـــي مشکنی
ځيني تـــر لا لـــو تر د رو تـــپر د ی

* * *

کـــه تـــ پـــدو نی کـــه پر پـــو تو نـــی
که څو ك ښـــه يو نی که څوك بديو نی
چه په صراط بـــــه ګانده تـــپر پـــز ی
هغـــه نـــن وينـــی واړه لـــيدو نـــی

* * *

می کـــه حرام دی ګوره چـــه څوك يې خوری
له چا خو ړ ل شـــی بهره تري خومره وري

چه ښه تحقيق کـــا دا دوه دري شرطه
هغـــه چه می نه خو ری په غم کښې مری

نېك خواه به ستا په خو ښې خوشحالوی
بد خواه به ستا په ښادۍ ملا ل و ی
ته په دا د وا ړ ه توکه نظر لر ه
که دې څه عقل څه استد لال و ی

* * *

وکا ئنا ت و ته چه نندا ره شی
عجب کا ر ونه پکښې ښکا ره شی
ډېر خو ښې له ځانه وی چه هیڅ کاره شی
ډېر ناکنلی وی چه په شماره شی

* * *

هورته چه مینه و ی مهر و فا و ی
ور سره هو مره جو رو جفا و ی
دا دو د نن نه د ی قدیم دکښلیودی
چه هم یې مخ و ی هم یې قفاو ی

* * *

هو ښیار هغه د ی چه په غم کښې ښادوی
دیو ه عسر دوه یسره یا دو ی
صبر د ې و کا فر ح به بیا مو مې
نا حق په غم کښې څو ک په فریا دوی

* * *

هوښیار هغه دی چه ډېر دوستا ن لری
په دښمنا نو باند ې احسا ن لر ی
دښمن دې دو ست کا، دوست دې دښمن نه کا
خو ږ دې د هر چا سر ه زبا ن لری

* * *

هغه چه ز ه و ینم هر څو ک یې نه وینی
ړانده به با غ دګلو نو څه وینی

څار یې تر ستر ګو عجب لیدو نی دی
چه نظر و کا د ننه ز ړ ه و ینی

هغـه شیخـی کړه چـه رندا نـه و ی
نه چـه ز بـو نـه چـه کنـدا نه و ی
کار پـه فتـوا کړه تو ر ه تر مـلا کړه
ګـتې د تـو ر ي شـهندانـه (۱) و ی

* * *

(ي)

توري بـلا لـر ي تـو ر ي عینـینـي
تور اژ دهـا لـر ي تـو ر ي زلفینـي
دما پـه ز ړه و ه چه خو ب به څو کـا
چـه دا بـلا د ی ور باند ي تـینـي

* * *

چه دواړه ستـر ګـي په رنجو تو ري کړي
سره نمری(۲) واغوند ي، زلفي نسکوری کړي

هم سر ي لمبـی شی هم تو ر لـوګی شی
بابا دي ومره ، یو اور را پوري کړي

* * *

چـه مبتـلا شـی پـه مـه جبینـي
هو مر ه خوار پـزی په خپلي مینـي

قیس مجنـو ن نه ؤ لیلـی مجنون کړ
په کوهکن وکړ ي شنـد ي شپر ینـي

* * *

سیـا لـی له مر ده مه کړ ه ته بنـځي
یو کار د تـو ري دی بـل د تبنځـي

اس بـه غله خو ر ی تـه به بیـا غول‌خوري
خره داس نه که پـه دو تـه بنه ځـي

---

(۱) دشیندی او شاهین په شا ن
(۲) جامی او لباس .

صوفـــی کافر دی پـــه خپل پنـــدار کښې
مـــلا ملحد د ی د حـــق پـــه کار کښـــې
څار تر رنـــدا نـــو چه مخ څـــټ یو لر ی
یك رنګ و لا ړ د ی په هره چـــار کښې

* * *

ګـــو ره چـــه کیږ ی په خوشحال شندې
او به په څنګ کښې مر ګ یې له تندې
له چا بـــه څـــه لر ه ما نـــه ګلـــه کـــا
خود یـــې په څا ن وکړ ی دا رنګ ناپسندې

* * *

که فرج خوند ی کا خوندی کا عینی
نظر یـــې تـــل و ی پـــه شفـــتینـــې

نور یې هـــم دین شو هم یې دنیا شوه
بـــلا به نـــه شـــی پـــه ښځـــې تینـــې

* * *

ی

څو ك چـــه دو لت لر ی دتند رستـــی
نا حق بـــه ژا ړ ی د تنګـــد ستـــی

دتند رستـــی دو لـــت عطـــا د ی
ور تـــه بـــه نه رسی نو ری هستی

* * *

دمیو ر ســـر ګـــو ر ه یـــا یـــې لکـــی
کښبلـــې یـــې ښه غا ړه ښې ښې ټکـــی

کـــه پښې ښـــې نـــه لـــری نظر پرې مه کړه
یو یوپـــه مـــخ و ړ ی ډ پـــرې نیکـــی

«الف»

دخوشحال څلوريزی

خوشحال ختك په منلی پول دپښتو شاعری اوپښتو ادب پلار بلل شوی دی او داځکه چه نه بل چا دده هو مره پراخه شاعری کړې ده اونه يې دده په اندازه شعرونه ويلی دی .

دده داشعارو کلیات څلوپښت زرو بیتونو ته رسیږی اودمعلومو کتابونو شمیر يې (۱۲) ټوګه دی چه هرکتاب يې په خپل خپل ځای‌دمعنی اولفظ دواړو له حیثه پوره ارزښت لری .

دخوشحال داشعارو کلیات په کندهار کښې دښاغلی حبیبی له خوا او په پیښور کښې دښاغلی کامل اورساله خوا چاپ شوی دی مګر غلطی اونارسایی پکښې زیاتی دی. دپښتوټولنې نیت داؤ چه دخوشحال کلیات دقلمی نسخو دژورې مقابلی نه وروسته چاپ کړی او دغه لوړادبی سوغات پښتنی دنیا ته وړاندې کړی. مګر دغه درونده کار دډیر وخت او زیات زحمت غږښته ،له دغه کبله مو اراده وکړه چه سملاسی دخوشحال د ۲۹۰تلین دنمانځنی دپاره یوازې ددې رباعیات چاپ کړو. دخوشحال درباعیاتو دنقلولوکار په اول ځل دادبیاتو په څانګه کښې د ښاغلی محمد اسمعیل سهرین له خوا سرته ورسید ، پس له هغه دښاغلی بختانی، ځدران ،سهرین ، حبیب الله اپریدی او شاه ولی صافی له خوا دنورو چاپی اوقلمی نسخو سره مقابله شو او بیا دښاغلی حفیظ الله او سهرین له خوا پاکنویس کړی شو .

په پښتو ټولنه کښې **دخوشحال** ددیوان‌دري‌قلمي‌نسخی اودري چاپی نسخی موجودی دی چه په لاندې ډول ښودل کیږی :

۱ــ لومړی قلمی نسخه دخوشحال په ژوند په ۱۰۹۹ هـ کال په جانه‌کوړ کښې چه دآدم خیلو اپریدو په علاقه کښې یوځای دی لیکل شوې ده

۲ــ دوهمه قلمی نسخه هم ډیره پخوانی ده خو تاریخ يې

نه معلومیږی .

۳ــ دریمه قلمی نسخه هم زړه او پخوانۍ ده . خو تاریخ او دسر او آخر پاڼې نه لری .

دغه درې اړه قلمي نسخې په پاڼه نستعلیق خط دختکو دکورنۍ په خاص لیك دو دلیګل شوی دی . په دغه لیك دود کښې دپښتو دهر دزوند توری دپاسه وړوکې همزه(ء) لیکل کیږی .

د خوشحال دکلیاتو چاپی نسخې دادی :

۱ــ لومړۍ چاپی نسخه په ۱۳۱٦ش کال دښاغلی عبدالحي حبیبی له خوا په کندهار کښې چاپ شوی‌ده .

۲ــ بله چاپې نسخه دښاغلي دوست محمدکامل لـه خوا پـه ۱۹۵۲ع کال په پېښور کښې چاپ شوی‌ده .

۳ــ دریمه چاپی نسخه دښاغلي سید رسول رسالـه خواپـه ۱۹٦٤ع کال په پېښور کښې چاپ شوې ده .

ددغو ټولو نسخو سره دخوشحال درباعیاتو دمقابلې کار که څه هم دري میاشتې وخت ونیو ، مګر دقلمی نسخو دلیك دود دسختیا پـه وجه دېر ځایونه پکښې ناسم پاتې شوی وو په دغه وجه له قلمی نسخو سره دبیا مقابلې ضرورت پیدا شو او ماپه خپله دمحمد اسمعیل سربن شاه ولی صافی ، شاه دوله او بینا په مرسته په دغه کار لاس پورې کړ . دمقابلې په منځ کښې داخبره څرګنده شوه چه دېر ځایونه پکښې ناسم پاتی شوی دی .

که څه هم دقلمي نسخو دمقابلې کار یو درونده کار دی خومونږ دلوی خدای په مرسته په دوو هفتو کښې دغه ګران‌کار سرته ورساوه، (۱٦۰٤) رباعي‌ګانی مو ولوستلی او ناسمی رباعي‌ګانی مو په دېر غور سره مقابله او دقلمی نسخو له مخه سمې کړې .

په دې مقابله کښې دپښتو ټولـنې له دوهمـی او دریمی قلمـی نسخې څخه‌زیاته ګټه اخستل شوې‌ده او اولی قلمی نسخی‌ته د ضرورت په وخت کښې رجوع شوې ده . ددرې اړو قلمـی نسخو سم او صحیـح متنونه په لمن لیك (پاورقی)کښې راوړل شوی‌دی او ځینی نا اشنا او مبهم

لغتړنه هم پکښې حل شوی‌دی .
اوس غواړو چه دچاپی نسخې د غلطۍ او د قلمي نسخو له مخه‌درسا شوو څلوریز و ځې مثالو نه راوړو.

تروزی په مکر مزری پـــه زور دم
غازی په توره د شپه په لـــوړ زده

په دې بیت کښې (دشپه) کلمه په دواړو چاپی نسخو کښې غلطه ده چه په قلمی نسخو کښې(وښپه) راغلی ده . وښپه هغه چا ته وایی چه دوښو او ګیاراوږلو کسب کار کوی لکه خسبه ، لر ګبه او نور .

مغل کمزور ی غلیم په رحم دی
کله یې زړه دی چه پښتون‌نښه‌شی

په اول سر کښې د (په‌زحم) په ځای په قلمی نسخوکښې(بې‌زحم) راغلی دی چه معنی یې په‌دغه‌صورت کښې سمه راځی .
چینه جیحون نه ده ، غرنۍ به غرنه شی
شمع‌قمرنه ده ســـهـــا بـــه لمر نه شی

په دغه بیت کښې د (چینه) کلمه غلطه ده او په قلمي‌نسخو‌کښې (چیندی) دی چه په اشنغر کښـــې دیو سیند نوم دی .
دغسی نور هم دچاپی نسخو دیر غلط مثالونه موجود دی چه د قلمی نسخو له مخه سم شوی دی خومونږ دلنډیز دپاره دغه درې مثالـو نـــه وښودل .

دخوشحال ربا عیا ت په چا پی نسخو کښې (۱۶۰۴) ته رسیږی .
مګر مونږ داولې قلمی نسخی له‌مخه (۷۰) نورې څلوریزی هم په‌آخرکښې ور زیاتې کړې : چه دغه څلوریزی په نورو قلمی نسخو کښې‌هم‌نشته‌او په چاپی نسخو کښې‌هم‌نه‌دی‌راغلی.
په دې حساب دټولو رباعیا تو شمیر (۱۶۷۴) ته رسیږی .

نو دادی پښتو تو لـنه په ډیر ویاړ دغـه وړوکی ادبی سو غـات دخوشحال د (۲۹۰) تلین دنمانځنی به یاد د پښتو او پښتونولی ژبښتینو مینانو ته په ډیره مینه وړاندې کوی او له پاک خدای نه دستر وا کمـن اعلیحضرت محمد ظاهر شاه پـه نیکمرغه دوره کښې د پښتو ژبی او پښتو ادب زیات پرمخ تک اولوړتیا غواړی !!

زه په آخر کښې له ښاغلی معتمد شینوا ری او ښـاغلـی محمد شیرین «سنګری» خوږیانـی څخه هم تشکر کوم چه دغې کتاب په تصحیح او اهتمام کښې یې ډیر زیار ویستلی دی .

پوهاند «رشتین» د پښتوټولنې مشر

زمری ـ ۱۳۴۹ ش

PROPERTY OF PACKU 1677



KHUSHAL'S

RUBAIIAT

PASHTO

ACADEMY

1970

Government Printing Press

دولتی مطبعه